دَ ختمِ نبوت په موضوع ليکلې شوې 150 نظمونه
دَ کتاب نوم ....... نظمونه ملغلرے يعنې

# دَ ختمِ نبوت
# نظمونه

تصنيف

**مولانا احمدعلي مرداني**
فاضل جامعة العلوم الاسلاميہ علامہ محمد یوسف بنوریؒ ٹاؤن کراچی

Ketabton.com

دَ ملاؤ ويدلو پته
**اسلامي ادبي ټولنه مردان**
خیبر پختونخوا پاکستان 0312-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

وصلّی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

# حمد باری تعالیٰ

یو اللّٰه دَپاره په جهان ټول تعریفونه دی
غواړه له هغۀ نه دَ هغۀ ښکلي نومونه دی
مدحه صفت کړی دَ رحمٰن
هر یو ځیز دلته دَ جهان
مخلوقات بره دَ آسمان
انسان، حیوان دے ثناخوان
په خپل انداز سره هر ځیز کړی حمدونه دی
یو اللّٰه دَ پاره هر طرف ته تعریفونه دی
ثنا صفت شجر، حجر کړی
مدحه مخلوق دلر او بر کړی
غریب، نواب هر یو افسر کړی
مدحه باچا سره لښکر کړی
هرچا ته معلومه په دي باندي اجرونه دی
یو اللّٰه دَ پاره هر طرف ته تعریفونه دی
ذرۀ ذرّه ده مدح خوان
دَ خپل مالك په هر مکان
صفت کوی دَ پاك سبحان



بیانوی دَ مولیٰ شان
ملګری دَلر او بر ورسره ټول ځیزونه دی
یو اللّٰه دَ پاره هر طرف ته تعریفونه دی
مارغان تمام دا عبادت کړی
په شوق سره مدحه صفت کړی
مدحه دَ پاك ربُّ العزت کړی
کار معزّزه هر ساعت کړی
پټ پټ مدح خوان چمنونه دی ګلونه دی
یو اللّٰه دَ پاره هر طرف ته تعریفونه دی
قائم ورسره دا دُنیا ده
مدحه صفت سره ښُکلا ده
مدحه دَ ربّ رښا رښا ده
دَ هر محل حُسن ښُکلا ده
خوندنه ډك تمام دَمولیٰ ټول عبادتونه دی
یو اللّٰه دَ پاره هر طرف ته تعریفونه دی
مدحه احمدعلی بار بار کړی
صفت دَ ربّ پروردیګار کړی
په پټه پټه هم په جار کړی
دَ خپلي میني نن اظهار کړی
ګواهي دَ پاره دا تمام ښکلی شعرونه دی
یو اللّٰه دَ پاره هر طرف ته تعریفونه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَختمِ نبوت کار.........نظم نمبر 01

دَنبوت ختمه په دُنیا کښې سلسله شوله
پوره په حضور ﷺ سره تمامه هر وعده شوله
ختمه سلسله دَنبوت شوه په حضور ﷺ سره
ختمه سلسله دَرسالت شوله په نُور ﷺ سره
پوره دَنبیانو ،رسولانو ګلدسته شوله
دَنبوت ختمه په دُنیا کښې سلسله شوله
آخیری رسول راغے په ټولو مُرسلانو ﷺ کښې
نبی آخیری ﷺ راغے دُنیا ته په نبیانو کښې
دَمولیٰ مخلوق سره وعده هریو پوره شوله
دَنبوت ختمه په دُنیا کښې سلسله شوله
آخیری نبی سره ،دا آخیری اُمت تمام
اُمتونو کښې لری بالا جُدا اُوچت مقام
بنده ښهٔ پوره پوره تمامه دروازه شوله
دَنبوت ختمه په دُنیا کښې سلسله شوله
څوك چې مُدعی شو ددې هغه به کذاب وی
هغه په محشر کښې مستحق به دَعذاب وی
ښه پوره واضحه هر بشر ته مسئله شوله
دَنبوت ختمه په دُنیا کښې سلسله شوله
سورتِ احزاب کښې عقیده ده حق کتاب کښې
منکران ددې به وی هرخواته په عذاب کښې



ښهٔ پوره پوره دَاسلام هریوه حصه شوله
دَنبوت ختمه په دُنیا کښې سلسله شوله
دې سره هرخواته حفاظت د دین اسلام دے
دې سره محفوظ کتاب اللّٰه دے حق کلام دے
ستا په دې یقین دے ، ستا احمده ! عقیده شوله
دَنبوت ختمه په دُنیا کښې سلسله شوله

## دَختمِ نبوت کار.........نظم نمبر 02

ختمِ نبوت سره چې مینه په دُنیا لری
هغه دَفلاح سامان پوره پوره اعلا لری
لرے ناکامې نه هرطرف ته په جهان دے
ورسره قائم په دې دُنیا امن وامان دے
ډیر فضیلتونه لری یو په کښې هم دا لری
ختمِ نبوت سره چې مینه په دُنیا لری
مینه ددې کار سره پکار په لراوبر ده
مینه ددې کار سره پکار ښهٔ برابر ده
مینه چې هم دا لری هغه نُور او رڼا لری
ختمِ نبوت سره چې مینه په دُنیا لری
زړونو ته سکون ورکوی دلته په هردر دا
زړونو ته سکون ورکوی دلته برابر دا
تل دَلاعلاجه مرضونو هم دوا لری
ختمِ نبوت سره چې مینه په دُنیا لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دَ صالحانو طریقه شیوه دُنیا کښې ده
دا دَ عالمانو طریقه شیوه دُنیا کښې ده
په دې سره دلته دَ نیکانو اقتدا لری
ختمِ نبوت سره چې مینه په دُنیا لری
ختمِ نبوت سره محفوظ دینِ اسلام دے
ختمِ نبوت سره محفوظ دَ ربّ کلام دے
ډیر زیات دلیلونه دَ اثبات ښهٔ له پخوا لری
ختمِ نبوت سره چې مینه په دُنیا لری
اجماع دَ امت احمده ! دې باندې قائم ده
کار سره دَ ختمِ نبوت مینه لازم ده
داسې پاکه ښکلې عقیده ټول علماء لری
ختمِ نبوت سره چې مینه په دُنیا لری
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## خاتم الانبیاء ﷺ.........نظم نمبر 03

خاتم الانبیاء ﷺ دے زمونږه نبی ﷺ
دعویدار دَ ایمان خامخا دا منی
بنده دوی سره ده سلسله دَ رُسُلْ
مکمل ورسره ګلدسته دَ رُسُل
دا خبر یقینی ، دا خبر ښهٔ قوی
دعویدار دَ ایمان خامخا دا منی
په قرآن کښې په جار شوې دغه اعلان



په قرآن کښې په جار شوې دغه بیان
دا منل دی پوره دلته کښې لازمی
دعویدار دَ ایمان خامخا دا منی
سَل اٰیاته په دې دلته کښې دی ګواه
نهٔ شے نهٔ شے له حق نه منکر او ګمراه
دا خبر ډیر حسین ، دا خبر مطلبی
دعویدار دَ ایمان خامخا دا منی
دوه سوه ورسره حدیثونه تمام
ښه قوی ، ښهٔ مضبوط دلیلونه تمام
داسې وائی په دُنیا کښې هر یو ولی
دعویدار دَ ایمان خامخا دا منی
ټول امت مُتّحد په دې دلته تمام
جماعت مُتّحد په دې دلته مدام
بهترینه په دې دَ احمد شاعری
دعویدار دَ ایمان خامخا دا منی
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## اهمیت دَ عقیدهٔ ختمِ نبوت..نظم نمبر 04

قرآن ښکاره دلیل زما او ستا دَ پاره دے
دَ ختمِ نبوت دَ حق وینا دَ پاره دے
بار بار په کښې بیان ده مسئله دا په جهان
په جار په کښې بیان ده عقیده دَ مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلے حق کلام ټولي دُنيا دَ پاره دے
قرآن ښکاره رهبر زما او ستا دَ پاره دے
احزاب سورت په دي خبره دلته دے شاهد
کتاب سورت په دي خبره دلته دے شاهد
کتاب دلته راغلے اقتدا دَ پاره دے
قرآن ښکاره رهبر زما او ستا دَ پاره دے
دوه سوه آياتونه دليلونه دی تمام
واضحه تفسيرونه کتابونه دی تمام
پټ نۀ دے هر دليل په کښي هر چا دَ پاره دے
قرآن ښکاره رهبر زما او ستا دَ پاره دے
احمده ! په دي دلته کښي مدام لرم يقين
دليل په دليلونو کښي قوی دے بهترين
دفاع له هر دليل دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
قرآن ښکاره رهبر زما او ستا دَ پاره دے
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَختمِ نبوت نعره.........نظم نمبر 05

دَ ختمِ نبوت دَ زنده باد به تل نعره وی
په دي سره به دلته کښي شيطان درنه خفه وی
پکار ده چي دَ هر چا وی په ژبه دا بيان
پکار ده چي د هر چا وی په ژبه دا اعلان
دا کار چي دلته کښي زمونږ دَ ژوند برخه حصه وی



په دي سره به دلته کښي شيطان درنه خفه وی
بُنيادَ دَ شريعت زمونږ دَ ټولو دَ ايمان
رنړا دَ هدايت په هر طرف دَ هر انسان
په دي سره واضحه ښۀ ښکاره به عقيده وی
په دي سره به دلته کښي شيطان درنه خفه وی
په دي سره محفوظه دَ اسلام دے عمارت
محفوظ پوره پوره ټول تمام دے عمارت
بيان چي بار بار دلته دا اهمه مسئله وی
په دي سره به دلته کښي شيطان درنه خفه وی
دَ دين دَ شريعت دفاع ده کړے صالحانو
دَ ختمِ نبوت دفاع ده کړے عالمانو
د داسي خلقو هريو خبره ښۀ درنه وی
په دي سره به دلته کښي شيطان درنه خفه وی
اغيار دي وی خبر له دي خبري نه تمام
کفار دي وی خبر له دي خبري نه تمام
خبر دي هريو ښار، کلي ، هريوه محله وی
په دي سره به دلته کښي شيطان درنه خفه وی
په دي سره هر خواته مؤمنان وی په راحت
هر خواته کشران او مشران وی په راحت
راحت هله وی دلته کښي خبره چي خوږه وی
په دي سره به دلته کښي شيطان درنه خفه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو او لویو تولو ته په جار وایمه دلته
احمدعلی! همځولو ته بار بار وایمه دلته
اُمید لرم محشر کښي دَ فلاح به ذریعه وی
په دي سره به دلته کښي شيطان درنه خفه وی
دَ ختمِ نبوت دَ زنده باد به تل نعره وی
په دي سره به دلته کښي شيطان درنه خفه وی

## دَختمِ نبوت عقیدهٔ ....نظم نمبر 06

مَل تاسره دَ ختمِ نبوت چي عقیده وی
محشر کښي به ستا تله دَ نیکو هله درنه وی
محشر کښي به راضی درنه مولا ددي جهان وی
محشر کښي به راضی درنه مالك غنی سبحان وی
هله به نورانی دي مکمَله دا سینه وی
محشر کښي به ستا تله دَ نیکو ډیره درنه وی
راضی به درنه وی دَ مُرسلانو تاجدار ﷺ
راضی به درنه وی خیر الوریٰ، خیر الابرار ﷺ
کله چي برابره په سنت ستا طریقه وی
محشر کښي به ستا تله دَ نیکو هله درنه وی
دفاع چي دَ نبی ﷺ کوے دلته په هر قدم
دفاع چي دَ نبی ﷺ کوے هرخواته په عالَم
خوښ دلته کښي هرخواته ستا تمام چي صحابهٔ وی
محشر کښي به ستا تله دَ نیکو هله درنه وی



دَ شرك او دَ بدعت نه لرے لرے په جهان ئي
احمده! لرے لرے له شيطان نه چي روان ئي
په لاسو کښي به هله ستا حسينه ګلدسته وی
محشر کښي به ستا تله دَ نیکو ډیره درنه وی
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَ عقيدي تحفظ........نظم نمبر 07

لازم دَ شریعت دَ هر حصي دے تَحَفُّظ
دَ ختمِ نبوت دَ عقیدي دے تَحَفُّظ
قربان شه زما تن بدن له دغي عقیدي نه
قربان شه زما تن بدن د دین هري حصي نه
لازم په مونږ دَ هریو مسئلي دے تَحَفُّظ
لازم دَ شریعت دَ هر حصي دے تَحَفُّظ
پکار دے دا خدمت هریو بشر لره په جار
اغیارو نه پکار دَ براءت دے تل اظهار
پکار دَ شریعت دَ هر چیني دے تَحَفُّظ
لازم دَ شریعت دَ هر حصي دے تَحَفُّظ
واړه او لوئي دي تل کوی په جار دَ دین دفاع
ثابته له قرآن نه، له حدیث نه، له اجماع
د دین دَ شریعت دَ فیصلي دے تَحَفُّظ
لازم دَ شریعت دَ هر حصي دے تَحَفُّظ
احمدعلی په شوق سره مدام کړی دا عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل نبی ﷺ پسے پوره پوره کوی به تلل
دَ خپل نبی ﷺ مدام دَ طريقې دے تَحَفُّظ
لازم دَ شريعت دَ هر حصې دے تَحَفُّظ
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## ختمِ نبوت سره مينه.....نظم نمبر 08

دَ ختمِ نبوت سره چې مينه په سينه وی
هله به شيطانان درنه دُنيا کښې ټول خفه وی
هله به مستحق دَ جنتونو ټولو تۀ ئې
هله به مستحق دَ نعمتونو ټولو تۀ ئې
خبره هريوه چې ستا په ژوند کښې کله ښه وی
دفاع ته چې ولاړ دَ شريعت دَ پاره تۀ ئې
دفاع ته چې ولاړ دَ پاك حضرت ﷺ دَ پاره تۀ ئې
نصيب کښې به دې دلته په هرموړ ګټه هله وی
دَ ختمِ نبوت دفاع ته تل چې ئې تيار
دَ ختمِ نبوت چې ددفاع کوی ګفتار
خبره به دې هله هم خوږه وی هم درنه وی
هله به شيطانان درسره دلته کښې په جنګ وی
کار دلته کښې دَ ختمِ نبوت چې ستا په څنګ وی
هله به خوشبوداره دې دَ تن بدن خوله وی
هله به په ژوندون کښې خوشحالی راځی ستا خواله
هله به ټول آثار دَ پسرلی راځی ستا خواله



په ژوند کښې چې دَ پاك نبی ﷺ حسينه طريقه وی
تبليغ چې کړے دَ حق خبرے بل ته په جهان
په دې سره دُنيا کښې خفه کيږی شيطانان
هميشه حق خبره به احمده ! ستا په خُله وی
شيطان باندې خفګان وی چې دَ حق چې کَلِمَه وی
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## څوك نۀ منم؟.........نظم نمبر 09

منکر دَ ختمِ نبوت نۀ منم
دوستې دۀ سره محبت نۀ منم
دښمن دَ دين دَ شريعت هغه دے
دښمن دَ ختمِ نبوت هغه دے
داسې باغې سره صحبت نۀ منم
منکر دَ ختمِ نبوت نۀ منم
دښمن دَ سيّدالورىٰ ﷺ دے په جار
دښمن زما دَ خوږ آقا ﷺ دے په جار
ورسره ناسته هر ساعت نۀ منم
منکر دَ ختمِ نبوت نۀ منم
منکر دَ حق کتاب قرآن دلته دے
دښمن پوره دَ مسلمان دلته دے
د دوی يارى په يَو قيمت نۀ منم
منکر دَ ختمِ نبوت نۀ منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول منکران دی شيطانان په جمع
ټول منکران غلط روان په جمع
دَشيطانانو شيطانت نۀ منم
منکر دَ ختمِ نبوت نۀ منم

ددوی نه دلته کښې نفرت کوُمه
اظهار مدام دَعداوت کوُمه
دښمن د حق دَ حقيقت نه منم
منکر دَ ختمِ نبوت نۀ منم

په جار وينا دا دَ احمدعلی ده
بار بار وينا دا دَ احمدعلی ده
دداسې خلقو اطاعت نه منم
منکر دَ ختمِ نبوت نۀ منم

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## سبق دَ ختمِ نبوت.......نظم نمبر 10

دَ ختمِ نبوت سبق هرچا دَ پاره دے
راغلے محمد ﷺ ټولې دُنيا دَ پاره دے

دُنيا کښې دَ هر قوم دَقبيلې کامل رهبر
آخر کښې په نبيانو کښې راغلے پيغمبر ﷺ
رهبر دَ هر بشر رهبر زما دَ پاره دے
راغلے محمد ﷺ ټولې دُنيا دَ پاره دے

خبر له دې نه ټول شے اے ملګرو! دَ جهان



لوستلې خامخا به تاسو وی دَ ربّ قرآن
خاتم صفت سره دَ انبياء دَ پاره دے
راغلے محمد ﷺ ټولې دُنيا دَ پاره دے

ګواه تفسير ددې خبرې سل دی آياتونه
راواخله مسلمانه! معتبر ټول کتابونه
سبق دا دَ خوروُلو علماء دَ پاره دے
راغلے محمد ﷺ ټولې دُنيا دَ پاره دے

اَنا خَاتَمُ النبيين ، فرمان دَ محمد ﷺ
واضحه ښۀ ښکاره پوره بيان دَ محمد ﷺ
سبق کلك د يادولو دَ رڼا دَ پاره دے
راغلے محمد ﷺ ټولې دُنيا دَ پاره دے

ګواه ددې خبرې دَ نبی ﷺ دی حديثونه
ګواه په دې خبره ښۀ قوی دی دليلونه
دفاع هريو بيان خير الورئ ﷺ دَ پاره دے
راغلے محمد ﷺ ټولې دُنيا دَ پاره دے

اجماع په دې ګواه اول اجماع ددې اُمت
احمده! هم په دې سره ددين دے حفاظت
سبق مدام ددين، ايمان بقا دَ پاره دے
راغلے محمد ﷺ ټولې دُنيا دَ پاره دے

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کار دَ ختمِ نبوت........نظم نمبر 11

کار دے عظیم مدام دَ ختمِ نبوت والا
دا عقیده ده خوشبوداره پاك حضرت ﷺ والا
دا داصحابوؓ دَ سیرت یوه حصه لویه
اغیار ته دلته کښې له دې نه ده خطره لویه
کار په دُنیا کښې دَ نبی ﷺ دے شفاعت والا
دا عقیده ده خوشبوداره پاك حضرت ﷺ والا
دَ امامانو په ژوندون کښې دا تمامه ښکاری
دا ناممکنه ده چې بیله له اسلامه ښکاری
دَ رښتیاګانو عقیده ده، محبت والا
دا عقیده ده خوشبوداره پاك حضرت ﷺ والا
صحالحان دلته په سکون ورسره هرطرف ته
عالمان دلته په سکون ورسره هرطرف ته
عقیده تل د دین دفاع دَ شریعت والا
دا عقیده ده خوشبوداره پاك حضرت ﷺ والا
سبب هرخوا دَ رحمتونو په دُنیا دلته کښې
امتیاز شان دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ دلته کښې
په عقیدو کښې دا تمامه ده رحمت والا
دا عقیده ده خوشبوداره پاك حضرت ﷺ والا
دا په قرآن کښې په ښکاره ټکو بیان پوره ده
دا نازل شوې ښۀ ښکاره له پاس اسمان پوره ده



عقیده دا زمونږه ښکلې هدایت والا
دا عقیده ده خوشبوداره پاك حضرت ﷺ والا
دَ احادیثو ذخیره کښې دا بیان ښکاره ده
برخه په هر طرف دُنیا کښې دَ ایمان ښکاره ده
اجماع اوله عقیده ددې امت والا
دا عقیده ده خوشبوداره پاك حضرت ﷺ والا
خوښه زما ده خوښه دا دَ امامانو ټولو
خوښه زما ده خوښه دا دَ صالحانو ټولو
احمده ! دا عقیده ټوله ده جنت والا
دا عقیده ده خوشبوداره پاك حضرت ﷺ والا
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## خدمت دَ ختمِ نبوت.....نظم نمبر 12

خدمت دَ ختمِ نبوت کوی قسمت والا
جنت بدله ده په محشر کښې دَ خدمت والا
ډیر خوش نصیبه دے دا کار چې کوی دلته کښې څوك
اعلا اعلا دے حق ګفتار چې کوی دلته کښې څوك
همیشه داسې بشر هرخوا وی عزت والا
خدمت دَ ختمِ نبوت کوی قسمت والا
دَ زړۀ نه دلته ورسره لری چې مینه مدام
ذریعه، لویه وسیله ده دَ سکون او آرام
مالداره دے چې څوك وی دغسې دولت والا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنت بدله ده په محشر کښې دَ خدمت والا
ډېر ثوابونه دَ محشر دی هر انسان دَ پاره
ډېر عظیم کار دغه کار دَ مسلمان دَ پاره
کار کوی دغه مدام هر سړې همّت والا
جنت بدله ده په محشر کښې دَ خدمت والا
کار دَ عاقل سړی دی کار ښۀ دَ عزت دغه دے
بُنیاد زمونږ دَ هر عمل دَ شریعت دغه دے
احمده ! کار دے ډېر اوچت دا رسالت والا
جنت بدله ده په محشر کښې دَ خدمت والا
*********************

## دَ ختمِ نبوت دفاع.......نظم نمبر 13

دَ ختمِ نبوت کار نُور دَ چا دَ پاره دے ؟
مؤمنه مسلمانه ! دا هم ستا دَ پاره دے
په شوق سره کوُل دی دغه کار په هر یودر
په شوق سره کوُل دی دغه کار په لر او بر
راغلے دغه کار تولې دُنیا دَ پاره دے
مؤمنه مسلمانه ! دا هم ستا دَ پاره دے
سحر وی کۀ ماښام دلته پکار دے دغه کار
کوی دے خاص وعام دلته پکار دے ښۀ په جار
دا نۀ ده چې دا کار بس علماء دَ پاره دے
مؤمنه مسلمانه ! دا هم ستا دَ پاره دے



د دین دَ شریعت دَ حفاظت پوره ضامن
دَ هریو نُور سنت دَ حفاظت پوره ضامن
راغلے دلته کښې دَ دین بقا دَ پاره دے
مؤمنه مسلمانه ! دا هم ستا دَ پاره دے
اهمه مسئله ده ، دا اهمه عقیده
دُنیا کښې دَ اجرونو ثوابونو وسیله
کار دغه دَ ژوندون حُسن ښُکلا دَ پاره دے
مؤمنه مسلمانه ! دا هم ستا دَ پاره دے
په دې دلته پوهیږی اے احمده ! عاقلان
دفاع کوی دُنیا کښې داسې خلق دَ جانان ﷺ
دا شان او امتیاز زما آقا ﷺ دَ پاره دے
مؤمنه مسلمانه ! دا هم ستا دَ پاره دے
*********************

## خدمت دَ ختمِ نبوت.....نظم نمبر 14

عظیم الشان دے کار دَ ختمِ نبوت والا
ډېر خوش نصیبه دے دُنیا کښې دا خدمت والا
ښُکلا د دین ده ، عاقلانو ته ددې پته ده
بقا د دین ده ، عالمانو ته ددې پته ده
کار چې کوی دغه ، ښکاره هغه جنت والا
عظیم الشان دے کار دَ ختمِ نبوت والا
احزاب سورت کښې دَ قرآن دا عقیده راغلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن لوستونکو ته معلومه ده ښکاره راغلے
خبر له دي نه دَ قرآن دے تلاوت والا
عظيم الشان دے کار دَ ختمِ نبوت والا
حديث دے لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ دَ آقا ﷺ وينا ده
ښکاره صفا تمامه دا دَ مصطفیٰ ﷺ وينا ده
په دي پوهيږی دَ نيکانو هر صحبت والا
عظيم الشان دے کار دَ ختمِ نبوت والا
اجماع په دي باندي دَ ټولو صحابهؓ په جمع
ولاړ تمام دی په اُصولو صحابهؓ په جمع
مسئله ډيره ده اهمه شريعت والا
عظيم الشان دے کار دَ ختمِ نبوت والا
په دي ايمان لرم احمدعلی ګواه اُوسيږے
ښکاره بيان لرم احمدعلی ګواه اُوسيږے
زمونږ دَ پاره وسيله ده شفاعت والا
عظيم الشان دے کار دَ ختمِ نبوت والا
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَ ختمِ نبوت دفاع کوُنکی..... نظم 15

دَ نبی ﷺ کار دے، کار دَ ختمِ نبوت والا
کوی دا کار قوی مضبوط سړي همت والا
دَ سکون دلته ذريعه ښهٔ دَ جهان لويه ده
دفاع په دي سره د دين دَ خوږ جانان ﷺ لويه ده



عمل دا کار دے په کارونو کښي جنت والا
دَ نبی ﷺ کار دے، کار دَ ختمِ نبوت والا
کار دَ عالم سړي دے کار دے د دانا بشر
کار دَ عالم سړی دے کار دے دَ اعلا بشر
کار په کارونو کښي حسين دے ډير عزت والا
دَ نبی ﷺ کار دے، کار دَ ختمِ نبوت والا
اغيار په دي سره خفه خفه پوره مدام وی
دفاع په دي سره دَ حق حسين اعلا کلام وی
کار په کارونو کښي ښهٔ دروند دے ډير عظمت والا
دَ نبی ﷺ کار دے، کار دَ ختمِ نبوت والا
په هر قدم باندي ښُکلا لري، رڼا لری دا
ډير ثوابونه، جنتونه کار جزا لری دا
کار په دُنيا کوی دُنيا کښي دا قسمت والا
دَ نبی ﷺ کار دے، کار دَ ختمِ نبوت والا
نهٔ کوی کار چي دغه تل هغه ناکامه به وی
لرے ډير لرے له نبی خير الانامه ﷺ به وی
عمل پکار دے هر بشر لره جنت والا
دَ نبی ﷺ کار دے، کار دَ ختمِ نبوت والا
پکار دے کار هريو دَ پاره رسالت والا
دَ حق نبی ﷺ دفاع ده دلته کښي دا کار چي کوی
دَ مدنی ﷺ دفاع ده حق حسين ګفتار چي کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشبو خوشبو دے کار دے دا نورانیت والا

دَ نبی ﷺ کار دے ، کار دَ ختمِ نبوت والا

احمد پہ شوق سرہ مدام ورتہ تیار دلتہ دے

روان پہ لارہ دَ نبی خیر الابرار ﷺ دلتہ دے

کار دے بیشکہ دا عمل دے ډیر عظمت والا

دَ نبی ﷺ کار دے ، کار دَ ختمِ نبوت والا

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## ختمِ نبوت زندہ باد ......نظم نمبر 16

مضبوط دَ اسلام بُنیاد

ختمِ نبوت زندہ باد

سبق ، عمل دَ جهاد

ختمِ نبوت زندہ باد

دا مفهوم قرآن کښې

برهان په جهان کښې

شامل په ایمان کښې

فلاح هر مکان کښې

نعره ، سبق دَ اجداد

ختمِ نبوت زندہ باد

حق وینا دَ پاك نبی ﷺ

لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ

حق وینا دَ مدنی ﷺ



لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ

کلك ساتہ حدیث دا یاد

ختمِ نبوت زندہ باد

اجماع دَ امت په دي

محفوظ شریعت په ددي

جمع دَ خِلقت په دي

جمع هر ساعت په دي

کرم دَ مولا امداد

ختمِ نبوت زندہ باد

ورسرہ بقاد دین

ورسرہ ښُکلا دَ دین

دا تمام رښاد دین

دفاع دا وینا د دین

په دي لروا اعتماد

ختمِ نبوت زندہ باد

دَ احمد پیغام اُوچت

دین اُوچت اسلام اُوچت

لری لوئي مقام اُوچت

کار عمل تمام اُوچت

سبق زدہ کړہ له اُستاد

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ختمِ نبوت زنده باد. .....نظم نمبر 17

حق نعره د دين بُنياد
ختمِ نبوت زنده باد
دَ الله كرم ، امداد
ختمِ نبوت زنده باد
ذكر لری په لوئي كتاب
سورتونو كښې احزاب
مفهوم كامل ، لاجواب
باعث دَ اجروثواب
عمل اعلا ، زيات دَ داد
ختمِ نبوت زنده باد
حق فرمان دَ خوږ جانان
نهٔ لری وروستو نبيان
رسولان په دي جهان
حق فرمان دے ښهٔ عيان
حق ښكاره تمام ارشاد
ختمِ نبوت زنده باد
دَ خيرالانام ﷺ ظهور
دَ امام ﷺ تمام اُمور
وسيله مدام دَ نُور
سكون دَ تمام صُدُوْر



هريو در ورسره ښاد
ختمِ نبوت زنده باد
ختمِ نبوت زنده باد
دفاع دَ قرآن په دي
دفاع دَ جانان ﷺ په دي
دفاع دَ ايمان په دي
تن بدن قربان په دي
ښهٔ تعليم دَ ښهٔ اُستاد
ختمِ نبوت زنده باد
ډير اعلا په ژوند دا كار
اعلا كار دے حق گفتار
هم په پټه ، هم په جار
مخ نيوه هم دَ غدار
كار دَ هرچا ، دَ آزاد
ختمِ نبوت زنده باد
حق پوره گفتار زما
تل دَ ژوندون كار زما
تل دَ زړهٔ قرار زما
خوږ نبی ﷺ دلدار زما
مقصود دَ احمد مُراد
ختمِ نبوت زنده باد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ختمِ نبوت زنده باد......نظم نمبر 18

دَ شِکلی ماحول بُنیاد
ختمِ نبوت زنده باد
سبق یاد کړئ په اولاد
ختمِ نبوت زنده باد
عقیده دَ شریعت
ذریعه دَ محبت
وسیله دَ هر نعمت
وسیله دَ هدایت
دفاع دَ اسلام، جهاد
ختمِ نبوت زنده باد
دي سره امن مدام
دي سره باقی اسلام
دا سبب دَ هر انعام
دي سره حُسن تمام
داعی شه پوره آزاد
ختمِ نبوت زنده باد
له قرآنه له سنت
ده اجماع دَ ټول اُمت
ختم، ختم دے نبوت
ختم، ختم دے رسالت



هیر دي نهٔ شي سبق یاد
ختمِ نبوت زنده باد
هر منکر په جار ذلیل
ابلیس شو بار بار ذلیل
منکر دي کار ذلیل
هر خوا هر مردار ذلیل
بند شو دَ ابلیس فساد
ختمِ نبوت زنده باد
ورسره محفوظ ایمان
ورسره سکون، امان
ورسره خفه شیطان
ستا الحمده! حق بیان
سیوري دَ مولا، امداد
ختمِ نبوت زنده باد
مقصد دَ ژوندون مُراد
ختمِ نبوت زنده باد

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دفاع دَ ختمِ نبوت......نظم نمبر 19

شعرونه ما تمام چي دا ساعت لیکلی دی
دفاع له ما دَ ختمِ نبوت لیکلی دی
په شوق سره کوُم دفاع دَ ختمِ نبوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَزړهٔ مینه لرم ورسره دلته هر ساعت
دفاع له ما شعرونه دَ حضرت ﷺ لیکلی دی
دفاع له ما دَ ختمِ نبوت لیکلی دی
دفاع کوُم په شوق سره ددغي عقیدې
دفاع کوُم په شوق سره ددغي مسئلي
دفاع له ما تمام دَ رسالت لیکلی دی
دفاع له ما دَ ختمِ نبوت لیکلی دی
دفاع کوُم په دې سره ښکاره په مقام
دفاع کوُم په دې دَ خپل نبی خیر الانام ﷺ
تمام مي دَ ثواب دلته په نیت لیکلی دی
دفاع له ما دَ ختمِ نبوت لیکلی دی
دفاع کُوم په دې سره دَ ښکلي شریعت
دفاع کُوم په دې سره احمده! دَ سنت
دفاع له ما اشعار دَ شریعت لیکلی دی
دفاع له ما دَ ختمِ نبوت لیکلی دی
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَختمِ نبوت کار.........نظم نمبر 20

په ختمِ نبوت سره ایمان دے محفوظ
ددین دَ حفاظت پوره سامان دے محفوظ
منسوخ به نهٔ شی هیڅ کله مذهب دغه اسلام
قیامت پورې مذهب دے دَ خوّاص او دَ عوام



هر یو ټکي پوره ددې قرآن دے محفوظ
په ختمِ نبوت سره ایمان دے محفوظ
قیامت پورې به نهٔ راځی بل یَو نبی ، رسول
مذهب دَ هر بشر صرف اسلام دے قبُول
مذهب حسین پوره دَ خوږ جانان ﷺ دے محفوظ
په ختمِ نبوت سره ایمان دے محفوظ
ورسره بنده شوې سلسله دَ نبوت
اهمه عقیده زمونږ د دین دَ شریعت
هر جزء دَ شریعت دے هر بیان دے محفوظ
په ختمِ نبوت سره ایمان دے محفوظ
قرآن کښې په احزاب سورت کښې دا مفهوم بیان
ګواه ددې خبرې سل آیاته دَ قرآن
پوره پوره بیان دغه اعلان دے محفوظ
په ختمِ نبوت سره ایمان دے محفوظ
دوه سوه حدیثونو کښې مفهوم دغه موجود
دَ ختمِ نبوت بیان معلوم پوره موجود
دلیل دَ شریعت عظیم الشان دے محفوظ
په ختمِ نبوت سره ایمان دے محفوظ
اجماع دَ ټول اُمت ورکوی دغه ګواهی
ګواه تمام خِلقت ، ورکوی دغه ګواهی
سبب دَ کامیابې دَ ټول جهان دے محفوظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ختمِ نبوت سره ایمان دے محفوظ
پوره پوره په دي عظیم بُرهان دے محفوظ
یقین ساتل په دي باندي لازم دی په دُنیا
صفا صفا تمامه دا احمدعلی وینا
کردار، سیرت دَپاك نبی سلطان ﷺ دے محفوظ
په ختمِ نبوت سره ایمان دے محفوظ

**********************

## دَختمِ نبوت دفاع.......نظم نمبر 21

دَ خدمتِ نبوت په کار خدمت کوُمه ناز
چي دا بیانومه ښهٔ اُوچت لرم آواز
دا کار دَپاك اللّه دے دَرضا په دي عالم
دا کار دے په دُنیاکښي ښهٔ بالا دے محترم
ښکاره بیانومه، دا گفتار نهٔ دے دَراز
دَ خدمتِ نبوت په کار خدمت کوُمه ناز
دا کار دَ ډیرو ډیرو ثوابونو ذریعه
دا کار دَلویو لویو نعمتونو وسیله
زمونږ دَخوږ نبی ﷺ صفت دے شان او امتیاز
دَ خدمتِ نبوت په کار خدمت کوُمه ناز
دَپاك نبی ﷺ دَ قُرب ده ذریعه اعلا بالا
دَپاك نبی ﷺ دَقُرب ده وسیله اعلا بالا
اسلام له مذهبونو نه په دي سره ممتاز



دَ خدمتِ نبوت په کار خدمت کوُمه ناز
بنده ده سلسله په دي سره ده نبوت
بنده ده سلسله په دي سره دَرسالت
دا شان او مرتبه، زمونږ دَپاك نبی ﷺ اعزاز
دَ خدمتِ نبوت په کار خدمت کوُمه ناز
په دي سره محفوظ دَربْ کلام پوره تمام
په دي سره محفوظ احمده ! دے پوره اسلام
بُنیاد دشریعت زمونږ دَدین ښکاره اعجاز
دَ خدمتِ نبوت په کار خدمت کوُمه ناز

**********************

## دَختمِ نبوت دفاع.......نظم نمبر 22

کار دَ ختمِ نبوت، زما کار ددي دفاع
دَاسلام حکم منل ،دَاسلام ده اتباع
سل ایاته دَقرآن، حدیثونه دوه سوه
دلیلونه عالیشان، دلیلونه دوه سوه
دَامت په دي خبره اول شوي ده اجماع
دَاسلام حکم منل ،دَاسلام ده اتباع
دا بُنیاد دَشریعت دَاسلام په هرقدم
کار اول ددي امت هرطرف ته په عالم
تقریرونه تل ددي، خوندوره ئي سماع
دَاسلام حکم منل ،دَاسلام ده اتباع

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالیدلی عاشقان، فدایان ددي ښکاره
عالمان، ډیر صالحان فدایان ددي ښکاره
ډیر همت لرونکی ټول، په صورت تمام شجاع
دَاسلام حکم منل، دَاسلام ده اتباع
په عظمت چې شی خبر دا انسان کله په دي
په عظمت چې شی خبر مسلمان کله په دي
هر یو کار ته د دُنیا هغه وائی الوداع
دَاسلام حکم منل، دَاسلام ده اتباع
تل اغیار دَټول جهان منکران خلق ددي
تل کفار دَټول جهان منکران خلق ددي
دَاغیار سره زمونږ غټ سبب دے دَنزاع
دَاسلام حکم منل، دَاسلام ده اتباع
هر بشر سره مدام دا توښه دَشریعت
وسیله دَشفاعت، په محشر کښې د حضرت ﷺ
دَمحشر ګټه ښکاره، دَمحشر اهم متاع
دَاغیار سره زمونږ دا سبب دے دَنزاع
مُبلغ یمه ددي هر طرف ته ښهٔ په جار
مبلغ یمه احمد، ښهٔ اغیاره خبردار
نا خبر دي وی خبر، ورته دا ښکاره اطلاع
دَاسلام حکم منل، دَاسلام ده اتباع
دَاسلام منکر سره بحث کوُل دَوخت ضیاع



دَاسلام حکم منل ،دَاسلام ده اتباع
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَختمِ نبوتِ امین.....نظم نمبر 23

دَختمِ نبوت دَامانت یُو مونږ امین
په هر قدم پوره ددي دولت یُو مونږ امین
ورسره دَاسلام بقا پوره دلته کښې ده
ورسره دَاحکام بقا پوره دلته کښې ده
د دین دَ هر یو حکم هرساعت یُو مونږ امین
دَختمِ نبوت دَامانت یُو مونږ امین
په دي سره تمامه دَاسلام پوره نقشه
په دي سره تمامه دَاحکام پوره نقشه
دَسیِدالوریٰ ﷺ ټول دَسیرت یُو امین
دَختمِ نبوت دَامانت یُو مونږ امین
بُنیاد دَشریعت دَاحکاماتو ټولو دا
خلاصه تمامه دا دَبیاناتو ټولو دا
پوره پوره ددي عظیم نعمت یُو مونږ امین
دَختمِ نبوت دَامانت یُو مونږ امین
احمدعلی په جار ټولو ته وائی دلته دا
سبق په هر طرف خلقو ته ښائی دلته دا
هر خواته په دُنیا کښې دَسنت یُو مونږ امین
دَختمِ نبوت دَامانت یُو مونږ امین

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَختمِ نبوت دعوت.....نظمِ نمبر 24

دَ ختمِ نبوت چې دَ دعوت وی څوك امین
هغه نه بل بشر په دُنیا نیشته بهترین
ښکاره ګټه دُنیا کښې دَ دنیا دَ خلقو دا
ښکاره ګټه دُنیا کې ښۀ اعلا دَ خلقو دا
ښکاره دا حقیقت دے لکه نمر بره مُبین
دَ ختمِ نبوت چې دَ دعوت وی څوك امین
سبب دَ هر عزت په هر قدم دَ هر بشر
باعث دَ هر نعمت په دې عالم دَلرا ویر
ډالې، ښکلې تحفه ده ،دغه دولت ښکلې حسین
دَ ختمِ نبوت چې دَ دعوت وی څوك امین
باعث دَ محمد رسول اللّه ﷺ دَ قُرب مدام
سبب په هر طرف دلته په ژوند کښې دَ آرام
محفوظ ورسره دلته کښې زمونږه تمام دین
دَ ختمِ نبوت چې دَ دعوت وی څوك امین
محشر کښې دَ حضور ﷺ دَ شفاعت دا وسیله
باعث دَ کامیابې ددې امت دا وسیله
جوړیږی په دې کار سره محبوب دَ ربّ متین
دَ ختمِ نبوت چې دَ دعوت وی څوك امین
قرآن کښې احادیث کښې مسئله دغه بیان
اجماع په دې ښکاره ده جوړه شوې دَ جهان



احمدعلی کامل لری په دې باندې یقین
دَ ختمِ نبوت چې دَ دعوت وی څوك امین
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَختمِ نبوت کار.........نظمِ نمبر 25

دَ ختمِ نبوت دَ کار کوُلو ډیر ثواب
دا کار دے په شریکه دَ غریب او دَ نواب
دا کار دلوئې ورُوکی په دُنیا دَلرا و بر
دا کار دَلوئې وړوکی په دُنیا دَ هر بشر
یو سیورې په محشر دے دَ سکون په هریو باب
دَ ختمِ نبوت دَ کار کوُلو ډیر ثواب
دا کار د ډیر عزت دے هر بشر لره مدام
عظیم لوئې عبادت دے لرا و بر لره مدام
منونکے کار کوُنکے، ښۀ عمل دے لاجواب
دَ ختمِ نبوت دَ کار کوُلو ډیر ثواب
خوشبو خوشبو تمامه عقیده دا په دُنیا
خوشبو خوشبو تمامه مسئله ښکاره اعلا
ثابته عقیده ده ښۀ ښکاره دا له احزاب
دَ ختمِ نبوت دَ کار کوُلو ډیر ثواب
سبب دَ شفاعت دَ محمد رسول اللّه ﷺ
باعث دَ هر عزت دے دَ ښُکلا او دَرنیا
یو ډهال دَ حفاظت دے په محشر کښې له عذاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ختم نبوت دَ کار کولو ډیر ثواب
ډالي دی ملغلرے دَ محشر دَ پاره دا
احمده! حق خبرے هر بشر دَ پاره دا
په عشق کښې مبتلا سړي ددې عمل کامیاب
دَ ختم نبوت دَ کار کولو ډیر ثواب

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَختمِ نبوت عقیدۀ .....نظم نمبر 26

دَ ختم نبوت عقیده دَ هر مسلمان ده
اهمه عقیده په عقیدو کښې دَ جانان ﷺ ده
ثابته له قرآن نه په ښکاره ټکو کښې دا ده
له ښۀ اعلا بیان نه په ښکاره ټکو کښې دا ده
ښُکلا په دې سره پوره ددې جهان ده
اهمه عقیده په عقیدو کښې دَ جانان ﷺ ده
ثابته دا تمامه حدیثونو نه ښکاره ده
ثابته دَ حضور ﷺ له بیانونو نه ښکاره ده
اهمه عقیده دَ کامیابي دَ هر انسان ده
اهمه عقیده په عقیدو کښې دَ جانان ﷺ ده
جمع په دې اُمت دے ، دَ اُمت تمام اجماع ده
دُنیا تمام لیدلې دا دَ خاص او عام اجماع ده
اهمه عقیده په عقیدو کښې دَ ایمان ده
اهمه عقیده په عقیدو کښې دَ جانان ﷺ ده



احمدعلی ایمان لری په دغې عقیده پوره
پوره کامل ایمان لری په دغې مسئله پوره
مولیٰ نازله کړے عقیده له پاس آسمان ده
اهمه عقیده په عقیدو کښې دَ جانان ﷺ ده

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَختمِ نبوت خادم.......نظم نمبر 27

چې دَ ختمِ نبوت خادم انسان شی
د دوستې قابل هغه په دې جهان شی
ډیر عظیم دے کار دَ خدمتِ نبوت
ډیر عظیم دے په دُنیا دا عبادت
په دې کار سره خوشحاله پاك سبحان شی
د دوستې قابل هغه په دې جهان شی
ډیر عظیم دے دا عمل د شریعت
ډیر عظیم دے دا عمل ددې امّت
دَ دوستې قابل هغه دَ خوږ جانان ﷺ شی
د دوستې قابل هغه په دې جهان شی
حفاظت په دې سره ددې قرآن دے
محفوظ دې سره دا دین دَ مسلمان دے
چې دا کار کوی عظیم شی عالیشان شی
د دوستې قابل هغه په دې جهان شی
عقیده ثابته ده له آیاتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله ثابته ده له حدیثونو
قدردان په دغې کار سره هر ځوان شی
ددوستې قابل هغه په دې جهان شی
اهمیت ددغې کار ښۀ مُسلم دے
گواه دې باندې اُمت تمام عالم دے
په صحیح لاره په دې سره روان شی
ددوستې قابل هغه په دې جهان شی
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## زمونږه عقیده.......نظم نمبر 28

دَ ختمِ نبوت عقیده ده زمونږ دَ پاره
ددین دَ حفاظت عقیده ده زمونږ دَ پاره
باعث دَ هدایت عقیده ده زمونږ دَ پاره
پوره رحمت رحمت عقیده ده زمونږ دَ پاره
په دې سره ایمان کامله کیږی دَ انسان
په دې سره ایمان کامله کیږی په جهان
اهم دَ شریعت عقیده ده زمونږ دَ پاره
دَ ختمِ نبوت عقیده ده زمونږ دَ پاره
قرآن کښې آیاتونه ډیر شاهد په دې خبره
دَ حضورﷺ حدیثونه ډیر شاهد په دې خبره
دَ اجماعِ اُمت عقیده ده زمونږ دَ پاره
دَ ختمِ نبوت عقیده ده زمونږ دَ پاره



محفوظ ورسره دلته دے زمونږه دین مذهب
محفوظ ورسره دلته دے دَ نُور هریو مکتب
دَ ختمِ رسالت عقیده ده زمونږ دَ پاره
دَ ختمِ نبوت عقیده ده زمونږ دَ پاره
په دې باندې یقین لری ایمان لری احمد
چې دا منی هغوی سره دَ ربّ وی تل مدد
رښا صفت صفت عقیده ده زمونږ دَ پاره
دَ ختمِ نبوت عقیده ده زمونږ دَ پاره
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## تن من فدا.... ......نظم نمبر 29

په ختمِ نبوت باندې تن من زما فدا
ناموسِ رسالت باندې تن من زما فدا
ناموسِ رسالت دَ پاره یم حاضر مدام
دَ ختمِ نبوت دَ پاره یم په هر مقام
د دین په دې دعوت باندې تن من زما فدا
ناموسِ رسالت باندې تن من زما فدا
بُنیاد دَ شریعت دَ ښکلی کور دے دغه کار
بُنیاد دَ شریعت دَ ښکلی کور دے حق گفتار
په حق، په صداقت باندې تن من زما فدا
ناموسِ رسالت باندې تن من زما فدا
قرآن کتاب اللّٰه ددې خبرے دے ثبوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



برهان کتابُ اللّه ددي خبرے دے ثبوت
په دي عظيم دولت باندي تن من زما فدا
ناموسِ رسالت باندي تن من زما فدا
اصحابؓ دَ محمد ﷺ اول په دي وو متفق
احبابؓ دَ محمد ﷺ اول په دي وو متفق
په داسي جماعت باندي تن من زما فدا
ناموسِ رسالت باندي تن من زما فدا
اعلان کوی احمدعلی ! په جار دَ عقيدي
لری حسين اعلا ښکلي ګفتار دَ عقيدي
ددين په دي دعوت باندي تن من زما فدا
ناموسِ رسالت باندي تن من زما فدا
په دي عظيم نعمت باندي تن من زما فدا
ناموسِ رسالت باندي تن من زما فدا
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَختمِ نبوت په کار عالم.نظم نمبر 30

چي دَ ختمِ نبوت په کار عالم وی
خامخا دَ شريعت هغه خادم وی
شيطانان ورسره هرخواته حسد کړی
شيطانان ورسره هرطرف ته بد کړی
دا عمل به دهٔ سره دلته لازم وی
چي دَ ختمِ نبوت په کار عالم وی



دَاسلام بقا په دي ده داسي کار دے
دَاسلام ښُکلا په دي ده داسي کار دے
مخالف دداسي خلقو هر ظالم وی
چي دَ ختمِ نبوت په کار عالم وی
ورسره مينه په کار ده ، کار عظيم دے
په حکمت چي کارکوی هغه حکيم دے
منکرانو لره ورخ شته چي نادم وی
چي دَ ختمِ نبوت په کار عالم وی
ثوابونه دَ محشر دا خوشحالی ده
ستا احمده ! ښه دَ قدر شاعری ده
دروند سړي ښهٔ اعلا کار سره قائم وی
چي دَ ختمِ نبوت په کار عالم وی
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## دَختمِ نبوت کار.......نظم نمبر 31

دَ ختمِ نبوت کار دَ هرچا دَ پاره دے
اعزازدا امتياز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
ثابته مسئله ده دَ قران له ايا تونو
ثابته مسئله ده دَ حضور ﷺ له حديثونو
دا کار په هر قدم د دين بقا دَ پاره دے
اعزازاو امتياز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
له سلو نه سيوا دی دليلونه ايا تونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه سوه نه سیوادی دَ محبوب ﷺ حدیثونه
بیان ښکاره واضحه د دُنیا دَ پاره دے
اعزاز او امتیاز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
اُمت په دي خبره مُتفقه متحد
ولاړ په دي خبره برابره مُتحد
امت جمع مدام دَ خپل آقا ﷺ دَ پاره دے
اعزاز او امتیاز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
احمده ! عملونو کښي عمل بره اُوچت
عمل په عملونو کښي دے تل بره اُوچت
کار دلته دَ مولیٰ دا دَ رضا دَ پاره دے
اعزاز او امتیاز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
**********************

## ایمان په ختمِ نبوت. .....نظم نمبر 32

ایمان چي په ختمِ نبوت نهٔ وی
هلته کښي اسلام په حقیقت نهٔ وی
دین ورسره کله پاتي کیږی دا
دي په ظلمتونو کښي اُوسیږی بیا
چاسره چي دین دَ پاك حضرت ﷺ نهٔ وی
هلته کښي اسلام په حقیقت نهٔ وی
نهٔ لری ایمان چي دا سي حال لری
مَل چي شیطانان لری ، دجّال لری



چاسره چي نُور دَ شریعت نهٔ وی
هلته کښي اسلام په حقیقت نهٔ وی
طمع دَ نجات دي هغه نهٔ کوی
څوك چي شیطانانو پسے تلهٔ کوی
دهٔ سره مذهب دغه ساعت نهٔ وی
هلته کښي اسلام په حقیقت نهٔ وی
دهٔ سره رښا دَ ایمان کله وی
دهٔ سره ښُکلا دَ ایمان کله وی
زړهٔ کښي له شیطانه چي نفرت نهٔ وی
هلته کښي اسلام په حقیقت نهٔ وی
نهٔ منی احکام دَ شریعت تمام
نه منی اسلام دَا هدایت تمام
پټ پټ ایمان په آخرت نهٔ وی
هلته کښي اسلام په حقیقت نهٔ وی
دا په حقیقت کښي دے انکار له دین
دي په حقیقت کښي دے بیزار له دین
هیڅ کله به سر دهٔ اُوچت نهٔ وی
هلته کښي اسلام په حقیقت نهٔ وی
ډیر له ایاتونو نه انکار ښکاره
ډیرو حدیثونو نه انکار ښکاره
لار دهٔ سره دَ هدایت نهٔ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته کښې اسلام په حقيقت نۀ وی
دي نۀ منی دلته کښې اجماع ددين
هريو حکم نۀ منی اطلاع ددين
چرته چې لعنت وی نو رحمت نه وی
هلته کښې اسلام په حقيقت نۀ وی
ستا شوله احمده حقه وينا پوره
تا خبره کړې په دُنيا پوره
دين سره چې کله محبت نۀ وی
هلته کښې اسلام په حقيقت نۀ وی
ايمان چې په ختمِ نبوت نۀ وی
هلته کښې اسلام په حقيقت نۀ وی

********************

## دَ ختمِ نبوت دفاع لازم ..نظم نمبر 33

دَ ختمِ نبوت دَ عقيدې دفاع لازم ده
دُنيا په دې خبره باندې دلته کښې قائم ده
قرآن کښې دَ احزاب سورت گواه ددې خبرې
حسين دا لاجواب سورت گواه ددې خبرې
خبره ښکاره دغه بيان کړې هر عالِم ده
دَ ختمِ نبوت دَ عقيدې دفاع لازم ده
حديث دَ محمد ﷺ راته تعليم دغه راکړے
چې دا عقيده نۀ لری، هغه سړے دے مړے



د دين دَ هرداعی خبره دا دَ هرخادم ده
دَ ختمِ نبوت دَ عقيدې دفاع لازم ده
مفهوم ښکاره عيان دے دا تمام له آياتونو
مفهوم ښکاره عيان دے دا تمام له حديثونو
خبره دَ صالح سړی دُنيا کښې دَ صائم ده
دَ ختمِ نبوت دَ عقيدې دفاع لازم ده
احمدعلی په جار دا مسئله بيانه کړے
احمدعلی بار بار دا عقيده بيانه کړے
معنیٰ پوره واضحه دلته کښې دَ لفظ خاتم ده
دَ ختمِ نبوت دَ عقيدې دفاع لازم ده

*********************

## ايمان په ختمِ نبوت .....نظم نمبر 34

عقيدو کښې عقيده دَ ختمِ نبوت ښکلې ده
وسيله دَ کاميابۍ ده ،دا چې چا منلې ده
دې سره بقا تل دَ اسلام دَ بُنيادونو ده
دې سره بقا پوره تمامه دحکمونو ده
په احزاب سورت کښې ښۀ ښکاره پوره راغلې ده
وسيله دَ کاميابۍ ده ،دا چې چا منلې ده
ډير دی حديثونه چې بيان صرف ددې لری
شته ډير کتابونه چې بيان صرف ددې لری
ښۀ پوره واضحه کتابونو دا ليکلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسيله دَ کاميابي ده ، دا چي چا منلي ده
دَ امت اجماع ده په دي ، داسي عقيده ده دا
دَ اُمت اجماع ده په دي داسي مسئله ده دا
اهم عقيدي سره تل هرچا رابللے ده
وسيله دَ کاميابي ده ، دا چي چا منلي ده
دلته به خوشحاله وی ، جنت هغه گټلے دے
هريو ښۀ اعلا بالا نعمت هغه گټلے دے
چا چي دا محفوظه ښه پوره پوره ساتلي ده
وسيله دَ کاميابي ده ، دا چي چا منلي ده
دفاع ددي دلته کښي پوره په مسلمان لازم
دي باندي احمده ! کلك پوره پوره ايمان لازم
تا نه اے انسانه ! مسئله دا هيره وُلے ده؟
وسيله دَ کاميابي ده ، دا چي چا منلي ده

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## ايمان په ختمِ نبوت.....نظم نمبر 35

ايمان چي په ختمِ نبوت نۀ لری
توښه هغه دَ آخرت نۀ لری
ډير بدنصيبه دے ملعلون هغه دے
لرے لرے له هر سکون هغه دے
دَ ځان سره چي دا دولت نۀ لری
توښه هغه دَ آخرت نۀ لری



دَ کاميابي دَ پاره دا وسيله
منل لازم دی دا بالا وسيله
ايمان چي څوك په رسالت نۀ لری
توښه هغه دَ آخرت نۀ لری
دَ نعمتونو نه ډير لرے لرے
له جنتونو نه ډير لرے لرے
چي عقيده ، حق شريعت نۀ لری
توښه هغه دَ آخرت نۀ لری
ورله ديدار دَ مولا نيشته نيشته
نعمت اعلا دا اعلا نيشته نيشته
چي عقيده دا هر ساعت نۀ لری
توښه هغه دَ آخرت نۀ لری
دَ نجات نيشته بله لار احمده !
لازم ددغي دے اقرار احمده !
عقيده څوك چي دَ حضرت ﷺ نه لری
توښه هغه دَ آخرت نۀ لری
عقيده څوك چي دَ جنت ﷺ نۀ لری
توښه هغه دَ آخرت نۀ لری
په ژوند رنا چي سنت نۀ لری
توښه هغه دَ آخرت نۀ لری

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تل دَ خدمت نبوت......نظم نمبر 36

تل دَ ختمِ نبوت ښَۀ په جار نعره دي وی
انسانان بیداروی، دا دَ کار نعره دي وی
دا دعوت دے دا تبلیغ، هر طرف ته دَ بشر
دا دعوت دے دا تبلیغ، د دُنیا په لر او بر
ټول جهان بیداروی، دَ بیدار نعره دي وی
تل دَ ختمِ نبوت ښَۀ په جار نعره دي وی
عاشقان په دي عاشق، دَ اسلام دَ شریعت
عاشقان په دي عاشق، دي تمام دَ شریعت
مسلمان بیداروی، دَ اظهار نعره دي وی
تل دَ ختمِ نبوت، ښَۀ په جار نعره دي وی
دا بُنیاد دَ شریعت، بقا دي سره دَ دین
دا بُنیاد دَ شریعت، ښکلا دي سره دَ دین
هر یو ځوان بیداروی، دَ اقرار نعره دي وی
تل دَ ختمِ نبوت ښَۀ په جار نعره دي وی
شیطانان خفه کوی، هر طرف ته په جهان
ظالمان خفه کوی دَ هر کور کلی مکان
نورانی تمامه دا، دَ انوار نعره دي وی
تل دَ ختمِ نبوت ښَۀ په جار نعره دي وی
ورسره زړونه بیدار، ورسره سکون سکون
ښۀ ژوندون کښي انقلاب، بهترین دغه بدلون



سم دے ډهال دَ شریعت، دَ هردار نعره دي وی
تل دَ ختمِ نبوت ښَۀ په جار نعره دي وی
دَ عظمت دَ پاره تل، ښۀ اعلا دغه گفتار
دَ عظمت دَ پاره تل، دَ احمدعلی اشعار
تل په ژبه هر ساعت دَ هوښیار نعره دي وی
تل دَ ختمِ نبوت ښَۀ په جار نعره دي وی

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

# دَ ختمِ نبوت مسئله.....نظم نمبر 37

دَ ختمِ نبوت مسئله ښۀ ښکاره عیانه ده
اهم مسئله ده عالیشانه ده
سورتِ احزاب کښي دا ښکاره پوره
دَ مولیٰ کتاب کښي دا ښکاره پوره
دا پوره ثابته له قرآنه ده
اهم مسئله ده عالیشانه ده
دا په حدیثونو کښي ښکاره پوره
دا ده کتابونو کښي ښکاره پوره
پوهیدل کۀ غواړے ښۀ اسانه ده
اهم مسئله ده عالیشانه ده
سل دی آیاتونه، دلیلونه دی
ورسره قوی ټول حدیثونه دی
ثابت له نبی آخرزمانه ﷺ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهم مسئله ده عالیشانه ده
دي بانديږ راجمع دا اُمت تمام
دي بانديږ راجمع دی خوّاص عوام
مرتبه ئي داسي راروانه ده
اهم مسئله ده عالیشانه ده
دا په منبرونو بیانیږی نن
ځکه په دي عام خلق پوهیږی نن
پته وايه نوره دا له چانه ده
اهم مسئله ده عالیشانه ده
زهٔ احمدعلی په دي ایمان لرم
حق پوره پوره دغه بیان لرم
اهمیت سره مَل ابتدا نه ده
اهم مسئله ده عالیشانه ده
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## ښهٔ عمل دَ شریعت.....نظم نمبر 38

کار دَ ختمِ نبوت کوه په شوق
ښهٔ عمل دَ شریعت کوه په شوق
دا ده ګټه ابدی ابدی دلته
دا ده ګټه حقیقی زندګی دلته
کار عظیم اعلا اُوچت کوه په شوق
ښهٔ عمل دَ شریعت کوه په شوق



دا ذمه د دي امت دَ ټولو خلقو
تبلیغ کار دغه دعوت دَ ټولو خلقو
عظیم کار تل دَ دعوت کوه په شوق
ښهٔ عمل دَ شریعت کوه په شوق
علماء پسې روان اُوسیږه وروستو
صلحاء پسې روان اُوسیږه وروستو
ملګرتیا ئي اطاعت کوه په شوق
ښهٔ عمل دَ شریعت کوه په شوق
اے احمده ! په هر لور دا ښهٔ عمل کړه
ځان مالك دَ جنتونو دَ محل کړه
هر طرف ته دا خدمت کوه په شوق
ښهٔ اعلا دا عبادت کوه په شوق
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## ختمِ نبوت........نظم نمبر 39

ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
ورسره محفوظ پوره پوره دین اسلام دے
ختمه سلسله دَ انبیاء په پاك حضور ﷺ ده
ختمه سلسله دا نورانی ټوله دَ نُور ده
باب بند شوي دغه پوره پوره ښهٔ تمام دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
اهم مسئله ده مسئلو کښي دَ کتاب دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي بيان کړے مسئله سورت احزاب دا
ښۀ واضحه ټولو ته بيان دَربّ پيغام دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
ډير دی حديثونه چې بيان دغه تمام لری
ډير دی دليلونه چې ښکاره داسې پيغام لری
پوهه پوره پوره په دې دلته خاص او عام دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
دَ امت اجماع په دې خبره په هر دره
اهم مسئله احمده ! دا دَ لر او بر ده
دَ الله کرم دے په حضور ﷺ دَربّ انعام دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## تکميل دَ اهمې سلسلې ..نظم 40

ختمه په حضور ﷺ دَ مُرسلانو سلسله ده
دا زمونږ دَ ټولو په شريکه عقيده ده
سيدالورىٰ دے مصطفىٰ دے مجتبىٰ ﷺ دے
خاتم الرّسل ﷺ دے بل امام دَ انبياء دے
دا زمونږ دَ ټولو دَ ايمان اهم حصه ده
دا زمونږ دَ ټولو په شريکه عقيده ده
دا ده بيان شوې دَ مولىٰ ښکلې کتاب کښې
ښۀ ښکاره راغلے ده په سورتِ احزاب کښې



ډيرو آيتونو کښې هم دې ته اشاره ده
دا زمونږ دَ ټولو په شريکه عقيده ده
لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ دَ رسول ﷺ ښکاره فرمان دے
لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ د حضور ﷺ جاری بيان دے
دې سره واضحه مسئله پوره پوره ده
دا زمونږ دَ ټولو په شريکه عقيده ده
نۀ راځی به بل نبی ﷺ حضور ﷺ نه پس دُنيا ته
دا سبق ښۀ کلك دَ يادولو دې هرچا ته
دَ رسالت بنده پوره پوره دروازه ده
دا زمونږ دَ ټولو په شريکه عقيده ده
دې باندې اجماع ده دَ امت دَ ټولو خلقو
دا بيان په جمع هر ساعت دَ ټولو خلقو
ښۀ ښکاره واضحه مسئلو کښې مسئله ده
دا زمونږ دَ ټولو په شريکه عقيده ده
دا دَ محمد رسول الله ﷺ دے امتياز
مسئله بيان کړه دغه په اُوچت آواز
پوره ورسره دَ مولىٰ هريوه وعده ده
دا زمونږ دَ ټولو په شريکه عقيده ده
خلق خبروم احمد له دغې عقيدې نه
خلق خبروم تمام اهمې مسئلې نه
پوره ورسره دَ مُرسلانو ګلدسته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زمونږ دَ ټولو په شریکه عقیده ده
ختمه په حضور ﷺ دَ مُرسلانو سلسله ده
دا زمونږ دَ ټولو په شریکه عقیده ده
*********************

## محافظ دَ شریعت......نظم نمبر 41

تل دَ ختمِ نبوت محافظ کۀ په دُنیا شوے
په دې کار سره ملګرے دَ نیکانو اولیاء شوے
دَ اسلام دَ شریعت دا دفاع په هر قدم ده
مسئله ډیره اهمه په عرب هم عجم ده
په دې کار سره ملګرې دَ عاقل سړی دانا شوے
تل دَ ختمِ نبوت محافظ کۀ په دُنیا شوے
تل سبب دَ راحتونو، دَ اعلا ښکلې وختونو
غټ سبب دَ راحتونو دَ تمامو عالمونو
مستحق دَ نعمتونو ، دَ جنت ورسره بیا شوے
تل دَ ختمِ نبوت محافظ کۀ په دُنیا شوے
پیروی دَ حق کتاب ده ، پیروی دَ صحابه ؓ ده
په شریکه په دُنیا کښې دا زمونږه عقیده ده
په دې کار سره خبر شه،طالب دلته دَ رڼا شوے
تل دَ ختمِ نبوت محافظ کۀ په دُنیا شوے
لوئې عمل ددې جهان دے ،هر بشر دې خبردار وی
بُنیاد زمونږ دَ ایمان دے ،لر او بر دې خبردار وی



پۀ دې کار سره دُنیا کښې ښۀ اعلا بره بالا شوے
تل دَ ختمِ نبوت محافظ کۀ په دُنیا شوے
اعلا درونـد عمل دُنیا کښې تل دفاع دَ محمد ﷺ ده
عملونو کښې اعلا تل ، اتباع دَ محمد ﷺ ده
درونـد سړې شوے هغه وخت طلبګار چې دَ ریښتیا شوے
تل دَ ختمِ نبوت محافظ کۀ په دُنیا شوے
محافظ دَ شریعت شه، پیروی دَ حق مذهب ده
حق خبره اے احمده ! دَ تمام عجم عرب ده
کۀ طالب دَ حقیقت شوے، مستحق دَ هر ښُکلا شوے
*********************

## د دینِ اسلام ښُکلا. .....نظم نمبر 42

ختمِ نبوت سره مذهب زمونږه ښکلے دے
پوره پوره دین مونږ ته دَ ربّ را رسیدلے دے
ختمِ نبوت سره بقا زمونږ د دین ده
ختمِ نبوت سره ښُکلا زمونږ د دین ده
دغه حقیقت ورو ،لویو ټولو منلے دے
ختمِ نبوت سره مذهب زمونږه ښکلے دے
ختمِ نبوت سره محفوظ ټول آیاتونه دی
ختمِ نبوت سره محفوظ ټول حدیثونه دی
دا خبر دُنیا کښې هر یو کور ته رسیدلے دے
ختمِ نبوت سره مذهب زمونږه ښکلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده سلسله دَ مُرسلانو ورسره شوله
بنده سلسله بیا دَ نبیانو ورسره شوله
آخیری رسول ،زمونږ نبی ﷺ دلته راغلے دے
ختمِ نبوت سره مذهب زمونږه ښکلے دے
اُوس چې څوك دعویٰ دَ نبوت كوی كافر به وی
اُوس چې څوك دعویٰ دَ رسالت كوی كافر به وی
غلط عقیدې سره شیطان راپریوتلے دے
ختمِ نبوت سره مذهب زمونږه ښکلے دے
دغه عقیده احمده ! دلته کښې زمونږه ده
دایمان حصه احمده ! دلته کښې زمونږه ده
ښهٔ خبر له دې نه ښاریه ده هریو کلے دے
ختمِ نبوت سره مذهب زمونږه ښکلے دے

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## امتیاز دَ مصطفیٰ ﷺ...نظم نمبر 44

دَ ختمِ نبوت كار دَ هرچا دَ پاره دے
اعزاز دا امتیاز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
ثابته مسئله ده دَ قران له ایاتونو
ثابته مسئله ده دَ حضور ﷺ له حدیثونو
دا كار په هرقدم ددین بقا دَ پاره دے
اعزاز او امتیاز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
له سلو نه سیوادی دلیلونه ایاتونه



دوه سوه نه سیوادی دَ محبوب ﷺ حدیثونه
بیان ښکاره واضحه د دُنیا دَ پاره دے
اعزاز دا امتیاز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
اُمت په دې خبره مُتَفقه متحد
ولاړ په دې خبره برابره مُتَحد
امت جمع مدام دَ خپل آقا ﷺ دَ پاره دے
اعزاز دا امتیاز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے
احمده ! عملونو کښې عمل بره اُوچت
عمل په عملونو کښې دے تل بره اُوچت
كار دلته دَ مولیٰ دا دَ رضا دَ پاره دے
اعزاز ، دا امتیاز دَ مصطفیٰ ﷺ دَ پاره دے

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## ختمِ نبوت والاعقیده ....نظم نمبر 45

عقیده زمونږه دَ ختمِ نبوت والا
آسانه دلته ذریعه ده دا جنت والا
محفوظ په دې سره اسلام پوره پوره تمام دے
باقی په دې مذهب پوره پوره اسلام دے
دَ دین اسلام دَ بُنیادونو حفاظت والا
عقیده زمونږه دَ ختمِ نبوت والا
څومره خائسته ده ورسره ښُکلا ددین جوړه ده
څومره خائسته ده ورسره بقا دَ دین جوړه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهــمــه دلتــه عــقیــده ددي اُمــت والا
عــقیــده زمــونــږه د ختــمِ نبــوت والا
ســلســلــه دي ســره ده بــنــده دَ نبیــانــو نــورو
بــنــده ده بــنــده ســلســلــه دَ رســولانــو نــورو
دروازه بــنــده ده تــمــامــه رســالــت والا
عــقیــده زمــونــږه دَ ختــمِ نبــوت والا
نیشتــه دَ شك گنجــائش دي کښــي یَو بشــر دَ پاره
نیشتــه دَ شك گنجــائش دي کښــي لــر او بــر دَ پاره
ډیــره عــظیــمــه عــقیــده ده فــضیلــت والا
عــقیــده زمــونــږه دَ ختــمِ نبــوت والا
ورســره دلتــه کښــي محــفــوظ دے دَ نبی ﷺ سیرت
ورســره دلتــه کښــي محــفــوظ دَ مدنی ﷺ سیرت
ذریــعــه تــل دَ رحــمتــونــو ده رحــمــت والا
عــقیــده زمــونــږه دَ ختــمِ نبــوت والا
پــه دي احــمــدعــلــی ایمــان پوره پوره ساتلے
اشــعــارو کښــي ئــي حــق بیان پوره پوره ساتلے
دا عــقیــده پــه عــقیــدو کښــي ســعــادت والا
عــقیــده زمــونــږه دَ ختــمِ نبــوت والا
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## خدمت دَ ختمِ نبوت.....نظم نمبر 45

دَ ختــمِ نبــوت خــدمــت ، چــا چي دلتــه کړے دے



میــنــه ورســره لــرمــه ، زړۀ ئي رانــه وُړے دے
دي کښــي اتبــاع ده دَ قــرآن پــه هــر قــدم
دي کښــي اتبــاع دَ حــق بیــان ده پــه عــالــم
قیــمتــی ددغي کــار کوُونکــے هــریــو غــړے دے
میــنــه ورســره لــرمــه ، زړۀ ئي رانــه وُړے دے
دي کښــي اتبــاع دَ حــدیثــونــو دَ نبــی ﷺ ده
دي کښــي هــر بشــر دَ پــاره دلتــه کــامیــابــی ده
کــار چي دا اعــلا نــۀ کــوی ، هغــه سړے مړے دے
نیشتــه دَ مــنــکــر حیثیــت ، یو وړوکــے زنــړے دے
دي کښــي پــوره پــوره دَ اصــحــابــوؓ اتبــاع ده
دُنیــا کښــي پــه دي خبــره شــوي هــم اجمــاع ده
اُونیســه رســي دَ اســلام ، دا دَ وحــدت پــړے دے
میــنــه ورســره لــرمــه ، زړۀ ئي رانــه وُړے دے
دي کښــي پــوره پــوره اتبــاع دَ عــالــمــانــو ده
دي کښــي پــوره پــوره اتبــاع دَ صــالــحــانــو ده
طــالــب دے احــمــدعــلی ، ددغي دریو چنړے دے
مــا ښــۀ کلك نیــولــے دَ اسلام د وحدت پــړے دے
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## ختمِ نبوت والا.... ......نـظم نمبر 46

لازم دے کــــاردلتــــــه دَ ختــمِ نبــوت والا
بُــنیــادی اهــم عــقیــده ده شــریــعــت والا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بقا په دي سره د دين ده عالمان وائي
بقا په دي سره ددين ده صالحان وائي
کار دي اعلا ډهال ددين دے حفاظت والا
لازم دے کار دلته دَ ختمِ نبوت والا
راغلے ذکر په قرآن کښې دا بيان ښکاره دے
اقرار کوُونکے ددې دلته مسلمان ښکاره دے
اهمه ډيره مسئله احزاب سورت والا
لازم دے کار دلته دَ ختمِ نبوت والا
پخپله ذکر پاك نبی ﷺ دلته ددې په جار کړے دے
ددې خبرې ذکر پاك نبی ﷺ بار بار کړے دے
بيان په دي کښې مسئله ده رسالت والا
لازم دے کار دلته دَ ختمِ نبوت والا
دَکشر ، مشر دَ هر ځوان دَ سعادت ذريعه
کار په دُنيا کښې دحُصول دَ شفاعت ذريعه
سعادت مند په هر قدم دے دا دولت والا
لازم دے کار دلته دَ ختمِ نبوت والا
تلل دی په لار دَ اولياء باندې دا کار چې کوی
تلل دی په لار دَ علماء باندې دا کار چې کوی
کارونو کښې کار اعلا درونډ عبادت والا
لازم دے کار دلته دَ ختمِ نبوت والا
ورسره مينه کوے ډير ډير ثوابونه دا دی



ورسره مينه کوے، ډير ډير رحمتونه دا دی
کار دے احمده ! نوراني تمام صفت والا
لازم دے کار دلته دَ ختمِ نبوت والا
★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

## ځان به دَ ناموسِ رسالت نه زار کړم ...( نظم 047)

ځان به دَ ناموسِ رسالت نه وروره زار کړم
هر ځۀ به په دغې عقيدې باندې نثار کړم
دغه په هر ځائې کښې هر محفل کښې زۀ به جار وايم
دغه زۀ هر ځائے کښې هر محفل کښې بار بار وايم
زۀ ددې خبرې ښه پوره پوره اظهار ك
ځان به دَ ناموسِ رسالت نه وروره زار کړم
ډيره ورسره لرمه مينه محبت زړه کښې
مينه ورسره لرمه ډيره هر ساعت زړه کښې
زړۀ به ورسره زۀ منوَره خُسندار کړم
هر ځۀ به په دغې عقيدې باندې نثار کړم
ډيرو په دنيا کښې ځان له دې نه قربان کړې دے
حال دهغې خلقو درنو ټول تاريخ ليکلې دے
ځان به دوی سره ملګرې زۀ په حقه لار کړم
هر ځۀ به په دغې عقيدې باندې نثار کړم
ليکمه احمدعلی شعرونه ملغرې دی
ځکه دَ ناموسِ رسالت ټولې خبرې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښهٔ واضحه دلته کښي بیان پوره ګفتار کړم
هر څهٔ به په دغې عقیدې باندې نثار کړم

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## دَ ختم نبوت منکران نهٔ منم....( نظم 48)

دَ ختم نبوت ټول منکران نه منم
دوستی ورسره دلته په هیڅ شان نه منم
شیطان سره دوستي کښي وی نقصان دَ هر بشر
شیطان سره دوستي کښي وی نقصان دَ لر او بر
دَ داسي دښمنانو ټول دوستان نه منم
دَ ختم نبوت ټول منکران نه منم
دَ لا نبی بعدی » فرمان نه پس هر خوا
دَ لا نبی بعدی » اعلان نه پس هر خوا
حضور ﷺ پسے دُنیا کښي رسولان نه منم
دَ ختم نبوت ټول منکران نه منم
بل نیشه دے کتاب دَ حضور ﷺ آخری کتاب دے
په ټولو کتابونو کښي کتاب دالاجواب دے
رښا دے رهنما بل دَ جهان نه منم
دَ ختم نبوت ټول منکران نه منم
احمده هر دښمن نه داسلام لرم نفرت
روا ورسره نهٔ کنم دُنیا کښي محبت
ګستاخه بې ادبه یو انسان نه منم



دَ ختم نبوت ټول منکران نه منم

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## دَ ختم نبوت ښکاره فرمان .....( نظم 49)

په سورتِ احزاب کښي دَ قران راغلے دے
دَ ختم نبوت ښکاره فرمان راغلے دے
قران ته کهٔ ته کیني او شورو کړے تلاوت
په غور او فکر سره ښه پوره چې کوم ساعت
بار بار په کښي واضحه دا اعلان راغلے دے
دَ ختم نبوت ښکاره فرمان راغلے دے
له څنو آیاتونو نه ثابت په اشاره دے
له څنو آیاتونو نه ثابت پوره ښکاره دے
دلیل قوی مضبوط دَ رب رحمان راغلے دے
دَ ختم نبوت ښکاره فرمان راغلے دے
په دې باندې پوهیږی دا دنیا کښي عالمان
په دې باندې پوهیږی عاشقان ټول دقرآن
دا دین چې مونږ دَ پاره له آسمان راغلے دے
دَ ختم نبوت ښکاره فرمان راغلے دے
احمده دَ قرآن سره پکار دے تعلق
هر چا له دا اعلا ښه مددګار دے تعلق
نجات لره دنیا کښي دا سامان راغلے دے
دَ ختم نبوت ښکاره فرمان راغلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما دَ ختم نبوت ملګرو .......( نظم 50)

زما دختم نبوت ملګرو !
خوروئ تاسو شریعت ملګرو!
تاسو دفاع کوے دَ خپل مذهب
مۀ مني حق نه سیوا بل مذهب
ستاسو پیغام دے صداقت ملګرو!
زما دختم نبوت ملګرو !
تاسو رښا تقسیموے دلته کښې
تاسو ښُکلا تقسیموے دلته کښې
د علم دین دَ وراثت ملګرو !
زما دختم نبوت ملګرو !
تاسو روان په نیغه لاره بانديِ
په لاره نیغه حُسنداره باندي
کوے دَ خپل دین حفاظت ملګرو!
زما دختم نبوت ملګرو !
لار دَ نبی ﷺ اختیاره کړے تاسو
ښۀ زندګی اختیاره کړے تاسو
دا لاره نیغه دَ جنت ملګرو!
زما دختم نبوت ملګرو !
مذهب په تاسو ښکلي ټول دلته کښې
شوه بستره دَ شیطان ګول دلته کښې



په تاسو دغه دے رحمت ملګرو!
زما دختم نبوت ملګرو!
احساس په زړۀ لرے بیداره خلقو
اے حق پرسته پرهیزګاره خلقو
تاسو عام کړے محبت ملګرو!
زما دختم نبوت ملګرو!
احمد په تاسو مدام فخر کوی
په تاسو خاص دی کۀ عام فخر کوی
بیانوے ټول حقیقت ملګرو!
زما دختم نبوت ملګرو!

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## دَ ختمِ نبوت دَ منکر او انکار سزا ......(نظم 51)

دَ ختم نبوت انکار وحدت تباه کوی
انکار سره منکر خپل آخرت تباه کوی
خندا ښکلا دنیا کښې ددُنیا دَ هر چمن
سکون په کائنات کښې دَ هر چا دَ هر یوتن
انکار سره سکون دَ زړه راحت تباه کوی
انکار سره منکر خپل آخرت تباه کوی
دَ ختم نبوت نه بغیر دین نه دے محفوظ
لـه دي اعلیٰ صفت نه بغیر دین نه دے محفوظ
انکار سره منکر هر یو نعمت تباه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



انکار سره منکر خپل آخرت تباه کوی

چمن دَ اسلام دلته ورسره په امن نه وی

وطن دَ اسلام دلته ورسره په امن نه وی

ذلیله انسان کورځان له جنت تباه کوی

انکار سره منکر خپل آخرت تباه کوی

انکار دَ رسالت احمده! هرخوا ناکامی ده

په هر قدم دنیا کښې رسوائی ده رُسوائی ده

محل دَ اُمیدونو هر ساعت تباه کوی

انکار سره منکر خپل آخرت تباه کوی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## کار کوه دَ ختم نبوت..............( نظم 52)

کار کوه دَ ختم نبوت مدام

زړۀ کښې به سکون راولی ستا تمام

دغه دَ سکون ده ذریعه اعلا

دا دَ ښه ژوندون ده وسیله اعلا

عام کړه هر طرف ته دَ مولیٰ پیغام

کار کوه دَ ختم نبوت مدام

دغۀ دَ محشر ګټه هر چا له ده

ښه اعلا بهتر ګټه هر چاله ده

دي کښې رب پټ کړے دے اعلا مقام

کار کوه دَ ختم نبوت مدام



عامه وظیفه ده ښه اسانه ده

وایه په څه ځیز تا ته دا ګرانه ده؟

هم سبب محشر کښې دے دَ هر انعام

کار کوه دَ ختم نبوت مدام

پاتې نشی تا نه وظیفه دغه

کار کوه احمده! تذکره دغه

ښکلې دے شیرین نظم او چت کلام

کار کوه دَ ختم نبوت مدام

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## کار چې دَ ختم نبوت نۀ کوی ......(نظم 53)

کار چې دَ ختم نبوت نۀ کوی

فکر هغه دَ آخرت نۀ کوی

محروم به شی له جنتونو نه بیا

محروم به شی له نعمتونو نه بیا

فکر چې څوک هم دَ جنت نۀ کوی

کار چې دَ ختم نبوت نۀ کوی

نیشته سکون نیشه راحت ورله بیا

نیشته سکون نیشته برکت ورله بیا

کار چې څوک هم دَ برکت نۀ کوی

کار چې دَ ختم نبوت نۀ کوی

ورته به قُرب دَ نبی ﷺ نۀ څنګ ملاؤ شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته به قُرب دَولی ښکلی ملاؤ شی
عمل چي څوك چي نور سنت نۀ کوی
کار چي دَ ختم نبوت نۀ کوی
نۀ دي ساتی طمع دَ خير دَ رحمت
نۀ دي ساتی طمع دَ خير سعادت
چي دَ قرأن څوك تلاوت نۀ کوی
کار چي دَ ختم نبوت نۀ کوی
نۀ به عزت په يو مقام اُومومی
نۀ به مينه دَ خاص او عام اُومومی
احمده ! څوك چي محبت نۀ کوی
کار چي دَ ختم نبوت نۀ کوی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## کار چي دَ ختم نبوت نۀ کوی .......( نظم 54)

کار چي دَ ختم نبوت کوی په مينه مينه
مدام دي دغه هر ساعت کوی په مينه مينه
په دغي کار سره جنت هريو بشر لره دے
په دغي کار سره راحت هريو بشر لره دے
مدام دے دغه عبادت کوی په مينه مينه
مدام دي دغه هر ساعت کوی په مينه مينه
رضا په دي کښي دَ رسول اللّٰه ﷺ دَ ذات پټه ده
ښکلا په دي کښي دَ ژوندون دکائنات پټه ده



عمل دے دغه دَ رحمت کوی په مينه مينه
مدام دي دغه هر ساعت کوی په مينه مينه
اهم دا کار دَ شريعت دلته دے ښۀ پوهيږم
تميز دَ ښۀ او بد لره احمد زۀ پوهيږم
عمل مدام دے دا اُوچت کوی په مينه مينه
مدام دي دغه هر ساعت کوی په مينه مينه

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## په ناموسِ رسالت باندي قربان يُو......( نظم 55)

کۀ هر څو مره مونږ کمزوری په جهان يو
خو بيا هم په ناموسِ رسالت ﷺ باندي قربان يُو
تن او من کښي دَ حضور ﷺ سره لرو مينه
کور چمن کښي دَ حضور ﷺ سره لرو مينه
مونږ ددغي در په سچه غلامان يُو
کۀ هر څو مره مونږ کمزوری په جهان يو
زمونږ تن په دغي مينه باندي پائی
دا بدن په دغي مينه باندي پائی
دروغژن نۀ يو په سچه عاشقان يُو
کۀ هر څو مره مونږ کمزوری په جهان يو
په حضور ﷺ دَ رسالت دروازه بنده
ښه اعلا دَ نبوت دروازه بنده
مونږ خبر له احاديث نه له قرأن يُو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ هر څو مره مونږ کمزوري په جهان یو
زۀ احمد ددغي در غلام ګدا یم
زۀ صادقه ددنیا په دي وینا یم
خبردار له دي خبر له دي اعلان یُو
کۀ هر څو مره مونږ کمزوري په جهان یو
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**دَ ختمِ نبوت دښمن تباه دے ......( نظم 56)**

تباه دے او تباه هغه ددین اسلام دښمن دے
دَ ختم نبوت چي دَ خیر الانام ﷺ دښمن دے
چي نه مني اهمه مسئله دلته کښي دا څوك
ددین د شریعت هغه په هر مقام دښمن دے
ذلت او رسوائي ئي په انکار سره انجام دے
څوك دلته په دنیا کښي چي دَ حق پیغام دښمن دے
محشر کښي به محرومه وي دَ قُرب نه دحضور ﷺ
دا دلته په دنیا چي دَ سنت تمام دښمن دے
دَ میني محبت ورسره نه کیږي خبرے
احمده! چي دا دلته ستا سحر ماښام دښمن دے
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**دَ ختمِ نبوت منکر تباه دے ..........( نظم 57)**

دَدین دَ شریعت چي وي منکر هغه تباه دے
دَ ختم نبوت چي وي منکر هغه تباه دے



بیشکه دا خبره ښه قوي ده برابره
دَ حق دَ حقیقت چي وي منکر هغه تباه دے
په جار له دي خبري نه خبر کړه ټول جهان
مدام دَ صداقت چي وي منکر هغه تباه دے
منکره دَ توحید چي څنګ محرومه له ایمان وي
بیشك دَ رسالت چي وي منکر هغه تباه دے
دَ سلو ایاتونو نه انکار هغه بشر کړي
دَ لفظ نه دَ ایت چي وي منکر هغه تباه دے
په دغي مسئله باندي ښه پوهه عالمان دي
هر خواته دَ نعمت چي وي منکر هغه تباه دے
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**چي دَ ناموسِ رسالت خبري نۀ کوي .......( نظم 58)**

څوك چي دَ ناموسِ رسالت خبري نۀ کوي
هغه دَ دنیا په ژوند کښي څۀ کوي
نور دَ ژوند مقصد څۀ دے؟ تۀ وایه
نور راته ووایه نور څۀ ښۀ کوي
کار دغه عظیم دَ لویو خلقو دے
کار که دا په شوق کۀ لوئي، وارۀ کوي
دا عظیم عمل لوئي عبادت خوا
دي نه بس اعراض خلق ړاندۀ کوي
ډیر دَ سعادت خبري دي ټولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درونــد پــه درنــه ستــرګــه بــه کـاتــهٔ کـوی
کیـنــه ! چــې تــا پـو هــه عـالـمـان کـړی ښـهٔ
قــدر دَروزې چـــې دَمـــانـځـــه کـوی
دغـــه حـقـیـقــت احـمـده ! تـول دَژونـد
لـــه حـق نــه انـکـار بـدبـخـت کـاوه کـوی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## دَ ختمِ نبوت دَ منکر انجام.......( نظم 59)

دَ ختـم نبـوت هـریـو منـکـر سـړي تبـاه دے
پــه هــر مـقــام رسـوا بــه وی رسـوا دے
پــه هـر طـرف بــه وی هـغــه ذلیـلــه
روان چــې څـوك وی هــرخـوا بــې دلیـلــه
ډیـر لـړي پـه دنیـا کښـې هغـه دلتـه لـه مولا دے
دَ ختـم نبـوت هـریـو منـکـر سـړي تبـاه دے
هـرخـوا هـغـه بشـر دے پـه تیارو کښـې ګرفتـاره
پــه تـن بـدن سـره پـوره هـغــه سـړي بیمـاره
سـکـون نـه لرے لرے هرطرف تـه پـه دنیا دے
دَ ختـم نبـوت هـریـو منـکـر سـړي تبـاه دے
لــه هـرچـانــه بـدتـره پـه دنیـا لـری انجـام
لــه هـرچـانـه بدتـره پـه هـرخـوا لـری انجـام
روان پـه کـړه لاره ، حق پـرسـت نـه دے ګمراه دے
دَ ختـم نبـوت هـریـو منـکـر سـړي تبـاه دے



دَ خپـلـواو پـردو هـغــه دښمـن پـه هر طرف دے
دَ لـویـو اووړو هـغــه دښمـن پــه هـرطـرف دے
دښـمـن دَ هـرولـی دَ هر عـالـم احمده ! ستـا دے
دَ ختـم نبـوت هـریـو منـکـر سـړي تبـاه دے

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## حدیث : اَنَا خَاتَمُ النَّبِیِّین ........( نظم 60)

فــرمــان دَ پـاك نبـی ﷺ ، اعـلا دے بهتـریـن
اَنَـا خَـاتَـمُ الـنَّبِیِّیـن ، اَنَـا خَـاتَـمُ الـنَّبِیِّیـن
فـــرمـــان دا حـــق دَ پـــاك نبـــی ﷺ دے
فـــرمـــان دا حـــق دَ مـــدنـــی ﷺ دے
دا عـــقیـــده لـــرم ، پـــه دي لـــرم یـــقیـن
فــرمــان دَ پـاك نبـی ﷺ ، اعـلا دے بهتـریـن
بُـــنـیـــاد زمـــونـــږه دَ اســلام دے
خبـــر لـــه دي نـــه خـــاص او عـــام دے
اعــلا صــفـــت دَ رَحْـمَةٌ لِّـلْـعٰـلَـمِیْـن
فــرمــان دَ پـاك نبـی ﷺ ، اعـلا دے بهتـریـن
رڼـــا رڼـــا دا عـــقیـــده ده
صـــفـــا صـــفـــا دا عـــقیـــده ده
تـل پـــه دي سـره ده بـقـا زمـونـږ دَ دیـن
فــرمــان دَ پـاك نبـی ﷺ ، اعـلا دے بهتـریـن
دا چـــې مـــنـــی نـــو مسـلـمـــان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثابت مفهوم دغه عنوان دے
نه منی دغه په دُنیا کښې منکرین
فرمان دَ پاك نبی ﷺ، اعلا دے بهترین
انکار له دي، انکار له دین دے
بیان ښکاره واضحه سپین دے
شان امتیاز دے دصادق او دامین ﷺ
فرمان دَ پاك نبی ﷺ، اعلا دے بهترین
شته په حدیث کښې په قرآن کښې
احمده! شته په حق بیان کښې
منی به دغه چې په دین وی څوك مئیین
فرمان دَ پاك نبی ﷺ، اعلا دے بهترین

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## په ختم نبوت باندې ایمان زۀ لرم.....( نظم 61)

په ختم نبوت باندې ایمان زۀ لرم
حسینه عقیده په ټول جهان زۀ لرم
ثابته له قرآنه دا حسینه عقیده ده
ثابته له قرآنه دا عظیمه عقیده ده
دلیل په دې خبره عالیشان زۀ لرم
په ختم نبوت باندې ایمان زۀ لرم
واضحه فرمائیلی دی زمونږه خوږ نبی ﷺ
دَ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ ښکاره اعلان کوی



دلیل دا په قرآن پسے روښان زۀ لرم
په ختم نبوت باندې ایمان زۀ لرم
اصحاب دَ پیغمبر ﷺ ددې خبرې ټول ګواه
چې دا نۀ منی دلته کښې هغه به وی رُسوا
د دین دَ شریعت دا حق بیان زۀ لرم
په ختم نبوت باندې ایمان زۀ لرم
کافر سړي سرکشه تل له دغې وی منکره
خبره ستا احمدعلی! ده ټوله معتبره
توښه دَ آخرت په هر مکان زۀ لرم
په ختم نبوت باندې ایمان زۀ لرم

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## قربان دَ ختم نبوت دَ عقیدې نه ......( نظم 62)

قربان شمه دَ ختم نبوت دَ عقیدې نه
قربان شمه له دغې حق اهمې مسئلې نه
له دې نه قربان شوی دی اصحاب دَ پیغمبر ﷺ
عالَم له دې نه دلته کښې پوره دے ښۀ خبر
خوشبو راځی له دې وجې له هغې در کوڅې نه
قربان شمه دَ ختم نبوت دَ عقیدې نه
قربان له دې نه ښکلی ښکلی دلته علماء دی
قربان له دې نه دلته اولیاء دی صلحاء دی
پوره پوره خبر کړه ځان له دُوی دَ تذکرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربان شمه دَ ختم نبوت دَ عقیدې نه
غازی علم الدین دے او کۀ نور دی شهیدان
ناموس رسالت باندې په سچه دی قربان
اګاه ساته خپل ځان دداسې خلقو مرتبې نه
قربان شمه دَ ختم نبوت دَ عقیدې نه
په دې سره به قُرب راته ملاؤ شی دَ نبی ﷺ
په دې به راته راکړی دَ سکون رب زندګی
اګاه یمه پوره احمدعلی خبر له دې نه
قربان شمه دَ ختم نبوت دَ عقیدې نه

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## دَ ختمِ نبوت چې عقیده وی ......( نظم 63)

دَ ختم نبوت چې عقیده په دې جهان وی
ذلیله او رُسوا به دَ اسلام ټول دُښمنان وی
په دې سره ده بنده دروازه دَ رسالت
په دې سره ده بنده دروازه دَ نبوت
محفوظ به شریعت دَ مُرسلانو دَ سلطان ﷺ وی
ذلیله او رُسوا به دَ اسلام ټول دُښمنان وی
دا ټوله نقل شوے عقیده له ایاتونو
دا ټوله نقل شوے عقیده له حدیثونو
چې دا منی نو هله به صادقه مسلمان وی
ذلیله او رُسوا به دَ اسلام ټول دُښمنان وی



عاقله ښۀ هوښیار چې وی په دغې ښه پوهیږی
په دې ورته به قُرب دَ پاك نبی ﷺ هم ملاویږی
چې دا منی له دۀ نه به خفه هریو شیطان وی
ذلیله او رُسوا به دَ اسلام ټول دُښمنان وی
احمدعلی اعلان ددې خبرې ښۀ په جار کړی
دَ ختم نبوت دَ عقیدې ښکاره اقرار کړی
ترکومه پورې دلته چې موجود دَ رب فرمان وی
ذلیله او رُسوا به دَ اسلام ټول دُښمنان وی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## ختمِ نبوت زړه کښې مینه همیشه غواړی .( نظم 64)

ختم نبوت زړۀ کښې مینه همیشه غواړی
مونږ نه قربانی هرخوا دغه عقیدۀ غواړی
تاکۀ اوریدلې وی دَ اسلام تاریخ پوره
یا کۀ تا لوستلې وی ښه تمام تاریخ پوره
اسلامی نظام پوره ،دَ اسلام نقشه غواړی
مونږ نه قربانی هرخوا دغه عقیدۀ غواړی
لوئې واړه په دې باندې دلته قربان شوی دی
اوګوره تاریخ پوره ډیر شهیدان شوی دی
هرخوا دَ اسلام بره دلته کښې جهنډه غواړی
مونږ نه قربانی هرخوا دغه عقیدۀ غواړی
شر ختموی دلته کښې اوګوره تاریخ پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر ختموی دلته کښې اوګوره تاریخ پوره
نهٔ غواړی فساد او شر، نهٔ ماحول ګنده غواړی
مونږ نه قربانی هرخوا دغه عقیدهٔ غواړی
حق لیکی احمدعلی، حق سره ملګرے دے
ښه خائسته ئې دا نظم ټول پوره لیکلے دے
ځان له دَ نجات سبب، رب نه ښهٔ توښه غواړی
مونږ نه قربانی هرخوا دغه عقیدهٔ غواړی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## ختم نبوت سره چې مینه دَ هرچا وی ......( نظم 65)

ختم نبوت سره چې مینه دَ هرچا وی
هغه په محشر کښې به ملګرې دَ آقا ﷺ وی
دغه حقیقت دے څوك له دې نه انکار نهٔ کوی
هرچا له پکار دی چې دفاع ددغې ښهٔ کوی
هریو محافظ دَ دین اُوچت به وی بالا وی
هغه په محشر کښې به ملګرې دَ آقا ﷺ وی
پټ په رحمتونو کښې وی داسې نورانی بشر
پټ په نعمتونو کښې وی داسې نورانی بشر
قَدبه ئې په خلقو کښې اُوچت ښهٔ خامخا وی
هغه په محشر کښې به ملګرې دَ آقا ﷺ وی
دغه مینه هرچاله ده هرخوا دَ نجات سبب
دغه په دُنیا کښې دَ سکون دَ ښهٔ حالات سبب



چا سره دَ ختم نبوت چې نُور رڼا وی
هغه په محشر کښې به ملګرې دَ آقا ﷺ وی
هغه اولیاء سره ملګرې به هرخواته وی
هغه علماء سره ملګرې به هرخواته وی
قدر ددې خلقو به قسم دے په رښتیا وی
هغه په محشر کښې به ملګرې دَ آقا ﷺ وی
زهٔ احمدعلی ورسره مینه محبت لرم
مینه هر ادا سره دَ پاك نبی ﷺ حضرت لرم
چا سره چې دا مینه په زړهٔ ددې دنیا وی
هغه په محشر کښې به ملګرې دَ آقا ﷺ وی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## خادم دَ ختمِ نبوت یمه زهٔ......( نظم 66)

سپاهی دَ دین دَ شریعت یمه زهٔ
خادم دَ ختم نبوت یمه زهٔ
په هر قدم به دغه کار کومه
له هر باطل نه به انکار کومه
خوشحاله تل په دې خدمت یمه زهٔ
خادم دَ ختم نبوت یمه زهٔ
راکوی زړونو ته سکون زمونږه
رڼاکوی زړونه، ژوندون زمونږه
په دې سره تل په راحت یمه زهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم دَ ختم نبوت یمه زهٔ
دلته دا کار دے ښهٔ اعلا دَ جهان
باقی په دي سره دَ هر چا ایمان
محفوظ له شر له شرارت یمه زهٔ
خادم دَ ختم نبوت یمه زهٔ
هر یو لمحه ددي عمل عبادت
احمده! دا کوه دا تل عبادت
په دي خوشحاله هر ساعت یمه زهٔ
خادم دَ ختم نبوت یمه زهٔ

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## په ختمِ نبوت خپل مال اوزر قربانوه ......( نظم 67)

په ختم نبوت خپل مال اوزر قربانوه
ناموسِ رسالت ﷺ باندي خپل سر قربانوه
دَ ډیرو کمو خلقو په نصیب کښي دا عزت دے
دَ ډیرو کمو خلقو په نصیب دا فضیلت دے
له حقي عقیدي نه لر او بر قربانوه
ناموسِ رسالت ﷺ باندي خپل سر قربانوه
دا هر څهٔ دَ الله دی چي دا تاسره موجود دی
اعلا دی کهٔ ادنیٰ دی چي دا تاسره موجود دی
له دغي مال نه مال ښهٔ دَ قدر قربانوه
ناموسِ رسالت ﷺ باندي خپل سر قربانوه



تاریخ په دي ګواه دے ډیر دی خلق قربان شوی
په دغي لاره دلته کښي ډیر زیات شهیدان شوی
دا خیر دے کهٔ بي کوره شوے ، خپل در قربانوه
ناموسِ رسالت ﷺ باندي خپل سر قربانوه
دَ وعظ او نصیحت نه ډك شعرونه دَ احمد دی
درانهٔ درانهٔ خائسته ښکلی لفظونه دَ احمد دی
وختونه قیمتی خپل برابر قربانوه
ناموسِ رسالت ﷺ باندي خپل سر قربانوه

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## اَمرِ ختمِ نبوت..................( نظم 68)

حفاظت دے حفاظت
امر ختم نبوت
دَ اسلام دَ شریعت
امر ختم نبوت
دَ اسلام بقا په دي
دَ اسلام رڼا په دي
ټول عزت دے ټول عظمت
امر ختم نبوت
دا ایمان دغه اسلام
په دي پوهه هر امام
یو حصه دَ پاك سیرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر ختم نبوت
رضادي کښې دَ نبی ﷺ
دا خبر پوره قوی
ښه کامل پوره حجت
امر ختم نبوت
دَ جنت دا ذريعه
دَ رحمت دا وسيله
لاثانی دَ ژوند دولت
امر ختم نبوت
تل منل دی ضروری
يادوُل دی ضروری
احمد وائی هر ساعت
امر ختم نبوت

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## خاتم الانبياء محمد هاشمی ﷺ...(نظم 69)

خاتم الانبياء ﷺ، محمد هاشمی ﷺ
اخرين ﷺ اخری ، دا نبی ﷺ دا نبی ﷺ
هر صفت سره دُوی ، دی ممتاز له اول
په مقام او رُتبه کښې اُوچت له ازل
بهترين ﷺ، بهترين ﷺ، قريشی ﷺ قريشی ﷺ
اخرين ﷺ اخری ، دا نبی ﷺ دا نبی ﷺ



هر صفت ئې اعلا ، هر صفت ئې بالا
شريعت ئې بالا ، ټول سيرت ئې بالا
دَ الله خوښ ښۀ ډير مدنی ﷺ مدنی ﷺ
اخرين ﷺ اخری ، دا نبی ﷺ دا نبی ﷺ
هر يو نوم ئې سم ګل ، معطر دَ جهان
معطر دَ رسول ﷺ هر محفل هر مکان
لاثانی ﷺ، لاثانی ﷺ، صفتی ﷺ، صفتی ﷺ
اخرين ﷺ اخری ، دا نبی ﷺ دا نبی ﷺ
معجزات ئې ښه ډير، حقيقت ښۀ عيان
معجزه ئې اعلا دَ مولا حق قرآن
دَ صادق ﷺ او امين ﷺ سره هم عربی ﷺ
اخرين ﷺ اخری ، دا نبی ﷺ دا نبی ﷺ
حق منم له اول زۀ احمد دا بيان
هر يو ځيز په دنيا شه له دُوی نه قربان
قربانوومه هر خوا دغه خپل تن له دوی
اخرين ﷺ اخری ، دا نبی ﷺ دا نبی ﷺ

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## نبوت ختم دَ نبيانو په سلطان ﷺ دے....(نظم 70)

نبوت ختم دَ نبيانو په سلطان ﷺ دے
په دې زما ايمان دے ملګرو ! ټول ګواه شے
دا عقيده زمونږ دَ ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَورو، لويو، او همځولو
په جار زما په هر طرف دغه اعلان دے
په دې زما ايمان دے ملګرو ! ټول ګواه شے
دَ پاك الله رضا په دې ده
دَ مصطفىٰ ﷺ رضا په دې ده
دَ كاميابې پوره پوره دَ ژوند سامان دے
په دې زما ايمان دے ملګرو ! ټول ګواه شے
بدله په دې سره جنت ده
وسيله دا دَ هر نعمت ده
ايمان هر خوا په دې باقى دَ مسلمان دے
په دې زما ايمان دے ملګرو ! ټول ګواه شے
ثابت په ډيرو دليلونو
په حديثونو ايـاتونو
اجماع سره احمده ! حكم ښه عيان دے
په دې زما ايمان دے ملګرو ! ټول ګواه شے
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## دفاع دَ ختم نبوت كوُو .........( نظم 71)

دفاع چې دَ آقا ﷺ مونږه دَ ختم نبوت كوُو
پرچار به خامخا مونږه دَدين دَ شريعت كوُو
ميئن په عقيده يُو دَ حضور ﷺ په ټول عالم
ختميږى ورسره دَ هر بشر هرخواته غم



وفا دې عقيدې سره به مونږه هر ساعت كوُو
پرچار به خامخا مونږه دَ دين دَ شريعت كوُو
زمونږ به دَ بخشش دا ذريعه وى په محشر
زمونږ به دَ بخشش دا وسيله وى برابر
مونږ داسې وسيلې سره مدام به محبت كوُو
پرچار به خامخا مونږه دَ دين دَ شريعت كوُو
سبب به په محشر وى دَ حضور ﷺ دَ شفاعت
سبب به په محشر وى دَ حضور ﷺ دَ محبت
دَ داسې وسيلو به مونږ هرخواته حفاظت كوُو
پرچار به خامخا مونږه دَ دين دَ شريعت كوُو
ثابت له احاديثو نه، ثابته له قرآنه ده
احمده ! عقيده دغه ثابته عاليشانه ده
په هر قدم به مونږ دَ رب دَ حكم اطاعت كوُو
پرچار به خامخا مونږه دَ دين دَ شريعت كوُو
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## سبق دَ ختم نبوت زده كړه......( نظم 72)

سبق دَ ختم نبوت زده كړه
خپلو بچو ته شريعت زده كړه
پوره پوره ئې كړه خبر له دې نه
خبر پوره كړه هر بشر له دې نه
سبق پوره دَ رسالت زده كړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو بچو ته شریعت زده کړه
سل آیاتونو کښې سبق دغه یَو
په حدیثونو کښې سبق دغه یَو
هغه حدیث هریو آیت زده کړه
خپلو بچو ته شریعت زده کړه
اعلا سبق دے هر بشر دَ پاره
ښکاره سبق دے لرا و بر دَ پاره
سبق دَ نور دَ هدایت زده کړه
خپلو بچو ته شریعت زده کړه
پوره پوره کړه مور خبر له دي نه
پوره پوره کړه کُور خبر له دي نه
هریو ته حق ټول حقیقت زده کړه
خپلو بچو ته شریعت زده کړه
په کښې غفلت نهٔ دے پکار هیڅ کله
مهٔ کړه له دغي نه انکار هیڅ کله
هریو دَ کار اعلا صفت زده کړه
خپلو بچو ته شریعت زده کړه
اُوکړه محنت خپلو بچو سره هم
محنت پکار دے دَ پردو سره هم
قرآن نه هریو نصیحت زده کړه
خپلو بچو ته شریعت زده کړه



وائي احمدعلی په جار ټولو ته
کوی دَ حق بیان اظهار ټولو ته
دَ خپل نبی ﷺ پوره سیرت زده کړه
خپلو بچو ته شریعت زده کړه
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

ختم نبوت دے ..............(نظم 73)

اسلام مذهب دے زمونږ دین دے شریعت دے
ختم نبوت دے وروره ! ختم نبوت دے
سل آیاتونه دَ قرآن دی
حق دلیلونه په جهان دی
هریو په ختم رسالت پوره حجت دے
ختم نبوت دے وروره ! ختم نبوت دے
مسئله ښه اهمه دغه
یاده ساته بنی آدمه !
په صفتونو کښې صفت دَ پاك حضرت ﷺ دے
ختم نبوت دے وروره ! ختم نبوت دے
اجماع په دي دَ صحابه رض شته
اجماع په دغي عقیده شته
متفق دي باندي دَ پاك نبی ﷺ امت دے
ختم نبوت دے وروره ! ختم نبوت دے
حق دَ احمدعلی بیان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاره واضحه دا اعلان دے
منلي شوي ددي هرخوا اهميت دے
ختم نبوت دے وروره! ختم نبوت دے
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## دَ ختم نبوت نه چې منکروی ......( نظم 74)

منکره چې له ختم نبوت نه شی انسان
ملګري په دي کار سره هغه شی دَ شيطان
منکر شی هغه دلته کښې له سلو اياتونو
منکر شی هغه دلته کښې له ډيرو حديثونو
محرومه شی دنيا کښې بيا دولت نه له ايمان
ملګري په دي کار سره هغه شی دَ شيطان
منکره له اجماع شی دَ اصحابو دَ نبی ﷺ
بدبخته شی دښمن په هر طرف دَ هرولی
دَ اُور دَ جهنم شی په طرف هغه روان
ملګري په دي کار سره هغه شی دَ شيطان
روان شی په طرف هغه تيروته دَ عالم
ګمراه چې په دُنيا شی کله دا بنی ادم
خفه چې کله دۀ نه په دنياشی پاك سبحان
ملګري په دي کار سره هغه شی دَ شيطان
احمده ! په ذلت کښې دَ جهان شی ګرفتار
دَ ختم نبوت نه چې کله اُوکړی انکار



هروختی هر ساعت وی په تکليف کښې په لړزان
ملګري په دي کار سره هغه شی دَ شيطان
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## ښکلې دَ ختم نبوت عقيده.........( نظم 75)

ښکلي دَ ختم نبوت عقيده
دا دَ اسلام دَ حفاظت عقيده
دغه هرخوا دَ کاميابي ذريعه
منم هرخوا دَ کاميابي وسيله
اهمه تل دَ شريعت عقيده
ښکلي دَ ختم نبوت عقيده
ثابته دغه له قرانه ټوله
ثابته دا له حق بيانه ټوله
درنه اعلا په هر صفت عقيده
ښکلي دَ ختم نبوت عقيده
حديث ګواه په دي خبره پوره
پخه خبره معتبره پوره
تل دَ اسلام ده دَ عظمت عقيده
ښکلي دَ ختم نبوت عقيده
احمده! ښکلي دا تمامه ټوله
ثابته دغه له اسلامه ټوله
وی به زما تل هر ساعت عقيده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي دَ ختم نبوت عقيده
دَ خوږ نبی ﷺ دَ فضيلت عقيده
ښکلي دَ ختم نبوت عقيده

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## په ختم نبوت راوړل ايمان ضروري...( نظم 76)

په ختم نبوت راوړل ايمان ضروری
هرچا له په دنيا دی په جهان ضروری
بغير له دې نه نيشته دے څه لاره دَ نجات
دا لاره په دنيا هر چا دَ پاره دَ نجات
په دې لاره دی تلل دَ هر انسان ضروری
په ختم نبوت راوړل ايمان ضروری
ثابت دے له قرآن نه اهميت ددې خبرے
ثابت دے حق بيان نه فضيلت ددې خبرے
منل دا آياتونه ، دا قرآن ضروری
په ختم نبوت راوړل ايمان ضروری
حديث دَ پيغمبر ﷺ دا مسئله ده بيان کړے
حديث دَ پيغمبر ﷺ دا عقيده ده عيان کړے
منل دی هر خبر دَ خوږ جانان ﷺ ضروری
په ختم نبوت راوړل ايمان ضروری
اصحابو رض نه ثابت په دې خبره اتفاق دے
هريو پوره کامله په سيرت په ښۀ اخلاق دے



منل دی دغه ټول په مسلمان ضروری
په ختم نبوت راوړل ايمان ضروری
احمده! هيره نۀ کړے دا اهمه مسئله
هيڅ له پټه نۀ کړے له عالمه مسئله
ددين دے حفاظت په هر مکان ضروری
په ختم نبوت راوړل ايمان ضروری

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## دفاع چې دَ ختم نبوت کوی.........( نظم 77)

دفاع چې دَ ختم نبوت کوی کامياب دی
کار چې مدام دَ شريعت کوی کامياب دی
بدله په دې دَ رب مولا رضا ده
بدله په دې سره دَ تن ښُکلا ده
پيروُی څوک چې دَ حضرت ﷺ کوی کامياب دی
دفاع چې دَ ختم نبوت کوی کامياب دی
عمل دَ خير دَ سعادت دغه دے
عمل دَ ګټې هر ساعت دغه دے
عمل چې څوک دَ سعادت کوی کامياب دی
دفاع چې دَ ختم نبوت کوی کامياب دی
کار دغه کړے هريو دوست دَ نبی ﷺ
کار دغه کړے هر امام مقتدی
قدر چې څوک ددې دولت کوی کامياب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاع چې دَ ختم نبوت کوی کامیاب دی
کار دغه کړے اولیاء په ژوندون
کار دغه کړے علماء په ژوندون
مدام چې څوك دا عبادت کوی کامیاب دی
دفاع چې دَ ختم نبوت کوی کامیاب دی
په شوق لیکمه زهٔ اشعار دغه تول
اعلان کومه زهٔ بار بار دغه تول
کار چې هر څوك دا هر ساعت کوی کامیاب دی
دفاع چې دَ ختم نبوت کوی کامیاب دی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**مفهوم چې څوك دَ ختم نبوت نه پیژنی....(نظم 78)**

مفهوم چې څوك دَ ختم نبوت نه پیژنی
هیڅ نه پیژنی، چې رسالت نهٔ پیژنی
اهمه عقیده په عقیدو کښې دَ اسلام ده
اهمه عقیده په عقیدو کښې دا تمام ده
دې رونډ بنیاد چې څوك دَ شریعت نه پیژنی
هیڅ نه پیژنی، چې رسالت نهٔ پیژنی
پکار دی مسلمان له چې له دغې ښهٔ خبر وی
هر وختې هر ساعت په حق ددهٔ مدام نظر وی
گمراه دے چې رښا حق هدایت نه پیژنی
هیڅ نه پیژنی، چې رسالت نهٔ پیژنی



قرآن سره به نهٔ لری هیڅ هغه تعلق
رحمان سره به نهٔ لری هیڅ هغه تعلق
دُنیا کښې چې دَ پاك نبی ﷺ سیرت نهٔ پیژنی
هیڅ نه پیژنی، چې رسالت نهٔ پیژنی
حدیث به څنگ اُوپیژنی دَ سیدا لوریٰ ﷺ
روان چې په غلطه وی په لاره دَ دُنیا
سبب چې دَ رحمت څوك دَ برکت نهٔ پیژنی
هیڅ نه پیژنی، چې رسالت نهٔ پیژنی
اجماع نه پیژنی هغه بشر دَ شریعت
دلیل نه پیژنی هغه پوره دَ معرفت
احمده! حقیقت دے حقیقت نه پیژنی
هیڅ نه پیژنی، چې رسالت نهٔ پیژنی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**مفهوم دَ ختم نبوت پیژندل ......(نظم 79)**

مفهوم دَ ختم نبوت پیژندل
لازم دی روح دَ شریعت پیژندل
صرف دَ ژبې په اقرار نه کیږی
زړهٔ نه دی دغه حقیقت پیژندل
هریو دلیل دَ دې خبرې پوره
هریو حدیث هریو آیت پیژندل
گټه دَ ځان ده د جهان دلته کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم دَ پاك ربُ العزت پيژندل
سبق ښودل دی دا بچو خپلو ته
قدر ددي عظيم نعمت پيژندل
هريو دليل دَ شريعت په دي شته
په دي سره دی تول سيرت پيژندل
دَ حفاظت دَ دين اسلام ذريعه
روح دَ اسلام دَ عبادت پيژندل
حق دی احمده! ستا خبرے تولے
مقصد دي ستا هريو صفت پيژندل
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## ختم نبوت دَ مُرسلانو په سردار ﷺ دے....(نظم 80

ختم نبوت دَ مُرسلانو په سردار ﷺ دے
دا مي عقيده ده ، دا اعلان زما په جار دے
هغه په نبيانو کښي له تولو مقدم دے
غوره په عربو کښي دے غوره په عجم دے
لوئي مقام لرونکي محمد خير الابرار ﷺ دے
دا مي عقيده ده ، دا اعلان زما په جار دے
داسي عقيده لرمه هرطرف ته دلته کښي
پاکه نظريه لرمه هرطرف ته دلته کښي
ښکلي هرگفتار نه دَ رسول اللّه ﷺ گفتار دے
دا مي عقيده ده ، دا اعلان زما په جار دے



بنده دروازه دَ رسالت ده ورسره دلته
بنده دروازه دَ نبوت ده ورسره دلته
اخيري نبي ﷺ محبوب دَ حق پروردیگار دے
دا مي عقيده ده ، دا اعلان زما په جار دے
دي باندي دليل دَ پاك اللّه عظيم کتاب دے
تل په دليلونو کښي دليل ښۀ لاجواب دے
رهنما رهبر په هر مقام دَ نيغي لار دے
دا مي عقيده ده ، دا اعلان زما په جار دے
هم په حديثونو کښي بيان دغه مفهوم دے
ډيرو حديثونو کښي بيان دغه معلوم دے
دَ اُمت اجماع سره ددي شوي اظهار دے
دا مي عقيده ده ، دا اعلان زما په جار دے
دغه دَ احمدعلی بيان حقه وينا ده
پاکه عقيده دَ علماء دَ اولياء ده
ذکر ئي هرخواته زيات بيحده مزيدار دے
دا مي عقيده ده ، دا اعلان زما په جار دے
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## څوك چي دَ ختم نبوت منکروی....(نظم 81

څوك چي دَ ختم نبوت منکروی
هغه دَ دين دَ شريعت منکروی
بي دينه دے هغه سړے دَ جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دَ نبي دَ حق صفت منكروي
نۀ ئې روژه نۀ عبادت قبليږي
چي دَ حضور ﷺ دَ رسالت منكروي
ورته سكون نۀ ملاويږي يو ځائې
څوك چي له ميني محبت منكروي
كافي دي كفر له انكار دَ آيت
چي په دنيا دَ يو آيت منكروي
هغه دي طمع دَ جنت نۀ ساتي
څوك چي مقام نه دَ حضرت ﷺ منكروي
چي نۀ مني دَ پاك اللّٰه كلام
داسي سړي له حقيقت منكروي
بدعت په شوق سره دُنيا كښي كوي
څوك په دنيا چي له سنت منكروي
دَ پو هيدو ئې څۀ علاج نۀ وينم
څوك چي احمده ! هر ساعت منكروي

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

دختم نبوت خبري ښي لګی په ما....( نظم 82)

دَ ختم نبوت خبري ښي لګی په ما
دَ دين دَ شريعت خبري ښي لګی په ما
بُنياد دے دَ اسلام دَ شريعت په هر قدم
دَ ختم نبوت چا اوچت كړے چي عَلَمْ



ثواب دعبادت خبري ښي لګی په ما
دَ ختم نبوت خبري ښي لګی په ما
سپرلي چي راولی په هر چمن كښي دَ دُنيا
دَ ختم نبوت هر يو ګفتار خوږه وينا
دَ دين دَ حفاظت خبري ښي لګی په ما
دَ ختم نبوت خبري ښي لګی په ما
ثابته مسئله چي ده له سلو آياتونو
ليكلي مسئله دغه ده ډيرو كتابونو
تولي دحقيقت خبري ښي لګی په ما
دَ ختم نبوت خبري ښي لګی په ما
پخپله پيغمبر ﷺ ئې اهميت بيانوی
اجماع نه دا ثابت ده له اصحابو رض دَ نبی ﷺ
دَ نُور دَ سعادت خبري ښي لګی په ما
دَ ختم نبوت خبري ښي لګی په ما
احمده! هر بشر له دی منل دغه لازم
لازم دی هر بشر له په حق لاره باندي تلل
مدام دَ نصيحت خبري ښي لګی په ما
دَ ختم نبوت خبري ښي لګی په ما

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

هميشه كار هغه دَ ختم نبوت كړے دے...( نظم 83)

په چا چي فضل پاك اللّٰه ربّ العزت كړے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه کار هغه دَ ختمِ نبوت کړے دے
ورته په دي به ملاویږی دَ محشر سکون
ورته په دي به ملاویږی ښهٔ بهتر سکون
کار ئي دَ قدر همیشه چي هر ساعت کړے دے
په چا چي فضل پاك اللّٰه ربُ العزت کړے دے
سحر ماښام په دغي کار کښي وی مشغوله دلته
پوره تمام په دغي کار کښي وی مشغوله دلته
عمل ئي ښکلي دَ ګټلو دَ جنت کړے دے
په چا چي فضل پاك اللّٰه ربُ العزت کړے دے
په دي عمل باندي قربان دی صحابه رض دَ نبی ﷺ
اعلا اعلا ټول قدردان دی صحابه رض دَ نبی ﷺ
هر یو دَ دین دَ شریعت پوره خدمت کړے دے
په چا چي فضل پاك اللّٰه ربُ العزت کړے دے
ولیانو ټولو امامانو دغه کار کوُلو
ورسره دُوی به جنګ کوُو چا چي انکار کوُلو
هر یو په دوی کښي کار دَ دین دَ حفاظت کړے دے
په چا چي فضل پاك اللّٰه ربُ العزت کړے دے
دَ نیکو خلقو دَ سیرت دَ ژوند حصه دغه ده
محشر دَ پاره په دُنیا لویه توښه دغه ده
هر یو عالم ښهٔ په اخلاص دا عبادت کړے دے
په چا چي فضل پاك اللّٰه ربُ العزت کړے دے



خوند او مزه کوی احمده! چي دا کار کوُمه
په دي عمل سره له کفر نه انکار کوُمه
کار په دنیا دغه اعلا هر خوش قسمت کړے دے
په چا چي فضل پاك اللّٰه ربُ العزت کړے دے
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

نهٔ راځی نبی ﷺ به په حضور ﷺ پسے (نظم 84)
نیشته دے رسول دَ رسولانو په امام ﷺ پسے
نهٔ راځی نبی ﷺ به په نبی خیر الانام ﷺ پسے
دا خبره واوره! ښه په غور سره انسانه
ښهٔ پوره ثابت ده دا خبره له قرآنه
نیشته بل کلام دَ پاك اللّٰه ښکلي کلام پسے
نهٔ راځی نبی ﷺ به په نبی خیر الانام ﷺ پسے
سل دی آیاتونه ښهٔ ښکاره ټول دلیلونه دی
دوه سوه نه زیات په دي خبره حدیثونه دی
نیشته لوئي مقام دَ پاك نبی ﷺ په لوئي مقام پسے
نهٔ راځی نبی ﷺ به په نبی خیر الانام ﷺ پسے
ټول دی صحابه رض په دي خبره متفقه، یَو
ټول دی صحابه رض په دي خبره متحده، یَو
نیشته بل رسول په محمد ﷺ ماهِ تمام پسے
نهٔ راځی نبی ﷺ به په نبی خیر الانام ﷺ پسے
بس دغه کافی دی اے احمده! دلیلونه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس دے بس کافی دی هر بشر له حجتونه تول
نیشته بل یو دین بل شریعت په دین اسلام پسے
نهٔ راځی نبی ﷺ به په نبی خیر الانام ﷺ پسے

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## هله ایمان به دې کامله وی.........( نظم 85)

هله ایمان به دې کامله وی چې دا اُومنے
خاتم النبیین چې سیّدالوریٰ ﷺ اُومنے
صرف په دې نه ده چې تهٔ صرف مونځونه کوے
تسبیح په لاسو کښې ساتې او چې ذکرونه کوے
په تا لازم دی چې ته حق تول خامخا اُومنے
خاتم النبیین چې سیّدالوریٰ ﷺ اُومنے
صرف په دې نه ده چې حج له بیت اللّٰه ته لاړ شے
صرف په دې نهٔ ده چې ځائې له اولیاء ته لاړ شے
لازم په تا دی لوئې مقام چې دَ آقا ﷺ اُومنے
خاتم النبیین چې سیّدالوریٰ ﷺ اُومنے
سل آیاتونه دی منل چې دې ایمان په دې وی
ډیر حدیثونه دی منل چې دې ایمان په دې وی
دَ ایمان جزء چې لازمی دا په دُنیا اُومنے
خاتم النبیین چې سیّدالوریٰ ﷺ اُومنے
منل ددغې دی منل دی دَ اجماع خبره
منل ددغې دی منل دی دَ ربښتیا خبره



شك په کښې مهٔ کوه مدام چې دا هرخوا اُومنے
خاتم النبیین چې سیّدالوریٰ ﷺ اُومنے
منل ددغې دی منل دی دَ اسلام منل
پوره پوره دَ خوږ نبی ﷺ سیرت تمام منل
په دې سره به دَ اسلام هره وینا اُومنے
خاتم النبیین چې سیّدالوریٰ ﷺ اُومنے

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## زده کړه دا په خپل اولاد...............( نظم 86)

زده کړه دا په خپل اولاد
ختم نبوت زنده باد
وایه وایه ښهٔ په شوق
سبق ښایه ښهٔ په شوق
وائی دې شاګرد ، اُستاد
ختم نبوت زنده باد
دَ ژوندوظیفه کړه دا
دَ ژوندون حصه کړه دا
وایه ښه په اعتماد
ختم نبوت زنده باد
عام کړے دا سبق هرخوا
هیر نهٔ کړے هیڅ کله دا
مُرده باد هر یو فساد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم نبوت زنده باد
خوند مزه کوی ډیره
نعره چې وهی ډیره
کور کلی ورسره ښاد
ختم نبوت زنده باد
خوند کړی دَ احمد وینا
پاك له شر حسد وینا
حق پیغام دَ هر آزاد
ختم نبوت زنده باد

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## لَا نَبِیْ بَعْدِیْ فرمان دے دَ نبی ﷺ...(نظم 87)

لَا نَبِیْ بَعْدِیْ فرمان دے دَ نبی ﷺ
صرف مشرکان او کافران دا نۀ منی
ښه واضحه حکم دَ اسلام دے ټولو ته
ښۀ واضحه حکم دا تمام دے ټولو ته
شان او امتیاز دے دَ مکی ﷺ او مدنی ﷺ
لَا نَبِیْ بَعْدِیْ فرمان دے دَ نبی ﷺ
سل دی آیاتونه دلیلونه دَ قرآن
دوه سوه حدیثو کښې موجود دے دا بیان
خوروُل لازم دی دا بیان په اُمتی
لَا نَبِیْ بَعْدِیْ فرمان دے دَ نبی ﷺ



حق دَ صحابه رض په دې خبره ده اجماع
واوُره ښه واضحه معتبره ده اجماع
بره له هر چانه اُوچت شان ډیر لری
لَا نَبِیْ بَعْدِیْ فرمان دے دَ نبی ﷺ
وی به دروغژن چې اُوس دعویٰ دَ نبوت کړی
وی به دروغژن چې اُوس دعویٰ دَ رسالت کړی
حق خبره دلته کښې احمده! ښه قوی
لَا نَبِیْ بَعْدِیْ فرمان دے دَ نبی ﷺ

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## ډیره اهمه دَ اسلام دَ شریعت مسئله.....(نظم 88)

ډیره اهمه دَ اسلام دَ شریعت مسئله
هرخوا دَ ختمِ نبوت مسئله، کوه دَ ختمِ نبوت مسئله
بیانوه دغه هر خواته مدام
بیانوه دغه هرخواته تمام
بیانوه دا دَ اسلام ده دَ عظمت مسئله
هرخوا دَ ختمِ نبوت مسئله، کوه دَ ختمِ نبوت مسئله
بیانوی دغه هم دغه قرآن
ښکاره کوی دَ دې خبرې اعلان
اُوچته ډیره ټوله ده په هر صفت مسئله
هرخوا دَ ختمِ نبوت مسئله، کوه دَ ختمِ نبوت مسئله
بیانوی دغه زمونږه نبی ﷺ
اعلان کوی دَ لَا نَبِیْ بَعْدِیْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



باعث هرچاله په دُنیا ده دَ رحمت مسئله
هرخوا دَ ختمِ نبوت مسئله ، کوه دَ ختمِ نبوت مسئله
بیانوی خواږه یاران دَ نبی ﷺ
اعلان کوی ټول عاشقان دَ نبی ﷺ
احمده ! دغه دَ حضور ﷺ ده دَ سیرت مسئله
هرخوا دَ ختمِ نبوت مسئله ، کوه دَ ختمِ نبوت مسئله

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## څان خبر کړه ښۀ پوره له حق بیانه.....( نظم 89)

څان خبر کړه ښۀ پوره له حق بیانه
وروستو نیشته بل رسول ﷺ له مصطفی ﷺ نه
له قرآنه دا ثابت دی آخری دے
موصوف دي صفت سره زمونږ نبی ﷺ دے
تپوس کولے شے دُنیا کښې علماء نه
وروستو نیشته بل رسول ﷺ له مصطفی ﷺ نه
سل آیاته دی ګواه په دي خبره
له حدیثو ده ثابت متواتره
حق خبره ده واضحه قدردانه
وروستو نیشته بل رسول ﷺ له مصطفی ﷺ نه
په دي شوي ده اجماع دَ ټول اُمت
په دي شوي ده اجماع دَ شریعت
مسئله ښه ده واضحه راروانه



وروستو نیشته بل رسول ﷺ له مصطفی ﷺ نه
بهر نۀ شی له دماغو نه ستا وروره !
راته ګران دے خپل نبی ﷺ له پلاره موره
څان خبر کړه ښۀ پوره له دي انسانه !
وروستو نیشته بل رسول ﷺ له مصطفی ﷺ نه
زۀ احمد منمه دغه حقیقت ټول
کلك ایمان لرم په دغي شریعت ټول
هیره نۀ کړے دا خبره مسلمانه !
وروستو نیشته بل رسول ﷺ له مصطفی ﷺ نه

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## په ختمِ نبوت لره ایمان خامخا.......( نظم 90)

کۀ غواړے کامیابی په هر مکان خامخا
په ختمِ نبوت لره ایمان خامخا
په دي سره انسانه ! دَ ایمان حفاظت کیږی
په دي سره انسانه ! دَ قرآن حفاظت کیږی
یقین ساته په دغي حق بیان خامخا
په ختمِ نبوت لره ایمان خامخا
شامله عقیده کښې دَ اسلام اَولني ده
اهمه مسئلو کښې دَ اسلام ښۀ پخواني ده
خفه کړه په هر موړ لعین شیطان خامخا
په ختمِ نبوت لره ایمان خامخا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاع ئې ده لازم په مسلمان ددې جهان
دفاع ئې ده لازم په خاص او عام په هر مکان
په حق پسې مدام اُوسه روان خامخا
په ختمِ نبوت لره ايمان خامخا
احمده ! هر امام دا مسئله ده بيان کړې
پوره پوره ددغې وضاحت ښه قرآن کړې
ځان بچ کړه له تاوان نه له نقصان خامخا
په ختمِ نبوت لره ايمان خامخا

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

په ختم نبوت چې څوك ايمان نۀ لری......( نظم 91)

په ختم نبوت چې څوك ايمان نۀ لری
بدبخته دَ نجات هغه سامان نه لری
لازم دی دا منل ددې خبرې هم اقرار
لازم دی هر غريب له هر افسر لره اظهار
چې دا خبره نۀ وی حق بيان نۀ لری
په ختم نبوت چې څوك ايمان نۀ لری
منل دغه دی دلته دَ قرآن دَ اياتونو
منل دغه دی دلته دَ حضور ﷺ دَ حديثونو
اقرار صرف منکر ابليس شيطان نۀ لری
په ختم نبوت چې څوك ايمان نۀ لری
دولت ورسره نيشته نۀ دَ دين نۀ دَ اسلام



په ختمِ نبوت چې ايمان نۀ لری تمام
دوستی او تعلق دَ خوږ جانان ﷺ نۀ لری
په ختم نبوت چې څوك ايمان نۀ لری
په هريو نارينه او زنانه منل واجب دی
منل دی ضروری ورله دَ نُور کۀ څوك طالب دی
بې قدره دا زينت په يو مکان نۀ لری
په ختم نبوت چې څوك ايمان نۀ لری
شعرونه ستا دی ښکلی چې اسلام خوروُی دا
رښا احمدعلی ! پوره تمام خوروُی دا
بس دې ته توجو صرف نادان نۀ لری
په ختم نبوت چې څوك ايمان نۀ لری

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

خاتم الانبياء ﷺ، خاتم المرسلين ﷺ...( نظم 92)

خاتم الانبياء ﷺ، خاتم المرسلين ﷺ
بهترين ، بهترين ، اوّلين ، آخرين ﷺ
مزمل مدثر په لقب سره هم
ډير اعلا ښۀ اوچت په نسب سره هم
نازنين بيا زيين دَ ربُّ العالمين
خاتم الانبياء ﷺ، خاتم المرسلين ﷺ
مهربان په جهان ، مهربان په اُمت
عاليشان قدردان ، دغه ټول حقيقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډير حسين ، ډير حسين ، هم صادقه امين ﷺ
خاتم الانبياء ﷺ، خاتم المرسلين ﷺ
مقتدا رهنما دَ هرچا په هرخوا
نور رنړا مصطفیٰ ﷺ، دَ اُمت خير خوا
په سيرت په گفتار لاثانی په يقين
خاتم الانبياء ﷺ، خاتم المرسلين ﷺ
په محشر کښې ساقی دَ اُمت هغه وخت
هغه در کښې ساقی نور رحمت هغه وخت
په هر قول په گفتار له گبين زيات شيرين
خاتم الانبياء ﷺ، خاتم المرسلين ﷺ
په سيرت هم کامل ، په صفت هم کامل
دَ قرآن هر بيان دَ سيرت ئې حاصل
هر حديث ده تشريح دَ قرآن مبين
خاتم الانبياء ﷺ، خاتم المرسلين ﷺ
په محشر کښې شفيع اے احمده ! حضور ﷺ
هر غمژن زړۀ لره هر طرف ته سُرُور
دَ رنځور زړۀ علاج بهترين ښه تسکين
خاتم الانبياء ﷺ، خاتم المرسلين ﷺ

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**په ختم نبوت چې څوك ايمان نۀ لری....(نظم 93)**

په ختم نبوت چې څوك ايمان نۀ لری



په ژوند هغه سکون او اطمينان نۀ لری
په دې سره ده بنده سلسله دَ نبوت
په دې سره ده بنده سلسله دَ رسالت
په دغې چې ايمان نۀ وی هيڅ شان نۀ لری
په ژوند هغه سکون او اطمينان نۀ لری
دعویٰ ئې دَ ايمان نۀ دَ اسلام دلته قبليږی
چې څوك له خپل نبی ﷺ نه په کردار سره بيليږی
هغه مينه په زړۀ کښې دَ جانان ﷺ نۀ لری
په ژوند هغه سکون او اطمينان نۀ لری
هر څوك دې شی خبر له دې نه ښۀ پوره پوره
لازم دی چې خبر شی لوئې وارۀ پوره پوره
چې علم په دُنيا څوك دَ قرآن نۀ لری
په ژوند هغه سکون او اطمينان نۀ لری
په جار وايمه تهولو ته احمدعلی مدام
خبر له دې خبرې کړه دُنيا کښې خاص او عام
تميز چې دَ فائدې او دَ نقصان نۀ لری
په ژوند هغه سکون او اطمينان نۀ لری

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**کوُل دَ ختم نبوت خبره ..............(نظم 94)**

په حقيقت کښې ده دَ دين دَ حفاظت خبره
کوُل دَ ختم نبوت خبره ، کوُل دَ ختم نبوت خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثابته دغه دَ قران له اياتونو نه ده
ثابته ټوله دَ حضور ﷺ له حديثونو نه ده
کامل حصه ده دَ حضور ﷺ دَ پاك سيرت خبره
کوُل دَ ختم نبوت خبره ، کوُل دَ ختمِ نبوت خبره
چې دغه نۀ وی نو ايمان لره وُجود به نۀ وی
چې دغه نۀ وی حق بيان لره وجود به نۀ وی
هر مسلمان دَ پاره ده دَ سعادت خبره
کوُل دَ ختم نبوت خبره ، کوُل دَ ختمِ نبوت خبره
دې سره هر خواته فلاح دَ هر بشر تړلې
دې سره هر خواته فلاح دَ لراوبر تړلې
ښه په اخلاص سره پکار ده هر ساعت خبره
کوُل دَ ختم نبوت خبره ، کوُل دَ ختمِ نبوت خبره
واجب دی دغه چې هر څوك دغه يقين اُولری
ښکلا دُنيا کښې بس هم دغه چې ددين اُولری
لازم واجب دی په هر فرد ددې اُمت خبره
کوُل دَ ختم نبوت خبره ، کوُل دَ ختمِ نبوت خبره
احمده ! دا ده په محشر دَ شفاعت ذريعه
مومنه ! دا ده په هر در دَ مغفرت وسيله
درنه ده ډيره ښه اعلا په هر صفت خبره
کوُل دَ ختم نبوت خبره ، کوُل دَ ختمِ نبوت خبره
دَ پاك حضور ﷺ ده دَ لوئې شان مقام عظمت خبره



مدام دَ ختم نبوت خبره ، مدام دَ ختمِ نبوت خبره
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## کار چې دَ ختمِ نبوت کوی..........( نظم 95)

کار دَ عزت ډير عظمت کوی
کار چې دَ ختمِ نبوت کوی
ورسره مَل په هر مقام وی اَلله
ورسره تل هر خوا مدام وی اَلله
چې په دُنيا دا عبادت کوی
کار چې دَ ختمِ نبوت کوی
ورسره مينه دَ نيکانو به وی
دَ صحابه رض دَ عاشقانو به وی
مينه ورسره پاك حضرت ﷺ کوی
کار چې دَ ختمِ نبوت کوی
زمونږ دَ دين دَ حفاظت ذريعه
دَ کاميابې دَ هر بشر وسيله
پيروُی ټول دَ شريعت کوی
کار چې دَ ختمِ نبوت کوی
احمده ! کار دَ هر هوښياره سړی
کړے دا کار دے هر ديندار سړی
نورانی کار دغه اُمت کوی
کار چې دَ ختمِ نبوت کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کار چې څوك دَ ختم نبوت کوی....( نظم 96)

کار چې څوك دَ ختم نبوت کوی
کار په حقيقت کښې دَ جنت کوی
مينه محبت به ئې په زړۀ کښې وی
مينه دَ حضرت ﷺ به ئې په زړه کښې وی
څوك چې په دُنيا دا عبادت کوی
کار په حقيقت کښې دَ جنت کوی
دا عمل پکار دے هر بشر لره
دا حُسن پکار دے لر او بر لره
کار چې دا کوی کار دَ عزت کوی
کار چې څوك دَ ختم نبوت کوی
هر چا له پکار دے په اخلاص سره
دا تاله پکار دے په اخلاص سره
ډير دے خوش نصيب کار دَ عظمت کوی
کار چې څوك دَ ختم نبوت کوی
دي سره باقی زمونږ دا دين پوره
دي سره دا دين زمونږ حسين پوره
کار دلته هر څوك دا په قسمت کوی
کار چې څوك دَ ختم نبوت کوی
دي سره کامل زمونږ اسلام مذهب
دي سره محفوظ پوره تمام مذهب



تل دَ خپل مذهب به حفاظت کوی
کار چې څوك دَ ختم نبوت کوی
هغه څوك وهی دغه نعره دلته
څوك چې وی کامل په عقيده دلته
کار اعلا صادقه هر ساعت کوی
کار چې څوك دَ ختم نبوت کوی
زۀ احمد په جار وايمه ټولو ته
حق بيان بار بار وايمه ټولو ته
نيك سړي عمل به په سنت کوی
کار چې څوك دَ ختم نبوت کوی

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## دَ ختم نبوت نعره وهمه په هر لور....( نظم 97)

دَ ختم نبوت نعره وهمه په هر لور
بليږی منکرانو باندې دلته کښې به اور
په ختم نبوت باندې زمونږه کلك ايمان دے
چې نه منی څوك دغه نو منکره دے شيطان دے
چې نۀ منی څوك دغه دَ هغه به مخ وی تور
بليږی منکرانو باندې دلته کښې سَم اور
په دې سره صفا به وی زمونږه دغه زړونه
رڼا رڼا به وی زمونږه ټول کورونه
حسين به وی دُنيا کښې دا زمونږه کلې كُور

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلیړی منکرانو باندي دلته کښي به اور
نعره دغه په پټه او په جار کوی ډیر خوند
نعره دغه هرځائي کښي بار بار کوی ډیر خوند
ختمیړی دَ باطل هریو اثر ورسره شور
بلیړی منکرانو باندي دلته کښي سَم اور
اهمه مسئله دغه ثابته له قرآن ده
ثابته په دُنیا کښي له نبی اخرزمان ﷺ ده
آگاه له دي خبري کړه خپل پلار او مور او ورور
بلیړی منکرانو باندي دلته کښي سَم اور
احمدعلی هرچاته ورکوی دَ حق دعوت
هرځائي بیانوی په هرطرف ټول حقیقت
په دي سره بچ کیږی په محشر به له پیغور
بلیړی منکرانو باندي دلته کښي به اور

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

راله یو نظم تهٔ دَ ختم نبوت اُولیکه.. ........( نظم 98)

شاعره اُولیکه په مینه محبت اُولیکه
راله یو نظم تهٔ دَ ختم نبوت اُولیکه
تاله به داوی په محشر کښي دَ عزت سبب
تاله به داوی لر او بر کښي دَ عزت سبب
ښه په اخلاص دَ عبادت دلته په نیت اُولیکه
راله یو نظم تهٔ دَ ختم نبوت اُولیکه



تاله توښه دَ آخرت به وی دُنیا کښي دغه
تاله باعث دَ سعادت به وی عقبیٰ کښي دغه
ښکلي یو نظم دَ نبی ﷺ په رسالت اُولیکه
راله یو نظم تهٔ دَ ختم نبوت اُولیکه
ستا به نصیب شی شفاعت په دي عمل دَ نبی ﷺ
ستا به نصیب شی هر نعمت په دي عمل دَ نبی ﷺ
اُولیکه ښهٔ ښکلي دَ پاك نبی ﷺ صفت اُولیکه
راله یو نظم تهٔ دَ ختم نبوت اُولیکه
ډیر په قسمت سره احمده! دغه لیك کوی ټول
فضل رحمت سره احمده! دغه لیك کوی ټول
ښه په ادب هریو جمله دَ پاك سیرت اُولیکه
راله یو نظم تهٔ دَ ختم نبوت اُولیکه

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

حق دے حق بیان دے............( نظم 99)

حق دے حق بیان دے
ختم نبوت زنده باد
ښه واضح اعلان دے
ختم نبوت زنده باد
دا زمونږ په زړونو کښي
گل دے په گلونو کښي
حُسن چمنونو کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل یو دَ ریحان دے
ختم نبوت زنده باد
دا په آیاتونو کښې
شته په حدیثونو کښې
شته په کتابونو کښې
حق مفهوم عیان دے
ختم نبوت زنده باد
زار له دې نعرې نه شم
زار ئې تذکرې نه شم
زار دې مسئلې نه شم
حق سکون امان دے
ختم نبوت زنده باد
ښه ښکلې مسلك مې دے
حق مسلك بیشك مې دے
ښه یقین دا کلك مې دے
نور رڼا ایمان دے
ختم نبوت زنده باد
حق احمده! ستا بیان
دا دَ اولیاء بیان
دا دَ علماء بیان
دَ خوږ نبی ﷺ شان دے



ختم نبوت زنده باد

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## محنت دَ ختمِ نبوت به کوُو.......( نظم 100)

ښه په اخلاص سره خدمت به کوُو
محنت دَ ختمِ نبوت به کوُو
په محنتونو کښې محنت ښۀ اعلا
مقام لری اوچت ښۀ اعلا
کار دَ نبی ﷺ دَ رسالت به کوُو
محنت دَ ختمِ نبوت به کوُو
په دې خفه هر یو شیطان زمونږ نه
په دې خفه غلط انسان زمونږ نه
کار دا عظیم ډیر دَ عزت به کوُو
محنت دَ ختمِ نبوت به کوُو
ښُکلا دَ دین دَ شریعت زمونږه
بقا دَ دین په حقیقت زمونږه
په شوق سره دا عبادت به کوُو
محنت دَ ختمِ نبوت به کوُو
خوښ دَ نیکانو اولیاء دا عمل
خوښ په هر خوا دَ علماء دا عمل
قدر ددغې لوئې دولت به کوُو
محنت دَ ختمِ نبوت به کوُو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادان په دي خبرو ځۀ پوهیږی
هوښیار چي وی احمده! ښۀ پوهیږی
کار دَ ثواب دَ شریعت به کوُو
محنت دَ ختمِ نبوت به کوُو

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## وایم وایم دا په جار ............(نظم 101)

وایم وایم دا په جار
ختم نبوت زنده باد
وایم وایم بار بار
ختم نبوت زنده باد
دا دے دَ ثواب عمل
دا دے لاجواب عمل
ډیر ښۀ بې حساب عمل
مدام تل دَ حق اظهار
ختم نبوت زنده باد
وایم وایم بار بار
ختم نبوت زنده باد
مینه مینه ټوله دا
مینه مینه دا وفا
دا ښُکلا ده دا رڼا
په هریو باطل ګوزار



ختم نبوت زنده باد
وایم وایم بار بار
ختم نبوت زنده باد
ښه عمل دَ هر مکان
دروند عمل دَ مسلمان
دا عمل دے عالیشان
حق حُسن ښکلا انوار
ختم نبوت زنده باد
وایم وایم بار بار
ختم نبوت زنده باد
حق ښکلي نعره دَ حق
اعلا تذکره دَ حق
دَ محشر توښه دَ حق
سم شیرین ګین ګفتار
ختم نبوت زنده باد
وایم وایم بار بار
ختم نبوت زنده باد
دا ثابت له پاك نبی ﷺ
کار وینا دَ هر ولی
وینا دَ احمدعلی
دروند ګواز دے په اغیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم نبوت ژنده باد
وایم وایم بار بار
ختم نبوت ژنده باد

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**هرخواته رحمتونه دی............( نظم 102)**

هرخواته رحمتونه دی هرخواته دے برکت
دَ ختم نبوت ، دَ ختم نبوت
کوُو دَ خپلي پاکي عقیدي به حفاظت
دَ ختم نبوت ، دَ ختم نبوت
دَ ختم نبوت اعلا ښهٔ عقیده ده
دَ ختم نبوت بالا ښهٔ عقیده ده
ورسره بنده شوي سلسله دَ رسالت
دَ ختم نبوت ، دَ ختم نبوت
اعلا په عقیدو کښي عقیده ده حقیقت
دَ ختم نبوت ،دَ ختم نبوت
دا حُسن او ښُکلا ده ،زمونږه دَ آقا ﷺ ده
هر خواته په دُنیا کښي ورسره نور رڼا ده
ثانی په جهان نهٔ لری عظیم الشان دولت
دَ ختم نبوت ، دَ ختم نبوت
باقی ورسره دین دے باقی دی ټول احکام
حسین ورسره دین دے بقا ده دَ اسلام



په سر سیورے د رحم وکرم دے ددې اُمت
دَ ختم نبوت ، دَ ختم نبوت
قرأن کښي دي راغلے دَ رب ښکاره فرمان
احمده ! ښهٔ خبر کړهٔ له دي نه مسلمان
منکره ئي کافر دے هرطرف ته هرساعت
دَ ختم نبوت ، دَ ختم نبوت

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے....( نظم 103)**

ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
نُور دَ رسالت په خوږ نبی ﷺ باندي تمام دے
دغه عقیده لره په دي باندي یقین ساته
دا ښُکلا هر ځائي کښي هرطرف ته دَ خپل دین ساته
اٰخیری نبی ﷺ زمونږ حضرت خیر الانام ﷺ دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
نیشته په کښي شك دَ شك نه پاکه عقیده ده دا
ښهٔ اعلا اعلا زمونږ د دین اعلا حصه ده دا
لویه مرتبه ئي ده ښه لوئي ئي ډیر مقام دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
دغه ده ثابته ښهٔ ښکاره دَ رب قرآن نه
ښه پوره ثابته ده بیشکه حق بیان نه
ښهٔ خبر له دي نه په دُنیا کښي خاص او عام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
دوه سوه حديثه دی راغلی په دې باب کښې
دا هر خوا اليدلی طالبانو په کتاب کښې
هر حديث دَ پاك نبی ﷺ راوړے حق پيغام دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
دا خبره دلته کښې هر خوا ته ښۀ په جار کوُم
حق خبره هر چاته په شوق سره بار بار کوُم
حق دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ هر يو کلام دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په امام ﷺ دے
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## ختم نبوت عقيده..............( نظم 104)

ښکلې ده خائسته ده ښۀ اعلا په هر صفت عقيده
ختم نبوت عقيده ، ختمِ نبوت عقيده
ځکه چې په دې سره باقی به دا اسلام وی
ځکه چې په دې سره باقی به حق احکام وی
ښکلې دَ اسلام ده بنيادی دَ عمارت عقيده
ختم نبوت عقيده ، ختمِ نبوت عقيده
دې سره ده بنده سلسله دَ نبوت پوره
دې سره ده بنده سلسله دَ رسالت پوره
دين به وی باقی چې ښۀ پوره وی سلامت عقيده
ختم نبوت عقيده ، ختمِ نبوت عقيده



دې سره په هر طرف رڼا رڼا ده عام
دې سره ښوری دی رڼاګانې دَ اسلام تمام
ډيره ده اهمه دَ نبی ﷺ دَ رسالت عقيده
ختم نبوت عقيده ، ختمِ نبوت عقيده
دې سره آباده دا دُنيا دا هر يو کلے دے
اوُګوره حديثو کښې ئې ذکر ډير راغلے دے
څنګه چې ثابت ده له قرآن نه دَ ايت عقيده
ختم نبوت عقيده ، ختمِ نبوت عقيده
ما احمدعلی دا له اوله ښه منلے ده
دا په عقيدو کښې دَ اسلام هر چا اليکلے ده
مونږ له ره توښه په دې دُنيا دَ اخرت عقيده
ختم نبوت عقيده ، ختمِ نبوت عقيده
غواړی قربانی رانه دُنيا کښې هر ساعت عقيده
ختم نبوت عقيده ، ختمِ نبوت عقيده
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## په حضور ﷺ ختم نبوت دے......( نظم 105)

اعلا اعلا صفت دے
په حضور ﷺ ختم نبوت دے
رڼا رڼا ده دَ هر لور
بقا دَ دين خائسته دَ کور
اعلان دَ پاك رب العزت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حضور ﷺ ختم نبوت دے

ثابت له ډيرو آياتونو

ثابت بيان له حديثونو

شرف دَ نبی ﷺ دے فضيلت دے

په حضور ﷺ ختم نبوت دے

داعقيده وه دَ صديق رض

دَ غارِ ثور دَ ښه رفيق

بنياد دَ دين دَ شريعت دے

په حضور ﷺ ختم نبوت دے

عمر رض په جار دغه منلے

هر يو دين دار دغه منلے

بيان دَ نور دَ رسالت دے

په حضور ﷺ ختم نبوت دے

دَ عثمان رض دغه عقيده وه

خوښه دَ دين ئي هر حصه وه

عزت عزت دے ټول عزت دے

په حضور ﷺ ختم نبوت دے

مئيين په دي حضرت علی رض وو

امام هغه دَ هر ولی وو

كار دَ نبی ﷺ اُوس دَ اُمت دے

په حضور ﷺ ختم نبوت دے



واضح حجه ستا بيان احمده!

اعلا اعلا اعلان احمده!

ورپسے وروستو خلافت دے

په حضور ﷺ ختم نبوت دے

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

دَ نبوت په حضور ﷺ بنده دروازه ده.....(نظم 106)

دَ نبوت په حضور ﷺ بنده دروازه ده

دَ رب دا فيصله ده ، شك نيشته دے په دي كښي

دا دَ حضور ﷺ اعلا صفت دے

امر ښكاره دَ شريعت دے

سبب محشر كښي دَ جنت دے

لكه دَ مشك او دَ عنبر ئي تذكره ده

دَ رب دا فيصله ده ، شك نيشته دے په دي كښي

وينا اعلا ښه بهترين ده

خبره كلك كه دَ يقين ده

خوږه وينا ښكلي حسين ده

تل تر قيامته پوري بنده سلسله ده

دَ رب دا فيصله ده ، شك نيشته دے په دي كښي

دين له بقا په دي جهان ده

بقا زمونږه دَ ايمان ده

مسئله دغه دَ قرآن ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سورت حجرات کښې ذکر شوې مسئله ده
دَربّ دا فیصله ده ، شك نیشته دے په دې کښې
په دې ایمان دَ هر ولی وو
یقین دَ هریو صحابی رض وو
هریو په دوی کښې جنتی وو
سمه دَ حُسن لا ثانی یو ګلدسته ده
دَربّ دا فیصله ده ، شك نیشته دے په دې کښې
دا دَ احمدعلی اشعار دی
دَ خوند نه ډك دی مزیدار دی
تاله لوستل یو ځل پکار دی
بیا راته ووایه چې څومره ئې مزه ده
دَربّ دا فیصله ده ، شك نیشته دے په دې کښې
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

ختم نبوت په خوږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے.(نظم 107)

ختم نبوت په خوږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
دغه عقیده لرم په دې زمان ایمان دے
وروستو وروره ! نیشته دَ رسول اللّٰه نه پس نبی
دا خبره هرځائې کښې واضحه ده او ښهٔ قوی
ښهٔ واضحه دلته کښې دَ پاك نبی ﷺ فرمان دے
ختم نبوت په خوږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
اٰخیری نبیانو کښې ، په ټولو رسولانو کښې



غوره او بهتر اعلا په ټولو انسانانو کښې
دې باندې دلیل واضحه حکم دَ رحمان دے
ختم نبوت په خوږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
اوس به ترقیامته پورې بل څوك نبی نهٔ راځی
بنده سلسله شوله ، نو څنګ به څوك په څهٔ راځی؟
څوك چې اُوس دعوئ کوی لعینه دے شیطان دے
ختم نبوت په خوږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
دغه مسئله په ترمذی کښې ، بخاری کښې ده
دغه مسئله په حدیثونو ښهٔ قوی کښې ده
دوه سوه حدیثو کښې ښکاره واضح اعلان دے
ختم نبوت په خوږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
اوګوره سورت ورله احزاب دَ ربّ قرآن کښې تهٔ
نیشته په کښې شك احمده ! ستا دغې بیان کښې څهٔ
ځکه چې په دې باندې دلیل دَ ربّ قرآن دے
ختم نبوت په خوږ نبی اٰخرزمان ﷺ دے
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

کار زمونږ دَ ټولو دے دَ ختم نبوت.....(نظم 108)

کار دے په کارونو کښې دَ ټولو نه اُوچت
کار زمونږ دَ ټولو دے دَ ختم نبوت
ښهٔ اعلا دا کار دے په کارونو کښې انسانه!
کار دے دَ ثواب تپوس کوُلے شے له چانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار دے دَ سکون دَ اطمینان ښۀ دَ راحت
کار زمونږ دَ ټولو دے دَ ختم نبوت
کار دَ عالمانو دَ ټولي دے په دنیا کښي
کار دَ صالحانو دَ ټولي دے په دنیا کښي
سر باندي دے سیوري هر بشر له دَ رحمت
کار زمونږ دَ ټولو دے دَ ختم نبوت
دي باندي اصحاب رض دَ پاك نبی ﷺ دی قربان شوی
دي باندي احباب دَ مدنی ﷺ دی قربان شوی
ذکر ئي کوُل دی هر بشر له عبادت
کار زمونږ دَ ټولو دے دَ ختم نبوت
چا چي دغه کار کړي دے هغه عزتمند دے
چا چي دغه کار کړے هغه قدرمند دے
ورسره پکار احمده! هر بشر له محبت
کار زمونږ دَ ټولو دے دَ ختم نبوت
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

ختم نبوت دَ مُرسلانو په سلطان ﷺ دے (نظم 109)

دا مي عقیده ده هم په دي زما ایمان دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په سلطان ﷺ دے
ښۀ ښکلي اعلا عقیده دا په عقیدو کښي ده
عام ځکه نعره دغه په لارو او کوڅو کښي ده
هر یو ځیز په دي سره ددین ښۀ په امان دے



ختم نبوت دَ مُرسلانو په سلطان ﷺ دے
نۀ راځی به دلته تر قیامته بل نبی رسول
مهر دے په ټولو انبیاؤ مدنی ﷺ رسول ﷺ
حق مفهوم معلوم له احادیثو نه عیان دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په سلطان ﷺ دے
بنده تر قیامته پوري حق دا سلسله ده اُوس
جوړه دَ صفاتو دَ حضور ﷺ یو ګلدسته ده اُوس
هر چا له فلاح دَ پاره دي کښي پټ سامان دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په سلطان ﷺ دے
څوك چي تري انکار کوی احمده! ایمان نۀ لری
هغه دَ محشر دَ پاره هیڅ څۀ سامان نۀ لری
دا چي مني هله ښۀ کامله مسلمان دے
ختم نبوت دَ مُرسلانو په سلطان ﷺ دے
☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

دَ ختم نبوت دَ عقیدي شه څوکیدار......( نظم 110)

دَ ختم نبوت دَ عقیدي شه څوکیدار
هر خواته په هر دار .....بیدار اُوسه انسانه!
اودۀ نۀ شے انسانه! همیشه اُوسه تیار
دَ حق سره په لار... مدام اُوسه اے ځوانه!
دا وائی عالمان
نیکان او صالحان

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ تول مشران
په جار تول امامان
روا نۀ دے هيڅ لره له دغي نه انکار
په پټه او په جار .....اے وروره قدردانه!
دَ ختم نبوت دَ عقيدي شه څوکيدار
هرخواته په هردار .....بيدار اُوسه انسانه!
دا کار دے ډير اُوچت
اعلا دے عبادت
دا کار ډير دَ عظمت
کوه دغه محنت
که وائے ځان ته دلته کښي انسانه! تۀ هوښيار
مدام کوه دا کار ......اے دوسته مهربانه!
دَ ختم نبوت دَ عقيدي شه څوکيدار
هرخواته په هردار .....بيدار اُوسه انسانه!
سبب دے هر جنت له
سکون لره راحت له
دُنيا کښي هر نعمت له
راشه دغي دولت له
موندلي دے هرچا په کښي دَ زړونو خپل قرار
عمل دے حُسندار...ثابت دے له قرانه
دَ ختم نبوت دَ عقيدي شه څوکيدار



هرخواته په هردار .....بيدار اُوسه انسانه!
فرمان دَ پاك نبی ﷺ دے
اعلان دَ پاك نبی ﷺ دے
قائل ئي هر ولی دے
قائل ئي نورانی دے
دَلَا نَبِیَّ بَعْدِیْ نه هرڅوك کړۀ خبردار
مُخلص شۀ وفادار ......اے خوږه په ماګرانه!
دَ ختم نبوت دَ عقيدي شه څوکيدار
هرخواته په هردار .....بيدار اُوسه انسانه!
دا کار دَ علماء دے
دَ ټولو اولياء دے
عمل دَ هر دانا دے
عمل زما او ستا دے
هر وختي هر بشر له دے پکار دغه ګفتار
احمده! بار بار .....اے وروره مسلمانه!
دَ ختم نبوت دَ عقيدي شه څوکيدار
هرخواته په هردار .....بيدار اُوسه انسانه!

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

## ختم نبوت په خوږ امام دَ امامانو ﷺ دے (نظم 111)

ختم نبوت په خوږ امام دَ امامانو ﷺ دے
خاتم الرُسل هغه امام دَ رسولانو ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاتم الرُسل دے عقيده لرم صفا صفا
خاتم الرُسل دے عقيده لرم رښا رښا
دا بيان هر خواته دَ نيكانو واعظانو دے
ختم نبوت په خوږ امام دَ امامانو ﷺ دے

لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ فرمان دَ پاك نبى ﷺ دے حق
لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ فرمان دَ ابدى دے حق
دا خبر دُنيا كښې دَ صادق دَ صادقانو ﷺ دے
ختم نبوت په خوږ امام دَ امامانو ﷺ دے

شك چې كوى څوك په كښې مؤمنه مسلمان نۀ دے
هغه تابعداره دَ حديث او دَ قرآن نۀ دے
دا مې عقيده ده غوره غوره له نبيانو ﷺ دے
ختم نبوت په خوږ امام دَ امامانو ﷺ دے

حق خبره دا ده دا ثابته له قرآنه ده
ښكلې اے احمده! دا خبره عاليشانه ده
خوښ دغه بيان په هرطرف دَ مؤمنانو دے
ختم نبوت په خوږ امام دَ امامانو ﷺ دے

.................................................

نيشته بل نبى دَ مصطفىٰ ﷺ نه پس...(نظم 112)

نيشته بل نبى دَ مصطفىٰ ﷺ نه پس
نۀ منم رسول رسول الله ﷺ نه پس
اخيرى نبى ﷺ په مُرسلانو كښې



اخير نبى ﷺ دے په نبيانو كښې
نۀ منم هيڅ څوك دَ خپل آقا ﷺ نه پس
نۀ منم رسول رسول الله ﷺ نه پس

هغه تر قيامته پورې دے نبى ﷺ
ورځ تر اخرته پورې دے نبى ﷺ
رب دے راغلے له هر چا نه پس
نۀ منم رسول رسول الله ﷺ نه پس

كلكه په دنيا دا عقيده مې ده
ښه واضحه دغه نظريه مې ده
نۀ منم هيڅ څوك خير الورىٰ نه پس
نۀ منم رسول رسول الله ﷺ نه پس

رب وركړه وركړے اخيرى كتاب
هر يو حرف كښې پټ لرى اجر وثواب
نۀ منم كلام، كلامُ الله نه پس
نۀ منم رسول رسول الله ﷺ نه پس

دا زما ايمان دا عقيده مې ده
دا زما اعلان دا نظريه مې ده
نه منم رښا هغې رښا نه پس
نۀ منم رسول رسول الله ﷺ نه پس

غوره ئې ملګرى دى دوستان ښكلى
سم هغه ملګرى ټول ګُلان ښكلى

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَهـغـوی مـقـام دے انبيـاء نـه پـس
نـهٔ مـنـم رسـول رسـول اللّـه ﷺ نـه پـس
حـق ده حـق ويـنـا دغـه پـه جـار كـوُم
زهٔ احـمـد عـلـی ددې اقـرار كـوُم
نـه مـنـم رهبـر دَ مـصـطـفیٰ ﷺ نـه پـس
نـهٔ مـنـم رسـول رسـول اللّـه ﷺ نـه پـس

................................................................

## دَ ختم نبوت نعره..................(نظم 113)

دَ خـتـم نـبـوت نـعـره وهـمـه دَ ثـواب دَ پـاره
دا بـه وی ډهـال دَ جهـنـم هـريـو عذاب دَ پـاره
دَ ډيرو زيـاتـو قربـانـو تـاريخ پـه دې كښې پټ دے
دَ پـخـوانـو او اُوسنـو تاريخ پـه دې كښې پټ دے
حُسـن ښـكـلا ده دَ هـر كـور كـلـی هر بـاب دَ پـاره
دا بـه وی ډهـال دَ جهـنـم هـريـو عذاب دَ پـاره
مـئيـن پـه دې باندې اصحاب رض دَ پيغمبر ټول وو
مـئيـن پـه دې باندې اصحاب رض ښه معتبر ټول وو
نـهٔ وه نـعره صرف دَ پاك نبی ﷺ اصحاب رض دَ پاره
دا بـه وی ډهـال دَ جهـنـم هـريـو عذاب دَ پـاره
هـريـو عـالـم دغـه نـعره ښـه پـه اخلاص وهلے
ددين خـادم دغـه نـعـره ښـهٔ پـه اخلاص وهلے
ډيـر ښـه عـلاج دے پـه دُنيـا دَ هـر خراب دَ پـاره



دا بـه وی ډهـال دَ جهـنـم هـريـو عـذاب دَ پـاره
مـاشوم بـه هـلـه شـی خبر چې دَ تـاريخ حصـه شی
حالات بـه ښـهٔ شـی ښـهٔ بهتـر چې دَ تاريخ حصه شی
لازم ده څـكـه دَ تـاريـخ ښـكـلې نـصـاب دَ پـاره
دا بـه وی ډهـال دَ جهـنـم هـريـو عـذاب دَ پـاره
كـهٔ دغـه نـهٔ وی نـو دا ديـن بـه بـاقـی پاتې نـهٔ شـی
كـهٔ دغـه وی نـو يـو لـعيـن بـه بـاقـی پاتې نـهٔ شـی
سـاه ده احـمـده ! زمـونـږ ديـن لـره كتـاب دَ پـاره
دا بـه وی ډهـال دَ جهـنـم هـريـو عـذاب دَ پـاره

................................................................

## بيا كانفرنس دَ ختم نبوت دے ............(نظم 114)

بيـا كـانـفـرنـس دَ ختم نبوت دے مسـلـمـانـه!
راشـه ورلـه راشـه ضـرور وروره مسـلـمـانـه!
ستـره اكتـوبـر بـه وی تـاريـخ ورځ دَ اتـوار بـه وی
هـر ځـائې كښې بـه حُسن وی ښُكلا پـه هره لار بـه وی
ښـهٔ يـو سـلسـلـه ده دا لـه مـخكښې راروانـه
راشـه ورلـه راشـه ضـرور وروره مسـلـمـانـه!
ښـه درانـه درانـه ورتـه راغـلـی عـالـمـان بـه وی
ښـهٔ درانـهٔ درانـهٔ ورتـه راغـلـی صـالـحـان بـه وی
دا بـه پـه عيدگـاه كښـې دَ مـردان وی قـدردانـه
راشـه ورلـه راشـه ضـرور وروره مسـلـمـانـه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بــه دَ نیــکــانــو صــالــحــانــو مشري کښي وی

دا بــه دَ درنــو خــلــقــو پوره سرپرستي کښي وی

ځــان پــوره خبــر کــړه مسـلـمــانــه لــه بیــانــه

راشــه ورلــه راشــه ضــرور ورورہ مسلمـانــه!

دي کښــي بیــانــونــه بــه دَ ختم نبوت وی ټول

دي کښي بیانونه به دَ دین دَ شریعت وی ټول

مسئلــه دَ ختــم نبــوت ده عــالیشــانــه

راشــه ورلــه راشــه ضــرور ورورہ مسلمـانــه!

زهٔ احمدعلی ورته له اُوسه ښهٔ تیاریم

زهٔ دَ هریو نیك صالح ملګري دَ حق لاریم

هریو قربانی ته ښهٔ تیار اُوسه اے ځوانه!

راشــه ورلــه راشــه ضــرور ورورہ مسلمـانــه!

---

له ختم نبوت نه منکران دی تباه........(نظم 115)

لــه ختمِ نبــوت نــه منــکران دی تباه

ملګری هرطرف ته دَ شیطان دی تباه

قرآن چي نهٔ مني نو هغه څنګه مسلمان دے؟

ثابت ترینه دَ ختمِ نبوت دا حق بیان دے

منکر په حقیقت کښي قرآن دی تباه

ملګری هرطرف ته دَ شیطان دی تباه

حدیثو نه ثابت دغه اهمه مسئله ده



منلي هر مؤمن دغه اهمه عقیده ده

منکر له دي خبري حق بیان دی تباه

ملګری هرطرف ته دَ شیطان دی تباه

ذلیله او رُسوا به وی دښمن دَ پاك رسول ﷺ

ذلیله په دنیا به وی دښمن دَ پاك رسول ﷺ

هرخواته دَ حضور ﷺ ټول دښمنان دی تباه

ملګری هرطرف ته دَ شیطان دی تباه

لعنت به وی په هغي چا دښمن چي دَ نبی ﷺ وی

احمده! تل لعنت به په دښمن دَ هر ولی وی

دُنیا کښي هرطرف ته ظالمان دی تباه

ملګری هرطرف ته دَ شیطان دی تباه

---

ملګرو! راروان دے بیا کانفرنس دَ اکتوبر..(نظم 116)

ملګرو! راروان دے بیا کانفرنس دَ اکتوبر

ملګرو! خپل ملګري کړے پوره پوره خبر

راځي به ورله بیا ښهٔ ډیر اوچت لوئي عالمان

شریك به په کښي خلق دیندارہ دَ جهان

فضا کښي بیا نعري به وی دَ اَللّٰهُ اَکْبَر

ملګرو! راروان دے بیا کانفرنس دَ اکتوبر

خبري به په کښي وی بس دَ ختمِ نبوت

خبري به په کښي وی دَ حضور ﷺ دَ رسالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



آغاز به ددې کېږی ورځ کښې دغه له سحر
ملګرو ! راروان دے بیا کانفرنس دَ اکتوبر

اهمه مسئله ده دا دَ دین دَ شریعت
نعرې وهو چې مونږه نن دَ ختمِ نبوت
په دې آبِ کوثر به ملاوېږی په محشر
ملګرو ! راروان دے بیا کانفرنس دَ اکتوبر

ایمان لره بنیاد دے دَ ایمان بقا په دې ده
جهان لره بنیاد دے دَ جهان بقا په دې ده
پکار دې چې خبر له دې نه هریو وی بشر
ملګرو ! راروان دے بیا کانفرنس دَ اکتوبر

دا کله دے په کُوم تاریخ چې هیر درنه دا نۀ شی
بغیر له حاضری وروره ! چې تیر درنه دا نۀ شی
کۀ ځان پوره خبروُل غواړے نو اوُګوره پوسټر
ملګرو ! راروان دے بیا کانفرنس دَ اکتوبر

احمدعلی داعی ورته هروخت په هرقدم دے
داعی دَ ښۀ کارونو هرطرف ته په عالَم دے
ښکارېږی دا هرځۀ ورته لری چې څوك نظر
ملګرو ! راروان دے بیا کانفرنس دَ اکتوبر

.................................................

نعره مدام دَ ختمِ نبوت زړۀ له قرار.........(نظم 117)

نعره مدام دَ ختمِ نبوت زړۀ له قرار



وهمه دا نعره به هرطرف ته په هردار
ددین دَ حفاظت دَ پاره دلته کښې مدام
وهمه به نعره دغه هرځائې په هر مقام
د دین دَ حفاظت دَ پاره جوړ دے یو حصار
نعره مدام دَ ختمِ نبوت زړۀ له قرار

دُنیا کښې هر مؤمن په دې نعره باندې مئیین
نعره وهی هغه په عقیده چې وی حسین
په جار وهی نعره چې څوك ددین وی څوکیدار
نعره مدام دَ ختمِ نبوت زړۀ له قرار

ده بنده په دې سره دروازه دَ نبوت
ده بنده په دې سره دروازه دَ رسالت
خاتم النبیین دے محمد خیر الابرار ﷺ
نعره مدام دَ ختمِ نبوت زړۀ له قرار

ثابته مسئله ده ښه واضحه له قرآنه
خبر کړه ځان مؤمنه! په دنیا له حق بیانه
دَ مَلا دَ تِیُر په شان لری په دین کښې تل کردار
نعره مدام دَ ختمِ نبوت زړۀ له قرار

ده خوښه دا نعره دَ هر عالم په هرقدم
دُنیا کښې دَ دُنیا دَ پاره دے روح دَ عالم
ده خوښه دا نعره په هر طرف دَ پر هیزګار
نعره مدام دَ ختمِ نبوت زړۀ له قرار

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره ښۀ واضحه ده اے ګرانه قدردانه!
خبر له حقيقت نه کړه ښۀ ځان اے مسلمانه !
پوهيږی په خبره ستا احمده! ښه هوښيار
نعره مدام دَ ختمِ نبوت زړۀ له قرار

................................................................

ډيره اهمه دَ اسلام دَ شريعت مسئله......( نظم 118)

ډيره اهمه دَ اسلام دَ شريعت مسئله
حقه دَ ختم نبوت مسئله، کوه دَ ختمِ نبوت مسئله
بيانوه دغه هر خواته مدام
بيانوه دغه هرخواته تمام
بيانوه دا دَ اسلام ده دَ عظمت مسئله
حقه دَ ختم نبوت مسئله، کوه دَ ختمِ نبوت مسئله
بيانوی دغه قرآن دَ ربْ
قرآن کښې واوره حق اعلان دَ ربْ
اُوچته ډيره تړوله ده په هر صفت مسئله
حقه دَ ختم نبوت مسئله، کوه دَ ختمِ نبوت مسئله
بيانوی دغه زمونږه نبی ﷺ
اعلان کوی دَ لَا نَبِیْ بَعْدِیْ
باعث هر چا له په دنيا کښې دَ رحمت مسئله
حقه دَ ختم نبوت مسئله، کوه دَ ختمِ نبوت مسئله
بيانوی خواږه ياران دَ نبی ﷺ



اعلان کوی تول عاشقان دَ نبی ﷺ
احمده !دغه ده اهمه دَ سيرت مسئله
حقه دَ ختم نبوت مسئله، حقه دَ ختمِ نبوت مسئله

................................................................

لَا نَبِیْ بَعْدِیْ خبر شه له ګفتاره........( نظم 119)

نۀ راځی نبی ﷺ به وروروستو وروروستو له تاجداره ﷺ
لَا نَبِیْ بَعْدِیْ خبر شه له ګفتاره
حق ريښتيا خبر دَ محمد خير الانام ﷺ دے
دا خبر واضحه دَ دُنيا په هر مقام دے
راشه کۀ تۀ غواړے دَ اسلام شريعت لاره
لَا نَبِیْ بَعْدِیْ خبر شه له ګفتاره
نيشته په کښې شك، بيشکه دا پوره منمه زه
تل په زړه کښې دلته تل په دي يقين ساتمه زه
تۀ منے به دغه کۀ دَ دين ئې تابعداره
لَا نَبِیْ بَعْدِیْ خبر شه له ګفتاره
هر عَالم مُلا دا عقيده مونږ ته ښودلې ده
هر عالم مُلا دا عقيده صفا ليکلې ده
نه منی به دغه چې په زړۀ وی څوك بيماره
لَا نَبِیْ بَعْدِیْ خبر شه له ګفتاره
نورو حديثونو کښې هم ذکر دَ نبی ﷺ شته دے
ستا ورسره مينه اے احمده !قدرتی شته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره منوَره ، ټوله لاره خوشبوداره
لَانَبِيَّ بَعْدِيْ خبر شه له ګفتاره

---

دَ ختم نبوت چي په دُنيا کښي عقيده وی ..( نظم 120)

دَ ختمِ نبوت چي په دنيا کښي عقيده وی
محفوظ به دَ اسلام دَ ښکلي دين هريو حصه وی
دا شان اوا متياز دے دحضور ﷺ په هر قدم
دا شان او امتياز لری حضور نبی اکرم ﷺ
محفوظ به ورسره ټوله دَ دين اسلام قلعه وی
محفوظ به دَ اسلام دَ ښکلي دين هريو حصه وی
محفوظ به هر آيت ورسره وی دحق کتاب
چي نيشته په دنيا کښي ئې ثاني مثال جواب
محفوظ به دَ احکامو داسلام هر فيصله وی
محفوظ به دَ اسلام دَ ښکلي دين هريو حصه وی
محفوظ به هر حديث وی دَ حضور ﷺ ورسره نن
محفوظ به هر حديث وی حق دستور ورسره نن
ترڅو چي په دنيا کښي دَ اسلام اوّل کلمه وی
محفوظ به دَ اسلام دَ ښکلي دين هريو حصه وی
احمده ! ورسره به وی محفوظ ژوند دَ نبی ﷺ
هر قول به وی محفوظ پوره پوره دَ مدنی ﷺ
ترڅو چي دَ شيطان زمونږ نه دلته کښي خطره وی



محفوظ به دَ اسلام دَ ښکلي دين هريو حصه وی

---

ختمِ نبوت باندي ايمان لازم........( نظم 121)

ختمِ نبوت باندي ايمان لازم
دا په هر بشر دے په جهان لازم
بي له دي نه هيڅ څۀ ستا قبليږی نه
بي له دي نه دين دي پاتي کيږی نه
ضروری دے دا په مسلمان لازم
ختمِ نبوت باندي ايمان لازم
دغه دے بنيادَ شريعت زمونږ
دغه دے بُنيادَ هدايت زمونږ
ضروری دے دا په هر انسان لازم
ختمِ نبوت باندي ايمان لازم
دغه ذريعه دَ هر سکون زمونږ
دغه وسيله دَ ښه ژوندون زمونږ
مدام دغه کار دے په جهان لازم
ختمِ نبوت باندي ايمان لازم
بي له دي نه نيشته دَ نجات څۀ لار
اے احمده ! ښۀ په کائنات څه لار
څکه دا يقين دے په هر ځوان لازم
ختمِ نبوت باندي ايمان لازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقیده ختمِ نبوت به مني ..........(نظم 122)

کهٔ تهٔ مؤمن ئي شریعت به مني
عقیده ختمِ نبوت به مني
په دي ایمان زمونږ دَ ټولو دلته
دَورو ، لویو او همځولو دلته
حق مسئله ده حقیقت به مني
کهٔ تهٔ مؤمن ئي شریعت به مني
دَ حجرات سورت په دي ګواه دے
هریو حکم ئي ښهٔ ښکاره صفا دے
فرمان دَ پاك ربُّ العزت به مني
کهٔ تهٔ مؤمن ئي شریعت به مني
سل اٰیاتونو کښې بیان دغه یَو
ډیر حدیثونو کښې بیان دغه یَو
هریو حدیث دَ پاك حضرت ﷺ به مني
کهٔ تهٔ مؤمن ئي شریعت به مني
په دي ولاړ دے دَ اسلام عمارت
دَدي مذهب پوره تمام عمارت
بقا کهٔ غواړے دا صفت به مني
کهٔ تهٔ مؤمن ئي شریعت به مني
دغه تعلیم دَ علماء ټولو ته
احمده ! ته کوے وینا ټولو ته



ددي بیان عزت ، عظمت به مني
کهٔ تهٔ مؤمن ئي شریعت به مني

..........................................................

مینه دَ ختم نبوت په زړهٔ کښې ........(نظم 123)

مینه دَ ختم نبوت په زړهٔ کښې
ساته مؤمنه! هر ساعت په زړهٔ کښې
چې ستا په زړهٔ کښې رڼاګانې راشی
چې ستا په زړهٔ کښې خوشبویانې راشی
مینه ساته دَ شریعت په زړهٔ کښې
مینه دَ ختم نبوت په زړهٔ کښې
چې ستا دَ زړهٔ نه هر خفګان لاړ شی
غم ورسره د هر مکان لاړ شی
مدام ساته دغه نعمت په زړهٔ کښې
مینه دَ ختم نبوت په زړهٔ کښې
چې ستا دَ زړهٔ کوټه آباده تل وی
چې ستا آباد ښکلې دَ زړهٔ محل وی
مدام ساته دا حقیقت په زړهٔ کښې
مینه دَ ختم نبوت په زړهٔ کښې
چې ستا له زړهٔ نه هر شیطان رخصت شي
نصیب به ستا هریو اعلا صفت شي
ساته احمده! محبت په زړهٔ کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه دَ ختم نبوت په زړهٔ کښې

..................................................

ختمِ نبوت ده عقیده.....................(نظم124)

دَ کامیابې زمونږ دَ ټولو وسیله

ختمِ نبوت ده عقیده

کهٔ کامیابي غواړې ځوک

ژوند زندګی غواړې ځوک

کوُل نیکی غواړې ځوک

ختم وُل بدی غواړې ځوک

اعلا اعلا دي عمل ده ذریعه

ختمِ نبوت ده عقیده

یا کهٔ سکون تهٔ غواړې

ښکلې ژوندون کهٔ غواړې

دَ حق لټون کهٔ غواړې

ژوند کښې بدلون کهٔ غواړې

پکار ده دلته وسیله درنه درنه

ختمِ نبوت ده عقیده

دَ حق رڼا طالبه!

اے دَ ښُکلا طالبه!

اے دَ عقبیٰ طالبه!

اے دَ ریښتیا طالبه!



ده بهترینه ښه اعلا درله توښه

ختمِ نبوت ده عقیده

ښکلي اشعار دَ احمد

ښکلي ګفتار دَ احمد

وینا په جار دَ احمد

وینا بار بار دَ احمد

ژوند کښې بدلون لره ده هریوه جمله

ختمِ نبوت ده عقیده

..................................................

په ختمِ نبوت سره سیرت به جوړوُو .......(نظم125)

په ختمِ نبوت سره سیرت به جوړوُو

ژوندون به جوړوُو ، خپل اٰخرت به جوړوُو

دا کار به په اخلاص سره کوُو په هر مقام

دا کار به په اخلاص سره کوُو سحر ماښام

په دي سره ماحول دَ محبت به جوړوُو

ژوندون به جوړوُو ، خپل اٰخرت به جوړوُو

په نیت دَ عبادت به کوُو دلته دا عمل

په نیت دَ سعادت به کوُو دلته دا عمل

روُ روُ رسول ﷺ سره په دي نسبت به جوړوو

ژوندون به جوړوُو ، خپل اٰخرت به جوړوُو

ماحول کښې به په دي سره خوشبو راولو مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرقول کښې به په دې سره خوشبو راولو مونږ
کۀ ربّ ته وی منظوره دا عادت به جوړوُو
ژوندون به جوړوُو، خپل آخرت به جوړوُو
په شوق به کوُو مونږه دغه کار په هر قدم
ماحول به ورسره جوړوُو هر خواته نرم
کردار په دې احمده! خپل اُوچت به جوړوُو
ژوندون به جوړوُو، خپل آخرت به جوړوُو

---

کار چې دَ ختمِ نبوت کوی ثواب ورله دے.( نظم 126)

کار چې دَ ختمِ نبوت کوی ثواب ورله دے
په هر مقام دَ هر عزت هريو خطاب ورله دے
ډير دَ نصيب دی خاوندان چې دغه کار کوی څوك
ډير بدنصيبه په دُنيا دی چې انکار کوی څوك
غواړی کۀ څوك رانه جواب دغه جواب ورله دے
کار چې دَ ختمِ نبوت کوی ثواب ورله دے
ثبوت کۀ غواړے دَ قرآن نه ښه واضح ثابت دی
ثبوت کۀ غواړے دَ جانان ﷺ نه ښه واضح ثابت دی
کافی له هر دليل نه مخکښې حق کتاب ورله دے
کار چې دَ ختمِ نبوت کوی ثواب ورله دے
په دغې کار وو عاشقان ټول صحابه رض دَ نبی ﷺ
ملګرې ټول وو دَ جانان ﷺ ټول صحابه رض دَ نبی ﷺ
عزت هر ځائې کښې په هر موړ په هريو باب ورله دے



کار چې دَ ختمِ نبوت کوی ثواب ورله دے
تا په شعرونو کښې احمده! حق پيغام ليکلې
مضمون دَ ختمِ نبوت دے ښه تمام ليکلې
نظم دا ښکلې ډير بيحده بې حساب ورله دے
کار چې دَ ختمِ نبوت کوی ثواب ورله دے

---

خدمت دَ ختمِ نبوت اوکړه جنت اُوګټه...( نظم 127)

خدمت دَ ختمِ نبوت اوکړه جنت اُوګټه
رضا په دې سره دَ پاك ربُّ العزت اُوګټه
ټول خادمان ددغې کار دلته خوشحاله ګرځی
چې خدمت نۀ کوی ددين هغوی بد حاله ګرځی
خدمت دَ دين کوه په دې سره راحت اُوګټه
خدمت دَ ختمِ نبوت اوکړه جنت اُوګټه
خادمان ټول دَ دغې کار دی معززه خلق
عاشقان ټول ددغې کار دی معززه خلق
راشه په دې عمل سره هريو عزت اُوګټه
خدمت دَ ختمِ نبوت اوکړه جنت اُوګټه
دُومره ګران نۀ دے بس څه لږه قربانی غواړی دا
دُومره ګران نۀ ستا دَ ژوند وخت قيمتی غواړی دا
ثواب په دې سره ډير ډير لږ په محنت اُوګټه
خدمت دَ ختمِ نبوت اوکړه جنت اُوګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يو نعمت به درله درکړی پاك اللّٰه دلته کښې
هر يو صفت به درله درکړی پاك اللّٰه هلته کښې
خواری احمده! کوه لوئې مقام اوچت اُوګتِه
خدمت دَ ختمِ نبوت اوکړه جنت اُوګتِه

----------------------------------------------------------------

څوك چې دَ ختمِ نبوت دفاع کوُلے نۀشی..( نظم 128)

څوك چې دَ ختمِ نبوت دفاع کوُلے نۀشی
هغه دَ دين دَ شريعت دفاع کوُلے نۀ شی
دا عقيده ده چې اسلام په دې محفوظه زمونږ
اعلا اعلا دَ ربّ کلام په دې محفوظه زمونږ
چې دَ نبی ﷺ دَ رسالت دفاع کوُلے شی
هغه دَ دين دَ شريعت دفاع کوُلے نۀ شی
دې سره دلته کښې محفوظ دی حديثونه حق
د پاك رسول ﷺ دَ پاك سيرت يادونه حق
چې څوك ددغې پاك سيرت دفاع کوُلے نۀ شی
هغه دَ دين دَ شريعت دفاع کوُلے نۀ شی
محفوظ په دې سره کلمه دَ پاك نبی ﷺ دلته ده
محفوظ په دې سره کله زمونږ باقی دلته ده
چې دَ بنياد څوك حفاظت دفاع کوُلے نۀشی
هغه دَ دين دَ شريعت دفاع کوُلے نۀ شی
حق درته وايمه اهمه مسئله دغه ده



وائې احمد على محشر لره اتوښه دغه ده
چې دَ توښې دغې دولت دفاع کوُلے نۀ شی
هغه دَ دين دَ شريعت دفاع کوُلے نۀ شی

----------------------------------------------------------------

په خدمت دَ ختم نبوت حَسِيُن قوی يمه ......( نظم 129)

په خدمت دَ ختم نبوت حَسِيُن قوی يمه
زۀ يو اُمتی يمه، زۀ يو اُمتی يمه
زۀ په دغې کار باندې خوشحاله قدرتی يمه
زۀ يو اُمتی يمه، زۀ يو اُمتی يمه
عشق کښې ګرفتار دَ پاك نبی دَ مدنی ﷺ يمه
زۀ يو اُمتی يمه، زۀ يو اُمتی يمه
مينه پوره زړۀ کښې دحمٰن په دې دُنيا لرم
مينه پوره زړۀ کښې دجانان ښکلې آقا ﷺ لرم
دَ مولیٰ په هر يو حکم ښۀ پوره راضی يمه
زۀ يو اُمتی يمه، زۀ يو اُمتی يمه
زۀ په دې عمل سره پوره ټول نورانی يمه
زۀ يو اُمتی يمه، زۀ يو اُمتی يمه
کار دَ شريعت کوُمه، زۀ دغه خدمت کوُم
مينه محبت کوُمه ،زۀ دا هر ساعت کوُم
کار دَ اوليا کوُمه دوست دَ هر ولی يمه
زۀ يو اُمتی يمه، زۀ يو اُمتی يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ روان په لار د هدايت دَقريشي ﷺ يمه
زهٔ يو اُمتي يمه، زهٔ يو اُمتي يمه

نهٔ منم شيطان ، نهٔ دَ شيطان زهٔ ملګرتيا کوُم
ربَ چې زما غواړي راته ، هغه په دنيا کوُم

کار هم دَ دعوت کوُمه ، ځکه تبليغي يمه
زهٔ يو اُمتي يمه، زهٔ يو اُمتي يمه

کار دَ پيغمبر ﷺ کوُمه ځکه صفتي يمه
زهٔ يو اُمتي يمه، زهٔ يو اُمتي يمه

زهٔ به هر بشر سره کوُم هرخوا نيکي دلته
داسې دغه ژوند به تيروُم احمدعلي دلته

زهٔ په تن کمزورې په صورت يو مولوي يمه
زهٔ يو اُمتي يمه، زهٔ يو اُمتي يمه

لار ب‌اندې روان يم دَ نبي ﷺ محمدي يمه
زهٔ يو اُمتي يمه، زهٔ يو اُمتي يمه

..................................................................

**دَ ختمِ نبوت نه چې انسان کله منکرشي .....( نظم 130)**

دَ ختمِ نبوت نه چې انسان کله منکرشي
اسلام نه هغه وخت پوره پوره بهر شي

منکره به ذليله هرطرف ته په دنيا وي
بې يار ومددګار به وي هرخوا ته به رُسوا وي

ډيرلوئې دے منافقه په دهو که کښې چې ماهرشي



دَ ختمِ نبوت نه چې انسان کله منکرشي
هم ستا هغه دښمن دے ، دَ هرچا هغه دښمن دے

ځکه چې دَ مولا ، دَ مصطفیٰ ﷺ هغه دښمن دے
دښمن به دَ خپل کور شي ، هم دښمن به دَ باهر شي

دَ ختمِ نبوت نه چې انسان کله منکرشي
انجام به ئې ښهٔ نه وي ، ددُنيا په هرقدم

احمده! سرګردان به وي هرخوا ته په عالم
هرڅومره کهٔ خوشحاله په صورت که په ظاهرشي

دَ ختمِ نبوت نه چې انسان کله منکرشي

..................................................................

**عقيده دَ ختمِ نبوت لرم............... ...( نظم 131)**

دين لرم ، ژوندون لرم ،غيرت لرم
عقيده دَ ختمِ نبوت لرم

بل به تا ته څهٔ ووايم دلته کښې
نور به چا ته څهٔ ووايم دلته کښې

شکر دے دَ ښهٔ خلقو صحبت لرم
عقيده دَ ختمِ نبوت لرم

دې باندې شکر دَ پاك اللّٰه مدام
دې باندې شکر اُوباسم زهٔ تمام

ښکلې عادتونو کښې عادت لرم
عقيده دَ ختمِ نبوت لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي سره سکون زمونږه زړونو کښي
دي سره سکون زمونږ کورونو کښي
ژوند کښي قدر مند دا عبادت لرم
عقيده دَ ختمِ نبوت لرم
زهٔ احمدعلى! خلقو ته داوايم
سبق دَ اسلام ورته اعلىٰ ښايم
لاثاني په ژوند عظيم دولت لرم
عقيده دَ ختمِ نبوت لرم

.........................................................................

عقيده دَ ختمِ نبوت لرم.............. .....(نظم132)

ذکر دَ ختمِ نبوت کوه ايمان تازه کړه
ورسره مينه محبت کوه ايمان تازه کړه
په شوق سره ښهٔ په اخلاص سره دا کار کوهٔ ته
خدمت دَ ختم نبوت وروه ! په جار کوهٔ ته
مدام دَ پاك نبي ﷺ صفت کوه ايمان تازه کړه
ذکر دغي په قرآن کښي په جهان راغلے
بيان دَ ختمِ نبوت ښکاره عيان راغلے
کار دَ اللّه دَ اطاعت کوه ايمان تازه کړه
دَ حجرات سورت گواه په دي خبره ښکاره
گواه غريب دے او که شاه په دي خبره ښکاره
قدر دغي لوئي نعمت کوه ايمان تازه کړه



حديث کښي دَ ذکر د جانان ﷺ شته خوند مزي نه ډك
احمده! ذکر عاليشان شته خوند مزي نه ډك
عمل په پاك ښکلى سيرت کوه ايمان تازه کړه

.........................................................................

زمونږه نبى ﷺ خاتم الانبياء ﷺ دے .......(نظم 133)

زمونږه نبى ﷺ خاتم الانبياء ﷺ دے
هغه رهنما دے، هغه مقتدا دے
هغه مدثر دے، هغه مزمل دے
په هريو صفت ښه پوره دے کامل دے
دَ هريو انسان هم غخوار دے خير خوا دے
هغه رهنما دے، هغه مقتدا دے
هغه اوّلين دے، هغه آخرين دے
صفت ئي صادق دے، صفت ئي امين دے
هغه مصطفىٰ ﷺ دے، هغه مجتبىٰ ﷺ دے
هغه رهنما دے، هغه مقتدا دے
صفت ئي بشير دے، صفت ئي نذير دے
محبوب په دنيا کښي دَ حق دَ خبير دے
هغه ډير اعلا دے، هغه ډير بالا دے
هغه رهنما دے، هغه مقتدا دے
کامل په سيرت دے، کامل په صفت دے
احمده! بيان دغه پاس حقيقت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نُور رنا دے ، حُسن او ښکلا دے
هغه رهنما دے ، هغه مقتدا دے

---

عشق چي دَ ختمِ نبوت وی زړۀ کښي......( نظم134)

عشق چي دَ ختمِ نبوت وی زړۀ کښي
ښه ده چي دغه هر ساعت وی زړۀ کښي
زړۀ کښي سکون ، زړۀ کښي راحت راولی
زړۀ کښي رنا ، نورانيت راولی
دلته کښي دغه په قسمت وی زړۀ کښي
عشق چي دَ ختمِ نبوت وی زړۀ کښي
دَ زړۀ رنځور علاج دوا په دي کښي
دهر يو زړۀ علاج شفا په دي کښي
مومی شفا چي دا صفت وی زړۀ کښي
عشق چي دَ ختمِ نبوت وی زړۀ کښي
زړۀ نه غمونه دَ جهان رخصت کړی
زړۀ نه غمونه دَ انسان رخصت کړی
چي په دُنيا دغه نعمت وی زړۀ کښي
عشق چي دَ ختمِ نبوت وی زړۀ کښي
زيَه ! مدام دے زما زړۀ کښي داوی
راسره دلته کښي دے دا رنا وی
قدر به تل دَ دي دولت وی زړۀ کښي



عشق چي دَ ختمِ نبوت وی زړۀ کښي
احمد زه عشق دَ شريعت سره کړم
خدمت دَ ختمِ نبوت سره کړم
ورسره هر خواته راحت وی زړۀ کښي
عشق چي دَ ختمِ نبوت وی زړۀ کښي

---

زمونږه نبی ﷺ خاتم المُرسلين ﷺ دے....(نظم 135)

زمونږه نبی ﷺ خاتم المُرسلين ﷺ دے
زمونږ دا ايمان دے ، زمونږ دا يقين دے
په دي کښي شك نيشته ، بيشکه بشير دے
په دي کښي شك نيشته ، بيشکه نذير دے
صفت ئي صادق دے ، صفت ئي امين ﷺ دے
زمونږ دا ايمان دے ، زمونږ دا يقين دے
ساقی هغه ذات دے بيشکه محشر کښي
کامل په صفات دے بيشکه محشر کښي
قرآن کښي ياد شوي اعلا بهترين دے
زمونږ دا ايمان دے ، زمونږ دا يقين دے
هر قول ئي اعلا ئي دے خبر شه انسانه!
محبوب دَ الله دے خبر شه انسانه!
گفتار ئي قسم دے حسين دے گبين دے
زمونږ دا ايمان دے ، زمونږ دا يقين دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیان دَ احمد دے ریښتیا دی ریښتیا دی
صفات دَ رسول ﷺ بیان شوی ټول دا دی
اخر اخرین دے ، اوّل اوّلین دے
زمونږ دا ایمان دے ، زمونږ دا یقین دے

..............................................................

ښکلي عقیده چې څوك دَ ختم نبوت لری ..(نظم 136)

ښکلي عقیده چې څوك دَ ختم نبوت لری
هغه به په هر قدم سکون لری راحت لری
دغه زهٔ دعوئ لرم ، صادقه په دعوئ یمه
دغه زهٔ دعوئ لرم ، صادقه په دُنیا یمه
هغه دَ محشر په ورځ به نور لری عزت لری
ښکلي عقیده چې څوك دَ ختم نبوت لری
قُرب به دَ نبی ﷺ لری پوره پوره خبر کړه ځان
ښهٔ به زندګی لری پوره پوره خبر کړه ځان
هغه په محشر به دَ ایمان ښکلي دولت لری
ښکلي عقیده چې څوك دَ ختم نبوت لری
دهٔ لره جنت به وی له دې نه خبردار اُوسه
دهٔ له هر نعمت به وی له دې نه خبردار اُوسه
څوك چې دَ توحید سره ایمان په رسالت لری
ښکلي عقیده چې څوك دَ ختم نبوت لری
دهٔ لره رضا به وی دَ پاك اللّٰه په حشر کښې



دهٔ لره ښکلا به وی دَ پاك اللّٰه په حشر کښې
هغه په دُنیا کښې ژوند اعلا لری عظمت لری
ښکلي عقیده چې څوك دَ ختم نبوت لری
زهٔ مئیین احمدعلی په دغې عقیده یمه
زهٔ مئین احمدعلی ددې په تذکره یمه
هغه دَ ایمان په وجه هر ځائې سراُوچت لری
داسې په دُنیا کښې وایه بل به څهٔ دولت لری
هغه به دَ زړهٔ سکون هر ځائې کښې هر ساعت لری

..............................................................

دا چې ختمِ نبوت دَ محمد ﷺ دے...... ...(نظم 137)

دا چې ختمِ نبوت دَ محمد ﷺ دے
بهترین اعلا صفت دَ محمد ﷺ دے
سلسله ورسره بنده راروانه
دا عزت دغه عظمت دَ محمد ﷺ دے
دروازه ورسره بنده شوه دَ وحی
اخر نور حق رسالت دَ محمد ﷺ دے
دلیل دې بانديې قران کښې ایاتونه
ټول قران اخلاق سیرت دَ محمد ﷺ دے
شته دلَانَبِیْ بَعْدِیْ حق حدیث
هر حدیث کښې نصیحت دَ محمد ﷺ دے
امتیاز او جدا شان دَ پاك نبی ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



امانت كۀ صداقت دَ محمد ﷺ دے
اهميت گوره دَ ختم نبوت
يو ځائي شوي ټول اُمت دَ محمد ﷺ دے
هريو لفظ كښي ستا احمده ! وعظ پروت دے
لاثانی ټول شريعت دَ محمد ﷺ دے

---

ختم نبوت عقيده ښكلي عقيدو كښي......( نظم 138)

ختم نبوت عقيده ښكلي عقيدو كښي
نور دے ، رڼاگاني دی هرخواته په تيرو كښي
بي له دي نه نيشته اهميت دَ يو بشر دلته
بي له دي نه نيشته شريعت په لراو بر دلته
اهم مسئله ده دا اهمه مسئلو كښي
ختم نبوت عقيده ښكلي عقيدو كښي
ډيرو آياتونو كښي راغلے دَ قرآن ده
ښۀ ښكاره واضحه په قرآن كښي دا بيان ده
ډيرو حديثونو كښي راغلي په جهان ده
دغه تۀ ليدي شے دَ قرآن په سپارو كښي
ختم نبوت عقيده ښكلي عقيدو كښي
ډيرو حديثونو كښي بيان دغه موجود دے
ډيرو كتابونو كښي اعلان دغه موجود دے
ښۀ ده چي وی دغه زمونږ دلته په سينو كښي



ختم نبوت عقيده ښكلي عقيدو كښي
وايم په تاكيد سره زۀ هرځائي هرساعت دغه
وايم درته دغه حق پيغام دَ شريعت دغه
عام كړه دا پيغام رڼا په خپلو او پردو كښي
ختم نبوت عقيده ښكلي عقيدو كښي
ډيره ده وزنی احمده ! ډيره قيمتی دغه
ورسره دُنيا كښي كړه حسينه زندگی دغه
نيشته ئي بدل نۀ په لعلونو ، سپينو ، سرو كښي
ختم نبوت عقيده ښكلي عقيدو كښي

---

خاتم المرسلين ﷺ، خاتم الانبياء ﷺ..( نظم 139)

خاتم المرسلين ﷺ، خاتم الانبياء ﷺ
مقتدا مقتدا ،رهنما رهنما
په صادق پيژنی ، په امين پيژنی
په لقب هغه ټول بهترين پيژنی
هر صفت ئي حسين ، هر صفت ئي جدا
خاتم المرسلين ﷺ، خاتم الانبياء ﷺ
دا قرآن ښۀ ښكاره ، دوی نذير ﷺ يادوی
ښۀ ښكاره ، ښۀ ښكاره ، دوی بشير ﷺ يادوُی
په شاهد سره ياد ، هر صفت ئي اعلا
خاتم المرسلين ﷺ، خاتم الانبياء ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر ﷺ دَ عرب ، پیغمبر ﷺ دَ عجم
هر بشر سره دلته شریك په هر غم
مهربان په هرچا ، مصطفیٰ مجتبیٰ ﷺ
خاتم المرسلین ﷺ، خاتم الانبیاء ﷺ

له ګبین زیات شیرین په صفت دلته کښي
په جود ډیر حسین هرساعت دلته کښي
مزمل مدثر ، په قرآن کښي طٰهٰ ﷺ
خاتم المرسلین ﷺ، خاتم الانبیاء ﷺ

دَ محشر په میدان ، شفاعت به کوی
ربّ نه سوال به کوی ، عبادت به کوی
امتی امتی بس کوی به دُعا
خاتم المرسلین ﷺ، خاتم الانبیاء ﷺ

په ساقی دَ کوثر هغه هرخواته یاد
په صفت معلم ، ورته وایو اُستاد
دَ احمد حق وینا ، په دنیا دلته دا
خاتم المرسلین ﷺ، خاتم الانبیاء ﷺ

..............................................................

قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت.......(نظم140)

قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت
ښائسته ښُکلے فقرے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان ترینه قربان ددي جهان زما بدن



قربان ترینه قربان په دي دُنیا هریو چمن
قربان دَ نُور جلوے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت

قربان ترینه قربان ټول آسمانونه دَ جهان
قربان ترینه قربان دا ټول ګلونه دَ جهان
قربان دَ هر نعرے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت

قربان ترینه قربان زما یاران دَ ټول جهان
قربان ترینه قربان دغه یاقوت دغه مرجان
قربان دَ مسئلے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت

بُنیاد دَ هر بُنیاد دے په دُنیا دَ هریو در
علاج دَ هر فساد دے په دُنیا دَ هریو در
قربان هرے جملے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت

یو سل پرے آیاتونه دَ قرآن دی ټول شاهد
دوه سوه حدیثونه دَ جهان دی ټول شاهد
خبریمه له دے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت

احمد علی !قربان ترے په دُنیا کښي په هردر
قربان ترینه قربان شه دَ دُنیا هریو سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربان دَ نُور جلوے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقيدے نه زۀ دَ ختم نبوت

نعره دَ ختم نبوت ده..........................( نظم 141)

نعره دَ نُور او دَ عظمت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره دَ نُور او دَ جمال ده
نعره دَ حال او استقبال ده
رڼا هر ځائے دَ هدايت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره دَ هر يو امتی ده
دا د هر ځۀ نه قيمتی ده
وينا هم دا دَ شريعت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره ده دا دَ صالحانو
دَ لويو لويو عالمانو
نعره قسم دے دَ عزت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره زمونږ دَ هر امام ده
دا دَ خواصو او عوام ده
نعره هر ځائے دَ صداقت ده
نعره دَ ختم نبوت ده



نعره دَ هر يو صحابیؓ ده
دَ عجمی او عربی ده
نعره په جمع دَ امت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره دا دلته دَ احمد ده
نعره زمونږ دَ ابد ده
نعره دا دلته هر ساعت ده
نعره دَ ختم نبوت ده

.............................................................................

قربان دَ هر بيان نه زۀ دَ ختم نبوت..........( نظم 142)

قربان دَ هر بيان نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان زۀ دَ لوئي شان نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان ترينه قربان دی آسمانونه دَ جهان
قربان ترينه قرآن دی چمنونه دَ جهان
قربان دَ حق اعلان نۀ زۀ دَ ختم نبوت
قربان زۀ دَ لوئي شان نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان ترينه قربان دی علماء ددي جهان
قربان ترينه قربان دی اولياء ددي جهان
قربان دَ نُور عرفان نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان زۀ دَ لوئي شان نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان ترينه قربان دے هريو حُسن دَ هر در

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربان ترینه قربان دے هریو حُسن دَ بشر

قربان دَ حق نشان نه زۀ دَ ختم نبوت

قربان زۀ دَ لوئي شان نه زۀ دَ ختم نبوت

قربان ترینه قربان دی ټول اصحابؓ دَ محمد ﷺ

قربان ترینه قربان دی ټول احباب دَ محمد ﷺ

قربان هر مهربان نۀ زۀ دَ ختم نبوت

قربان زۀ دَ لوئي شان نه زۀ دَ ختم نبوت

قربان ترینه قربان شۀ د قلم دغه بیان

احمد علی !قربان شۀ ترینه هرځائے هر مکان

قربان دَ رب احسان نۀ زۀ دَ ختم نبوت

قربان زۀ دَ لوئي شان نه زۀ دَ ختم نبوت

..........................................................................

ختم نبوت زنده باد..................( نظم143)

ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت هم ایمان

ختم نبوت هم بُرهان

دا رنګ دے دَ دین بُنیاد

ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت تاج دَ سر

ختم نبوت نور قمر



دا وینا دَ هر اُستاد

ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت هم طاقت

ختم نبوت هم راحت

دا سکون دَ هر فریاد

ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت دین دُنیا

ختم نبوت حق وینا

دا توښه دَ آدم زاد

ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت هم عزت

ختم نبوت لوئے نسبت

نو نعره ده یو مُراد

ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت هم ګلزار

ختم نبوت هم دستار

دا نعره دَ هر آزاد

ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت هم جمال

ختم نبوت هم کمال

بې له دے دین بې بُنیاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت هم رحمت
ختم نبوت لوئي دولت
مشك عنبر دَ هريو باد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت حق پيغام
ختم نبوت دين اسلام
دا علاج دَ هر فساد
ختم نبوت زنده باد
روح دے دا دَ هر بدن
دا سكون دَ هر يو تن
تا ته دا دے تل وی ياد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت نُور ڼيا
دا ښائست دَ هر فضا
هر يو كور په دي آباد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت هم سحر
يا رڼا روښانه نمر
تل دے ستا وی اعتقاد
ختم نبوت زنده باد



ختم نبوت يو آواز
هم آخر دے هم آغاز
پوخ يقين لكه فولاد
ختم نبوت زنده باد

.........................................................................

كار چي دَ ختمِ نبوت نۀ كوی..........( نظم 144)

كار چي دَ ختمِ نبوت نۀ كوی
هغه دي طمع دَ جنت نۀ كوی
دا دَ جنت ده وسيله په جهان
دَ هر نعمت ده ذريعه په جهان
بيا دي يو كار هم دا ساعت نۀ كوی
هغه دي طمع دَ جنت نۀ كوی
دَ هر سكون نه به محرومه گرځی
ښكلي ژوندون نه به محرومه گرځی
هغه دي طمع دَ راحت نۀ كوی
هغه دي طمع دَ جنت نۀ كوی
هر عبادت له ابتدا دغه ده
هر يو بشر له ره رڼا ده
قدر چي خوك ددي دولت نۀ كوی
هغه دي طمع دَ جنت نۀ كوی
احمد بار بار دا نصيحت كوُمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ نیکي لاري وصیت کوُمه
ډیر دے بدبخت چي دا محنت نهٔ کوی
هغه دي طمع دَ جنت نهٔ کوی

..............................................................

ختم نبوت دلته ........................( نظم 145)

ختم نبوت دلته
دي په پاك حضرت ﷺ دلته
زهٔ دغه اقرار کوُم
دا اقرار په جار کوُم
دا ښکلي گفتار کوُم
دا اعلان بار بار کوُم
دا دے حقیقت دلته
ختم نبوت دلته
دي باندي ایمان زما
اعلان په جهان زما
حُسن دَ مکان زما
حُسن دَ بیان زما
ختم رسالت دلته
ختم نبوت دلته
شك په کښي روا نهٔ دے
خوك شته چي آگاه نهٔ دے



نه اخبار ادنیٰ نهٔ دے
نه اخبار اعلا نهٔ دے
پیغام هر ساعت دلته
ختم نبوت دلته
ښکلي عقیده زمونږ
دا ښهٔ ده توښه زمونږ
ددین ده حصه زمونږ
دا ښهٔ ده توښه زمونږ
احمده ! رحمت دلته
ختم نبوت دلته

..............................................................

نشته دے نشته پس لتانه پیغمبر نبی بل.( نظم 146)

نشته دے نشته پس لتانه پیغمبر نبی بل
نشته دے نشته پس لتانه یو رهبر نبی بل
په نُور کامل په هرصفت سره کامل نبی ئي
نشته دے نشته پس لتانه یو افسر نبی بل
په اولین او آخرین کښي ستا جُدا مقام دے
داسے دُنیا کښي نشته نشته بختور نبی بل
دَ نبوت سلسله تا باندے رب بنده کړله
پیدا به نشي پس لتانه په یو در نبی بل
په کائنات کښي ئي محبوب دَ محبوبانو ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسے بـه نـهٔ وی پـه دُنيـا کښـې يـو رهبـر نبی بل
دَ اوّليـن او آخـريـن دَ سـر ئـې تـاج رسولـه ! ﷺ
نشتـه دے نشتـه سـتـا پشـان عـالی بشـر نبی بل
احـمـد ليـکلـے ئې خلاصـه دَ کائنـات دَ خلقو
نشتـه دے نشتـه کـائنـات کښـې نُور قمر نبی بل

................................................................

ترڅو چې عقيده اعلا دَ ختمِ نبوت وی......(نظم 147)

تـرڅـو چـې عـقيـده اعـلا دَ ختـمِ نبـوت وی
مـحفـوظ بـه شريعت وی تول ، محفوظ به شريعت وی
مـحفـوظ بـه دَ تـوحيد ټـولـې خبرې پـه جهان وی
مـحفـوظ دَ احـاديـث بـه مـلغلرې پـه ښهٔ شان وی
روان چې پـه دُنيـا کښـې هـر طرف تـه دا محنت وی
مـحفـوظ بـه وی قـراٰن عظيـم هـرخوا پـه دې عالَم
وريـــږی رحـمتـونـــه پـــه عـــرب بـــه پـــه عجـم
تـرڅـو چـې ددې قـدر پـه سينـو کښـې دَ اُمت وی
مـحفـوظ بـه ټول سيرت په ښکلې شان دَ پيغمبر ﷺ وی
هر ځائې بـه رڼا ګانې وی هـر ځائې بـه معطّر وی
جـاری چې پـه دُنيـا کښـې دَ اُمت دغـه خدمت وی
احـمـده ! پـه دې سـره حـفـاظت دَ شـريعـت دے
اثـــر دغـــــه دَ ختـــمِ نبـــوت ټـول دَ خـدمــت دے
بـاقـی بـه دلتـه مينـه وی ، هم نور بـه وی غيرت وی

................................................................



دفاع دَ ختمِ نبوت کوُنکے تن نهٔ سوزی ....(نظم 148)

دفـــاع دَ ختـمِ نبـوت کـوُنـکـے تـن نـــهٔ سـوزی
پـه ورځ دَ حشـر بـه دا پاك حسيـن بدن نـهٔ سـوزی
چـرتـه چـې نُور وی دَ اسلام او عـقيـده پـاکـه وی
دا عـقيـده لـرم چې يـو ځائې دا چمـن نـهٔ سـوزی
دَ چـا نسبت وی چې وی حـضـور ﷺ سره آګاه پوره شه
دا عـقيـده لرم چې دا کـس پـه مـدفـن نـهٔ سـوزی
ورتـه هـر خـواتـه بـه مـاحـول د مينې جوړ وی ورورہ!
مـحفـوظ وجـود لـری پـه عشـق دا کفـن نـهٔ سوزی
چـې وی مـئيـن پـــه عـقيـدې دَ رسـالـت احـمـده!
ځـنګ چې صبا نهٔ سوزی ، دغسې دې نن نهٔ سوزی

................................................................

اے پاك رسوله ! ﷺ..........................(نظم 149)

اے پاك رسولـه ! ﷺ ستـا نـه وروستو پيغمبر نشته دے
دا عـقيـده لـرم چې ستـا پـه شان بشـر نشتـه دے
تـهٔ اوّليـن ئـې آخـريـن ئـې پـه دُنيا کښـې نبی ﷺ
دَ هـر بهتـر نـه بهتـرين ئې پـه دُنيا کښـې نبی ﷺ
زهٔ عـقيـده لـرم چـې ستـا پشـان بهتـر نشتـه دے
دا عـقيـده لـرم چې ستـا پـه شان بشـر نشتـه دے
ربّ پـه قراٰن کښـې ستا تعريف کوی ختم الرُسله ! ﷺ
هـم لامـکان کښـې ستا تعريف کوی ختم الرُسله ! ﷺ
وائـمـه ځـکـه سـتـا پـه شـان ښهٔ بختور نشتـه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



داعقیده لرم چې ستا په شان بشر نشته دے
ټولو نبیانو ستا دَ لوئے مقام اقرار کړے دے
ټولو ولیانو ستا دَ لوئے مقام اقرار کړے دے
روښانه ستا په شان دُنیا کښې ښائسته نمر نشته دے
داعقیده لرم چې ستا په شان بشر نشته دے
خپلو پردو ستا دَ مقام اقرار پخپله کړے
دُوی هر سحر سره ماښام اقرار پخپله کړے
ښائسته دُنیا کښې ستا په شان څوك په نظر نشته دے
داعقیده لرم چې ستا په شان بشر نشته دے
ستا لوئي مقام او مرتبے نه ټول جهان خبر دے
احمده ! واوره په دُنیا کښې ټول مردان خبر دے
نشته دے نشته ستا په شان عالی افسر نشته دے
داعقیده لرم چې ستا په شان بشر نشته دے

---

آخیری نبی ﷺ دے ..............( نظم 150)

دَ مُرسلانو په ټولی کښې اٰخیری نبی ﷺ دے.
دَ مُرسلانو په ټولی کښې اٰخیری نبی ﷺ دے
هغه محبوب دَ پاك اللّٰه دے مدنی ﷺ نبی ﷺ دے
دغه عزت دا لوئي مقام دَ محمد عربی ﷺ
اعلا اعلا اُوچت پیغام دَ محمد عربی ﷺ
په هر صفت سره کامله هاشمی ﷺ نبی ﷺ دے



هغه محبوب دَ پاك اللّٰه دے مدنی ﷺ نبی ﷺ دے
نامه ئې دیره ده شیرینه لکه ګبینه زیاته
اُسوۀ ئې ټوله په دنیا کښې ده حسینه زیاته
هریو صفت سره ممتاز دے صفتی نبی ﷺ دے
هغه محبوب دَ پاك اللّٰه دے مدنی ﷺ نبی ﷺ دے
ساقی محشر کښې دَ اُمت هغه اعلا رسول ﷺ
سیورے محشر کښې دَ راحت هغه اعلا رسول ﷺ
نسب ئې پاك دے په نسب دا قریشی نبی ﷺ دے
هغه محبوب دَ پاك اللّٰه دے مدنی ﷺ نبی ﷺ دے
زۀ مداح خوان دَ هغه ذات سحر ماښام دلته کښې
احمد مدام وایم درود په دوی سلام دلته کښې
دوست دَ صدیقؓ ، عمرؓ ، عثمانؓ ، دوست دَ علیؓ نبی دے
هغه محبوب دَ پاك اللّٰه دے مدنی ﷺ نبی ﷺ دے

---

وما توفیقی الا باللّٰه العلی العظیم ......ربّنا تقبّل منّا
انّك انت السّمیع العلیم وتُب علینا انّك انت التّواب
الرحیم ......... ربّنا لك الحمد حمدًا کثیرا .........
..تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وعونه ....وصلی اللّٰه تعالیٰ
علیٰ خیر خلقهٖ محمد واٰله واصحابهٖ اجمعین

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**